# دعوت

## ملي، خپلواکه خپرونه

ISBN 978-82-691395-2-5

د خپل رب د لارې په لوري په حکمت او غوره نصـيحت سره بلنه (دعوت) ورکړه او له خلکو سره په داسې ډول مباحثه وکړه چې ډيره غوره وي. ( سوره النحل ، 125 ايت )

موسس او مسئول چلوونکی:

**محمد طارق بزګر**

د تأسيس نيټه :1367ل،(۱۹۸۸م)

Dawat Media Center,
V/M. Tariq Bazger
Vold gt. 37A, 2000
Lillestrom, Norway
Tel. +47- 63844384
Mobile. +47-90856195
dawatmedia@gmail.com
www.dawatmedia24.com

### ملي سندره

خو چې دا مځکه آسمان وي
خو چې دا جهان ودان وي
خو چې ژوند په دې جهان وي
خو چې پاتې يو افغان وي
تل به دا افغانستان وي
تل دې وي افغان ملت
تل دې وي جمهوريت
تل دې وي ملي وحدت

Vol. 245 Aug. & Oct. 2022

پرله پسې ګڼه ۲۴۵

## ژوند د ناپوهۍ په زندان کې

وړځې په اوونۍ، اوونۍ په مياشتې او مياشتې دا دی په کال واوښتې؛ خو لا هم د ښوونځې د دروازې پرانيستل کېدو کوم ځرک نه لېدل کيږي. افغانستان داسې يو هېواد دی، چې د پرمختګ پر ګام يې پرشاتګ غوره کړی؛ تقريباً درې ميليونه نجونې له زده کړې محرومې دي او دغې برخې کې نيوکو ته لا هم کوم ځواب نه دی ورکړل شوی.

افغانستان په اخرو کلونو کې د ښوونې او روزنې په برخې کې د پام وړ پر مختګ کړی و؛خو بيا هم کوم هدف چې د ښوونې او روزنې مسوولين دراود هغه ته ونه رسېدل. تر ټولو بده پېښه چې د افغانستان تعليمي او تحصلي نظام يې اغېزمن کړ د اګست پنځلسمه پېښه وه، چې حکومت رنګ شو؛ نو د نجونو تعليم همرنګ او د حاکمې دلې لخوا پر نجونو د ښوونځي د تګ بنديز ولګيد.

د تېر حکومت له ړنګېدو او نوې حاکمې دلې له راتګ سره پوازينۍ قرباني د افغانستان لونې ورکړې او لا هم ورکوي. ژمنه وشوه چې نور به ښوونځي نه سوزول کيږي؛ نور به ښوونځي په بمونو نه الوځي؛ نجونو ته به ګواښ نه وي، چې نور ښوونځي ته مه ځه؛ خو بيا يې هم پخپله وعده وفا ونه شو کړای. دوی وښودله چې د اسلام له نوم څخه د خپلو موخو لپاره کار اخلې، ښځه په لومړی ورځ له دفتره وشړل شوه، افغانه ښوونکې له مکتبه وشړل شوه او له هر هغه کسب منع شوه، چې پکې يې حلاله مړی پيدا کوله. تعليمي او تحصيلي مرکزونه لا هم د خونړيو پېښو شاهدان دي.

کله چې له يو انسان څخه دزده کړې حق اخيستل کيږی؛ نو د فکري، عاطفي، پرمختګ او په ټولنې کې د خپلواک او ازاد ژوند کولو حق ترې اخيستل کيږي او دا يو انسان ته د ناهيلۍ ګام دی، چې خپل پرمختګ پر وړاندې دې خنډونه او حتا توري تياري وګوري.

اوسنی عصر د انسان پر کاري ځواک او ګيرکتيا راڅرخي، ننۍ نړۍ کې تعليم د هر انسان لپاره دومره مهم دی لکه اوبه څښل وجود ته. تعليم د اوسني انسان اصل او اساس دی هغه وګړي چې بې تعليمه لوېږي نه يوازې د کورنۍ بلکې د ټولنې بار هم وي.

علم د هر کور ځراغ دی، نجونې دې زده کړې ته پرېښودل شي او حاکم حکومت دې د دغې مظلومې طبقې برخليک د سياسي موخو قربانۍ نه کړي؛ ځکه د نجونو ښوونځې ترلې پاتې کېدل به ډېرې بدې پايلې او حتا د يوې ټولنې دړنګېدو پايله به له ځان سره ولري.



## ښاغلی سميع الله صافی د دعوت سره په مرکه کې:

### افغان ملت دا نه غواړي چې طالب دې لکه وړځ حافظ په ټوله کونډی خېته واچوي!

### (ناروېژي پښتو قاموس) ګوته مې ورته په غاښ شوه!

## په دې ګڼه کې:

- ښاغلی سميع الله صافی د دعوت سره په مرکه کې: افغان ملت دا نه غواړي چې طالب دې لکه وړځ حافظ په ټوله کونډی خېته واچوي ۳-۱۲ مخونه
-مسلمانان او يهودان ۱۳-۱۵
-د امريکا او اسلام اباد زرګري جګړه ۱۶-۱۷ مخونه
-دولت، دموکراسی و اسلامګرايی در افغانستان (۱۸-۲۹) مخونه
-له پوهې سره سليقوي چلند (۳۰-۳۱) مخونه
- د طالبانو د امارت د حتمي سقوط عوامل ۳۲-۳۵ مخونه
-پوهاوی (۳۶-۳۷)
-د خرافات ختمونې له وسيلې يې بېرته د پنځونې هڅې (۳۸-۴۱ مخ)
- نيوکه (۴۲-۴۳) مخونه
- بودا او د درد شکايت (۴۳) مخ
-يادی از بروس ريچاردسن (۴۴-۵۰)

### د ورپښمو کاروان

د دې ګڼې ادبي خبره: ښاغلی ذبيح الله احساس (مرکه) او د هغه د شعر څو نمونې
-هيله هدايي (د رنګونو ملاله)
-هيلې (لينډه کيسه – ليمه ودان
نور ډېر په زړه پورې مطالب

### In English Issue:

Afghanistan Becomes World's 'Least Secure' Country: Report
-Russia's Recruiting Afghan Commandos
-How Western Errors Let the Taliban Win in Afghanistan
-The Taliban's Afghanistan

د دعوت رسنيز مرکز له خوا چاپ شوې کتابونه (۶۱-۶۴) مخونه

**مخ پر وړاندې د خپلواک، سرلوړي، غښتلي، آباد او يو موټي افغانستان په لور**

# دعوت مېډيا د افغان ولس غږ

قدرمنو لوستونکو !

د دعوت رسنيز مرکز وياړي چې د خپلو بېلابېلو رسنيزو فعاليتونو د لپارې د هيواد په دې ټاکونکو او حساسو شيبو کې په ملي افغاني روحيه تر خپله وسه هڅه کوي چې خپلو خلکو ته د خدمت مصدر وګرځي.

د دعوت ملي خپرونه د خاوري تماميت، ملي ګټو او د ملي يووالي د دفاع او ساتنې په مبارزه کې د افغاني پوهانو، عالمانو، ليکوالانو، او روڼفکرانو د پاره د قلمي جهاد پرانيستلی سنګر، هڅه کوي د دعوت درنو لوستونکو ته د هيواد او ولس کورني او بهرني دښمنان وروپېژني او تر ممکن حده د دوی خاينانه دسيسې او توطيې شنډې او خنثی کړي.

په هيواد کې د سولې، ولسواکی، ټولنيز عدالت، وګړيزو حقونو، د مطبوعاتو خپلواکې، د قلم او بيان د ازادي، او ټول افغان ولس ته د ژوندانه د لومړنيو بنستيزو اسانتياو د برابرولو، او په لنډه که ووايو د دموکراتيکو لارو، نه د "زور، زر، او تزوير" د لارې، د افغانانو د غوڅ اکثريت په خوښه د يو غښتلی او منلي مرکزی ملي حکومت د جوړيدو منځ ته راتلل او د هغې ساتل او ملاتړ هغه موخه او هدف دی چې د هغه په رڼا کې د دعوت ملي خپرونه خپله مبارزه او سرښندنه مخ په وړاندې بيائي.

خو!

د دې ځراغ د روښانه ساتلو د پاره د ګرانو لوستونکو مالي، قلمي مرستو او همکاريو ته د هر وخت نه خورا زيات ضرورت دئ، که زموږ د پاليسی او د دعوت د ملي خپروني د محتوا سره موافق ياست نو موږ د دې جوګه کړی چې د دعوت ميډيا خپروني او دعوت خپرونه د نړی او ګران افغانستان ګوټ ګوټ ته ورسوو، او د هغه ناامېده هيوادوالو له پاره د اميد ډيوې روښانه کړو، کوم چې د ډول ډول ناخوالو له امله يې خپل اميد د لاسه ورکړی دی، او داسې چيرته چې افغان وي هلته دعوت وي ياني دا چې ډيرو هيوادوالو ته دعوت ورسيږي او زموږ هڅې به هله بيځايه نه وي چې يو زيات شمير هيوادوالو ته مو دعوت رسولی وي او دې هدف ته رسيدل ستاسو درنو هيوادوالو او د دعوت مينه والو د مالي مرستو پرته ناشوني دي.

زموږ هيله د درنو لوستونکو څخه دا ده چې په دې لاره کې خپلې مرستې ونه سپموئ.

خپلې مالي مرستې په همدې مخ کې په ليکل شوې پته راواستوئ:
د بانک او يا هم د پاکټ په منځ کې د راجستر پوستې د لارې.
يو ځل بيا وايو :

((دعوت ميډيا د افغان ولس پرته د هيواد د هيڅ سياسي ډلې نمايندګي نه کوي او نه د خپلو خلکو پرته د چا پورې تړلې ده. دعوت ميډيا د افغان ولس ريښتينی غږ او د هغو له پاره خپروني کوي څوک چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئوليت احساس کوي. د دعوت د خپلواکو رسنيو مرکز د پخوا نه زيات اوس ستاسو مالي مرستو ته اړتيا لري))

ستاسو نه مخکې له مخکې مننه
د دعوت اداره

## دعوت مېډيا ستاسو او ستاسو له پاره

دعوت چې د ناروې د هيواد نه خپريږي. د افغان ولس پرته د هيواد د هيڅ سياسي او غير سياسي ډلې استازيتوب نه کوي. دعوت د افغان ولس ريښتينی غږ او د هغو له پاره خپريږي څوک چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئوليت احساس کوي. په دعوت کې د خپرو شوو ليکنو مسئوليت د درنو ليکوونکو په غاړه دی او شرط نه دی چې هره ليکنه دې د دعوت د نشراتي پاليسی سره برابره وي.

**DAWAT MEDIA CENTER,**
V/ M. Tariq Bazger,
Voldgt.37A,
2001 Lillestrøm, Norway
Tel. +47-63844384

Mobil: +47-90856195

ISBN: 978-82-691395-2-5

Orgnr (Reg#): 985160058

د انټرنت په نړيواله شبکه‌زموږ دويبپاڼې پته

www.dawatmedia24.com

زموږ د برېښنا ليک پته:

dawatmedia@gmail.com

د دعوت بانکي پته:

DNB Bank AC # 0530 2294668

له ناروې بهر د نړيوالو تادياتو حساب

Account for international payments:
NO15 0530 2294 668

د ويپس شمېره: Vipps: #557320

څنګه کولی شئ د دعوت مېډيا مالي مرسته‌وکړی:

خپلې مرستې (پيسې) د بانک په پته‌راوليږي. د دعوت مالي منبع د افغانستان خلك دي. د دعوت د خپلواکو رسنيو مرکز د فعال ساتلو او د شوو ژمنو د پوره کولو له پاره ستاسو مالي مرستې‌زموږ د برياليتوب او لاښه پرمختګ زيری دی. هر افغان بايد تر خپله وسه د خبرو پرځای د عمل ډګر ته راووځي، خپل مسئوليت احساس او پوره کړي وخت د عمل دی نه د خبرو.

# ښاغلی سمیع الله صافي د دعوت سره په مرکه کې:



**افغان ملت دا نه غواړي چې طالب دې لکه وږئ حافظ په ټوله کوندۍ خېټه واچوي!**

**د سردار له سپین کودتایي جمهوریت نیولې تر روس پرستو، جهاد فروشه ټوپکمارو، غرب زده اقتصادی تالي څټو، ټولو د افغانستان پارلمان هم لکه خپل جنګي غنیمت خپل ترمنځ په فاسد سیاست ویشلی ؤ**

**د دعوت ارزښت په خپلواکۍ، روښانفکرۍ او ملي دریځ ته په درناوۍ کې دئ. هیله ده نور هم وغوړېږي**

پوښتنه - بزګر: د جمهوري نظام د سقوط، د سقوط مسئولیت، د مقاومت/ ټلوالې په نوم له دننه د نظام تخریبوونکی، د دوحې تړون، له افغانستانه د امریکایانو وتل، او د هېواد د راتلونکې په اړه یا د ځپلي افغانستان پېښو ته ستاسو له نظره لنډه کتنه کې که راته دا یوه پوښتنه یا پوښتنې ځواب کړئ مهرباني به مو وي.

سمیع الله صافی: د دعوت له مسئول (بزګر) نه چې په خپله درنه رسنۍ کې یې زما نظر ته هم ځای راکړئ مننه!

بشري ټولنه، که څه هم د انساني ټولنې په اډانه کې ګډ او مشترک ارزښتونه لري؛ خو بیا هم بشري ټولنه د خپلو ځانګړو دود - دستور او ارزښتونو بېله مجموعه ده. دغه ارزښتیزه مجموعه د یوې ځانګړې بشري ټولنې د ملي کلتور (هُویّت) جوړوي، چې د یوه ټاکلي (ملت) په بڼه څرګندېږي. داسې چې د هرې ټولنې د ملي کلتور (هُویت) جوړوي، چې د یو ټاکلي (ملت) په بڼه څرګندېږي. داسې چې د هرې ټولنې (هویتي) ارزښتونه د یو – دوه کُوله یا څو محدودو کالو زیږنده نه وي، وده، الون- بدلون، تغیر یا ورکه یې هم د پېړیو کار دئ.

د ټولنو کلتوري ودښت (تکامل) او اوبدښت (بافت او ترکیب) هم خپل ترمنځ په اغیزمنو راکړو – ورکړو کې پیاوړئ او د مشترکو ارزښتونو په بڼه جوړښت مومي. پدغه کلتوري تعاملاتو او رسم او رواجو کې، هغه ټولنې (ملت) ګټلی او وړې ده او نور یې ځان پسې رابښکلی دي، چې کلتوري ارزښتونه یې غني (شتمن) او د وخت د

غوښتنو سره په ماړه چلن کې، ورځنيو او راتلونکو تقاضاو ته غوره او روښانه ځواب ورکولی وشي.

برعکس هغه ټولنې چې د نورو سره په مراوده کې خپل داسې د انساني ژوندانه له پاره (مشکل کُشا) څه ونه لري چې د نورو له پاره ګټور او د اخيستو وي؛ له انساني ټولنې بېل په انزوا کې ځي. دا انزوا بېله خدايه، بل چا سره نه ښايي!

د نړۍ هغه روسته پاتې (شاته کړلشوې) ټولنې چې د نورو سره په راکړو – ورکړو او اړيکو کې پاتې راغلی اوسي؛ لکه لاسکوځي له نورو يې اخلې. په دغه خيراتي اخيستنه کې ښه، خو ډېر هم بد وي:



ښه يې اقتصادي، تجارتي، پوهنيز، روغتيايي او ټکنالوژيکي هغه اړمنه اخيستنه ده چې له مجبوريته ښه ده. د بېوسه هېوادو سره اوږد مهاله (بنسټيزه مرسته) د پرمختللو لويو ځواکونو د ځانخوښو اهدافو سره په ټکر کې ده.

بد هغه چې ټولنه د ټرونتابه په ايدیالوژيکي، ژبنې، توکمي، تېريستونکي اقتصاد او د راز – راز دسيسو په دام کې داسې ښکيل شي، چې د خپلو لوړو تاريخي او بنسټيز اقتصادي ارزښتونو سره تربګنی کې له ځانه ورک، خپلواک، انتقادي تفکر ماغزه يې شنډ، خپلې ملي ګټې ورته بېګانه او په پايله کې د پرديو په خيراتي آخورو کې په شخوند وي.

زموږ (افغان ټولنه) هم له دغه فورموله بهر نده  پخپلو اوږدو تاريخي پېړيو کې يې د يرغلګرو؛ مقدوني سکندر له ۳۳۰ ق.م نيولې تر عربي، چنګيزي، صفوي، بابري، انګريزي، شوروي او همدا اوس په ۲۱مه پېړۍ کې د امريکې په کومانده د (ناتو) يرغل ګر يې شړلي؛ خو خپله (ملي خپلواکي)، سياسي، اقتصادي او فردي ازادۍ او ارادې ته رسېدل لا څه چې په نس وږي، له عصري جهانبينه زده کړو او انساني سواد محرومه، هم هغسې يو – بل ته محتاج او خوارځواکې پاتې شوېده .... ولې؟

ځکه چې د دښمن په وړاندې (ملي خوديشنده پاخون) تل د دې په ځای چې په ملي شعور او سياسي پوهه سمبال د (ملي مشرتابه) په اګاهانه لارښود اداره او داسې کنترول شي چې له جګړو روسته بشپړه برياء او د سرتېريو پايله يې په سين لاهو نشي؛ شړلشوئ يرغلګر دښمن پدې توانېدلئ چې د خپل تيري په پړاو کې د يله جار بې سربنده افغان له منځه د ځواکمنۍ په سولند خره سواره فرصت طلبه ځانخوښې په ښنبه او له ګڼو لارو ورسره پوځي، اقتصادي، سياسي، عقيدتي، کلتوري استخباراتي او تبليغاتي مرستې وکړي. افغانان خپل ترمنځ  سره په پټه او ښکاره ښکر په ښکر، په نفاق او بې باورۍ کې په مختلفو لارو تس و نس روان کړي او وياړمنې سربښندنې يې د ځان په ګټه د افغان وُلس له ښيګڼې وباسي.

له مداريګريو دغه ورانګارې پېښې، په روان معاصر تاريخ کې وينو:

د شاه امان الله خان په مشرتابه کې د هېواد خپلواکي، ملي آزادي او ښېرازي د انګریز د دسیسو (ګوډ ملا)، (سقاو زوی) او روسته د (نادرخان) د ځانخوښو ړیرورو د جهالت له ناولو کوپړیو ځار شوې.

په دې توګه پوره یوه پېړۍ افغان پرګنې له ملي شعور، سیاسي پوهې او د ځان او جهان له اګاهانه پېژاند څخه ګوښه، په بدوي – زاړه، وراسته او تحمیلي باورونو کې، ماغزه تړلی وساتل شوې او په قوم او خېلباری کې د پیر، شیخ او مُلا په لاړو لامده، له مدني ژوند او عصري زده کړو بې برخې، له ځانه او جهانه په ناخبرۍ کې معجزو ته په تمه پاتې کړل شي.



نو ځکه ونه توانیدې چې د بهرني ځښښاکیزو تېریو او لاسوهنو او هم د داخلي جهالت او وطن پلوریو په وړاندې، یَو موټي افغان (ملت) سره راغونډ او یو (ځواکمن ملي دولت) رامنځته کړي. تر څو هېواد یې د نړیوالو لویو ځواکو (ناتو او وارسا) د سړې جګړې په سیالیو کې هغوی د ګوډاګیو هېوادو د نیابتي جګړو د غوبل ډګر نشي.

خو له بده مرغه د افغان ټولنې برخه لیک، له نیمې پېړۍ راهیسې د لاسوهنو او نیابتي جګړو داسې ډګر ګرځېدلۍ، چې پای یې مالوم نه دئ او ناځوانو نړیوالو بیا دا جګړې د افغان ورونو قومونو ترمنځ خپله جګره تبلیغ کړې ده.

د بُن په ۲۰۰۱ کنفرانس کې مې د څارګر (Superveiser) په توګه ګډون درلود. د روژې (قمتره) میاشت وه، د مانۍ

په منځنۍ حال کې به ناست او کاته به مې چې په پاکستان او ایران کې جوړ شوي (سنيي او شیعه) نازولی استخباراتي – جنګي تنظیمونه به کله چې د دې زړې شاهي مانۍ له ښي خنګ خونو له غرمې مخکې غونډې نه راوتل؛ راساً د مانۍ ګڅ خنګ ته به هره ډله ځوړند غوړونه خپلو ځانګړو روزي رسانانو ته ور روان وو؛ تر څو د خپلو غونډو ګذارشونه خپلو ورتړلو (6+2) چارواکو ته ورکړي او نوې لارښوونې ترلاسه کړي.

دې جګړې مارو ډلو د (کرزی) په نانځک مشرتابه کې چې د نظار شورا، وحدت ګوند او دوستمي جنبش پکې غاوره وو، د کنفرانس هغه د ملګرو ملتو د (امنیت شورا) فیصله لیک:

(Resulution (1378-2001)

Adupted by the security council at its 4415th meeting on 14 November 2001)

چې په پنځمه ماده کې یې راغلی وو:

((موقته واکمني به هغه اشخاصو ته چې د نړیوالو بشري قوانینو مخ یې سرغړونه کړي وي او یا یې د انسانیت په ضد جنایت کړئ وي؛ د عدلي تعقیب څخه نه شي معاف کولئ))

خو له بده مرغه په کابل کې چې د کرزي په نامشروع ټلواله کې د ستار سیرت ۱۳ رایو په وړاندې په غیاب کې ایله یوازې په ۲ رایو (چې یوه یې مشر ورور قیوم کرزي ورکړې وه) د طالبانو، القاعدې او نورو تروورستانو سره د امریکې د مخالفت په تَس کې د B52 په زور بېړنۍ اداره رامنځته شوه؛ د دغه فیصله لیک محتوی یې ډېرانه ته وغورځوله. ځانونه یې خپل تر منځ په معامله کې له هغه

جنایتي غوبل چې پر مظلوم کابل ښاریانو یې تر سره کړئ وو؛ د عدلي پوښتنې په هېر کې وژغورل. دې غاورې ژغورنې ورته په خپل نوي حاکمیت کې د چور – چپاول او جنایاتو نوی د انارشیزم سل کلنه ساء وریه برخه کړه.

آس چې پردئ وي، ک و ن ه یې خپله، که نن یې نه څغلوې، نو کله!

دې خبیثې د انحصار، فاسد سیاست او د ځانخوښۍ په سولند خره سورې ساء، هېواد په شمال او جنوب او (افغان) او (افغانیت) په قومبازیو او د قدرت په مزدور سازو ټاپوګانو وه ویشه. رسمي اداري یې د فساد په کندوانو بدلې کړې. ملي اردو او ملي امنیتي موءسسې یې پخپلو تنظیمي، قومي او سیمه ایزو ډلو ټپلو کې له افغانشموله ملي روحیې څخه بیلې کړې. دې حالت د مرکزي دولت (جمهوریت) او پراخو وولسو او پرګنو ترمنځ داسې ژور واټن رامنځته کړ چې ښایي ۷۰-۸۰ سلنه سیمې او خلک یې د طالبانو ورتلګ ته په لار او یا بې تفاوته کړل.



که په ټولیزه توګه د جمهوري اسلامي دولت د راپرځېدو عواملو ته په لنډو وګورو:

۱/ د افغانستان خلک له پېړیو د بې مسئولیته اولیګاریو حاکمیتو له خوا په ټوله کې په دوه متضاده برخو ویشل شوي دي.

ښاري نسبتاً مدني اقلیت او په بدوي – قبایلي چاپېریال کې له عصري او تجربي زده کړو او مدني ژونده محروم اطرافي اکثریت. دې بشپړه کلیوالي اکثریت چې ماغزه یې د پیر، شیخ او مُلا په پردیپال ذهنیت پوري نور هم ورغوټه شول؛ پر ښارونو د طالب حاکمیت ته لار پرانیسته.

۲/ د دوه سري عبدالله په محوریت کې د یو پاځکي، ټورشوټي (طفیلی) مافیایي فاسد پوړ په رامنځته کولو اساسي قانون ته شا او د درېواړو ولسمشریزو ټاکنو له پایلو انکار، اردو او دولت کمزورئ او بې اعتماده کړ.

۳/ د شر او فساد (نظار شورا) او ورپورې ډلو ټپلو یې د نفاق افګنۍ فاسد سیاست چې د پښتون، افغان او د افغانستان په تاریخي هُویت پسې یې د مسخ کولو او سپکولو بډې راوهلې وې؛ یو شمېر تش په نامه روښان اندي او پخپل هُویت ناباوره عناصر هم په ځان پسې راښکل چې د دولت په تضعیف کې وکارول شول.

۴/ د امریکې او سیمې د استخباراتو پر اوږو بار پاځکئ (طفیلي) قشر او جهاد پلوره مافیایي مشرانو په دولت کې دننه او له دولته بهر په دولت کې د ځواکمنۍ ټوپکسالار ټاپوګان رامنځته کړل. چې دا په ښکاره د طالبانو بېرته راګرځېدو ته جوته لار وه.

۵/ امریکې او ناتو د خپلو جیو پولیټیکو موخو، په تېره د اوکراین په خاطر او د پاکستان د نظامي استخباراتو په همغږۍ په دوحه د طالبانو سره خپل ترمنځ د (د

افغانستان د اسلامي جمهوریت) پر ضد او د افغان ؤلس له سترګو په څنګ داسي د زرګری سولي، له سپکاویو ډک ترون لاسلیک کړ چې د ډاکټر غني په مشرتابه کي مشروع  دولت یې لکه نېزوړۍ د اوبو څګ سره په سین کي لاهو پرېښود.

دي لکه لمر وښوده چې له بُن ۲۰۰۱ رازېږېدلۍ د پوشالي حکومتونو شل کلن پړاو، د افغان ملت له ارادي پرته د امریکايي امپریالیزم ملکیت ؤ. نو خود به یې په یوه ترینګۍ د طالبانو (امارت) ته خالي کاوه.

۶/ موږ د افغانستان تر نامه لاندې په یوه ټاکلي جغرافیه کي د هېواد خاوندان یو؛ خو داسي یو ملت چې په یوه روښانه منطق او ملي ټرمینالوژي معترّف وي؛ نلرو.

پدي ۲۱مه پېړۍ کي اوس هم په خورو ورو دښتو، غرو رغو، کلیو – بانډو او آن په ښارونو کي د میشتو پرګنو ترمنځ د ملي ګټو او ملي ارزښتو په مشترک قاسم هغسي یو موټی دریځ نه لرو؛ کوم چې د مذهب، ایمان، عقېدي، جنت -دوزخ، ثواب- عذاب، اسلام او کفر په محوریت کي شته.

همدغه علت دئ چې: (پر آزادۍ مینو افغانانو) د دښمن له شړلو  روسته هر ځلې د بې هویته مذهبي ټېکه دارانو په لوبه کي خپلې اقتصادي، سیاسي، کلتوري او ټولنیزې ازادیګانې ندي ترلاسه کړې او د چا په خبره، د خپلې آزادۍ غلامان شویدي.

۷/ په پای کي، پداسې شرایطو کي د امریکايي ځواکونو وتل، چې افغان اردو لا لکه منل شوې اردو پخپلو متېو نه وه تکیه او د قومي ملېشو په نفوذ کي رنځېده. له بلې خوا د (ناټو) هغه شل زره لوژیستیکي قراردادنه لغوه شول؛ کوم چې د اردو او په تېره د هوايي ځواکونو ملاتړ یې په غاړه ؤ.



ماته د تیروریزم ټکولو تر نامه لاندې د امریکا او (ناټو) ځواکونو راتلل (چې د تیروریستانو ځاله په پاکستان کي خوندي وه؛ او زره اقدام یې پر وړاندې ونشو) او له شلو کالو روسته پداسې حال کي وتښتېدل چې په افغانستان کي یې پټ او ښکاره هڅه وه؛ د ملت په اراده د ټاکلشوو قوي ملي دولتو مخې ته ډب شي، تر اوسه معما ده؟

دا معماء ده چې د دومره بلواوو او ستونځو په منلو یې د لومړي ځل شړلشوۍ طالب ولې بیا راوست؟

که بل ځواب نه وي، نو پدي به یې وګنم چې؛ خوار، په ناپوهۍ او جهالت کي ساتل شوي بېوسه هېوادونه، د نړیوالي فاسدې سرمایګذارۍ د وسلو د شرکتونو قرباني دي.

پوښتنه - بزګر: د افغانستان راتلونکي تاسو ته څنګه ښکاري؟ او هم افغانستان ته جدي خطر په اوسنی وخت کي څه دی؟ او هم تر هغه چې طالبانو له افغان ولس مشروعیت تر لاسه نه کړي آیا حکومت به یې دوام وکړي او هم به یې نړیوال په رسمیت وپیژني؟.

سمیع الله صافی: په ټوله کې د افغانستان راتلونکۍ برخلیک د دوه اړخو په سمون پورې تړلۍ دۍ:

داخلی اجماع: څرنګه چې د یوې کورنۍ، کلي، ښار او یوه هېواد جوړونه، رغونه، ښېرازي او ساتنه د انساني ټولنې د یوازې یوه تن، یو قشر (پوړ) کار او د زیار نتیجه نده؛ همداسې په سیاست، اقتصاد، کلتور، ټولینزو اړیکو او اداره کې د ټولنې د ټولو اقشارو (مسلکي، جنسیتي، ځوانو، زړو، ورو او...) ارادې رول اړین دۍ. او ټولنه د خپل استعداد او اهلیت له مخې د هېواد په چارو کې د فعالیت، لارښوونې او صلاحیت حق لري.

نور لاځه چې د ملت مهم نیمایي بدن (ښځینه پوړ) له ښوونې، روزنې، کار او اقتصادي مالکیت څخه محروموول او نارینه و ته لاس ترزنې سوالي او جوتې خور کېښول، چې سارۍ يې په ګرده نړۍ کې نشته؛ د ملي اجماع سره په ټکر او داخلي مشروعیت ته سپکاوۍ دی.

بله يې لا دا چې د عدلیې وزارت يې وايي: (اساسي قانون ته اړتیا نشته! پر حنفي مذهب متکی (قرآن او سنت) کافی دۍ. نور نو تاسې پوه شی؛ هېواد ته چې د مدرسې او جومات له کړکۍ ګوری؛ داسې حاکمیت د دولت داری جوګه کېدای شي؟

داخلي اجماع ده چې داخلي مشروعیت رامنځته کوي او بیا نړیوال مشروعیت ته لار پرانیزي. په دې کې خو د ملت بشپړه اکثریت توافق او غواړي چې د تېرو شلو کالو د سیاسي فساد او بیت المال داړه مارانو ته په رسمي دندو او ضد ملي کړو وړو کې اجازه ورنکړې او خوړلی پرې کانکې شي. مګر ملت دا هم نه غواړي چې طالب دې لکه وړۍ حافظ په ټوله کونډۍ خېټه واچوي!

متل دۍ: (هوښیار يې په بل تجربه کوي او احمق يې په ځان.)

خو چې پرځان له دویم ځل تجربې، بیا هم په شړو روان وي؛ نو د هغوی تعریف په تاسو!)

او که په مایې تعریفوۍ نو؛ یاد جومات او چارچوبۍ له انګړه بهر د هېڅ کار ندۍ او یا به د خارجي استخباراتو سره په برمته ګرۍ کې، بېواکه وي!



پوښتنه- بزګر: تاسو د شاهي نظام پر مهال دوه ځلې د ولسي جرګې وکیل وۍ د تیرو شلو کلونو یا د خلکو په خبره د امریکایي دیموکراسۍ د وکیلانو او پارلمان سره د هغه وخت فرق ستاسو له نظره څه دی منظور مې هم وکیلان او هم ولسي جرګه دواړه دی، او هم که د ولسي جرګې د تاریخ او هغه معلومات چې تاسې سره دی د دعوت مجلې د لوستونکو په ځانګړې ډول د ځوان قشر سره شریک کړۍ حتماً به ټولو لوستونکو ته ډیر پّ زړه پورې وي.

سمیع الله صافی: پارلمان: د ۱۳۰۹ لمریز کال اساسي قانون له مخې چې د تصویب په لویه جرګه کې مې پلار (سلطان محمد خان ساپی) هم په کې ګډون درلود، د وړی

په ۱۸مه ۱۳۱۰ کې د لومړی ځل لپاره د (دولت شورا) په (ملي شورا) ونومول شوه.

دا ړومبنۍ (ملي شورا) له دوه برخو (ملي شورا او اعیانو) څخه جوړې وې، چې ۳۳ کاله یې تر ۱۳۴۳ لمریز (لویې جرګې له ۱۸م وږي تر ۲۸ وږي) پورې دوام درلود او د نوي اساسي قانون په حکم په (ولسي جرګه) او (مشرانو جرګه) ونومول شوې.

د پارلمان د غړو ټاکنې که څه هم د هغه ټاکنیزې لایحې له مخې کېدې، کوم چې په ۱۳۰۹ کې رامنځته شوې وه؛ خو ټاکنیز نوم تر ډېره سمبولیک ؤ. ډېرئ د صدراعظم او وزیرانو لخوا د دوی په لاړو لامده کسان، تقاعدي مامورین، د حکومت مخرونۍ مخور، شاه پرستان او د روحانیت په سپېڅلتیا کې اخېړې څېرې وې چې د پارلمان ځانده یې جوړوله. کوښښ کېده چې د محمدزایي په مرکزیت کې د شاهي ځواکمنۍ له باورونو پرته بل فکر رخنه ونکړي.

خو د ښووني – روزني له برکته په ټولنه کې ورو ورو د نوو افکارو خوځند راولاړ شو. په ۱۳۲۸ لمریز کې د وُلسي جرګې د (اُووم پړاو) ټاکنو د خلکو حقونو ته په پاملرنه نوئ روښانه ور (باب) پرانیست.

دا لومړنۍ دوره وه چې د پاچا تره (شاه محمود خان) د خپلې کابینې سر ورته حاضر او د باور رأی یې اخیستې وه. څرنګه چې شاه محمود خان په شاهي کورنۍ کې، اعلیحضرت محمد ظاهر شاه ته ورته نرم خویه سړئ ؤ او د



ملت د استازو د نیوکیزو خبرو خوله یې نشوای کنترورولئ؛ سلطنتي چارواکي او پلویان یې په وېره کې شول.

دا ؤ چې په ۱۳۳۲ کې سردرا محمد داود خان (د صدراعظم محمد هاشم خان د سیاست به پله روان) د پاچا له خوا د کابینې په جوړونه توظیف او د اتمې دورې ؤلسي جرګې څخه یې باور تر لاسه کړ.

د ؤلسي جرګې هغه د (آووم پړاو) هېښ بهیر نور نو تر هغې په تپه ولاړ ؤ، تر څو چې اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د ۱۳۴۳ لمریز په لویه جرګه کې نوئ اساسي قانون د هوښیار ملي شخصیت محمد موسی شفیق په منشیګرۍ رامنځته کړ. چې پر بناء یې د افغانستان په تاریخ کې دیموکراسۍ په لور نهه کلنه دوره، په دوولسمه ؤلسي جرګه پیل او د دیارلسمې ؤلسي جرګې د ختم سره سم، سردار داؤد خان د خپل جمهوریت په اعلان پای ته ورسوله.

د شاهي رژیم په آخرو نهم کالو کې چې د ولسواکۍ په لور هڅه وه؛ پالماني ټاکنې په ټول هېواد کې، آزادي، عمومي، سرّي او نېغ په نېغه تر سره شوې. د مشرانو جرګې غړي به له درېؤ یوه برخه د پاچا په انتصاب (۵ کالو له پاره)، بله یې د ولایتي شوراګانو لخوا یو یو تن (دري کالو له پاره) او پاتې برخه یې د هر ولایت خلکو یو تن (۴ کالو له پاره) لکه د ؤلسي جرګې په آزادو، عمومي، سرّي او مستقیمو رأیو ټاکله.

که څه هم د حکومت برحاله چارواکو به کوښښ کاوه چې د وُلس له منځه د خپلو غوره مالو پلویانو په ملاتړ خپل چوبکیان او بلې ګویان رامنځته کړي؛ خو بربنده یې د کوم خپلواک کاندید مخه نشوه نیولئ. یانې د خلکو اراده، تر ډېره غاوره وه. یو مثال یې زه خپله یم:

د ۱۳۴۷ لمریز (احتیاط ظابطانو) د ملکفیت اتلسمي دورې ترخیص ته مې لا دوه میاشتې پاتې وې چې د پیچ درې او مرکزی نورستان درنو خلکو او مشرانو په غوښتنه به د وُلسي جرګې دیارلسمي دورې ته (که څه هم په ځینو دلایلو تیار نه وم) کاندیدېدم.

-یو خو مې لا سن ورته جوړ نه ؤ. خلکو مجبور کړم چې تذکره بدله کړم، تر څو د کاندید ۲۵ کلن سن مې پوره وي.

-کال مخکې چې دادا مې لا ژوندئ او د ژوند پای کال یې ؤ؛ د خلکو په غوښتنه مې ولسي جرګې ته د کاندید خبره وریاده کړه.

هغه بې له ځنډه رد کړه. ویل خلک خواران د ډېرو ستونځو سره لاس او ګرېوان دي. په دې تمه دي چې که وُلسي جرګې ته دې ولیږي، نور هر څه به سم شي. خو سلطنتي حاکمیت د خلکو یو وکیل ته دا اجازه نه ورکوي چې قام او وُلس ته دې د ټولیزو ګټو کار تر سره کړای شي. په قام او ، وُلس کې د یوه وکیل (د ټولیزو خدماتو په نتیجه کې غوره دریځ، د دوی په ګټه نه دئ. نو ته به شخصي یا انفرادي ګټو په سمبال کې یوازې کې یو وارې زما دا د خواریو تش نوم په سین لاهو کړې.

-ما په ژورنالیزم کې زده کړې کړې وې او لا تر دوکتورا مې اراده وه ادامه ورکړم.

-له بله پلوه په دې پوهېدم چې د یوه دیموکرات (ولسواک) نظام بنسټ په داسې پارلمان ولاړ وي؛ کوم چې له ملي ګوندونو جوړ او کابینه یې په وړاندې عملاً مسئولیت ولري. خو دلته به 220 وکیلان، هر یو ځانته ګوند وي. زه به هم چې د شاګردۍ خوی مې په کوپړۍ کې لا روڼ دئ، د وُلسي جرګې په سنتي خانخانیو، ملک بازیو او مُلابازیو کې به یوازې لاس تر زنې او خبره به مې د پیاز پاڼه وي. دې اټکلني مې د پلار سپارښتنه نوره هم په سر کې پیاوړې کوله. خو چې هر څه وو، د وُلس اراده راته درنه وه.



وکالت ته کاندید کسان ټول د کونړ والي محمد شریف خان (صافي) حضور ته ورووپېژندل شول. هفته لا تېره نه وه چې تره مې عبدالظاهر خان (مشهور په کشر خان) د قومي مشرانو په غونډه کې چې څلور له ما مشران ورونه مې حاضر وو؛ راته وویل چې والی صیب غوښتئ او ورته یې ویلي دي چې سمیع الله خان ډېر ځوان او کافي تجربه نه لري؛ نو که په ځای یې ستاسو په کورنۍ کې بل یو کاندید شي، بده به نه وي.

مشرانو ما او زه مشرانو ته په کتو کې غل شان ومسکېدم. له لږ ځنډ وروسته مې خپل تره (خاندادا) ته مخ ورواړاوه او په ډېر ادب مې مخاطب کړ:

خاندادا! ؤلسي جرگې ته په ټاکنو کې د هېواد اساسي قانون لاربښوونه کړېده. د هر چا صلاحيت او مسئوليت مالوم دئ. که تاسې کوم يو له کورنۍ او په قام کې هر څوک د کانديد شوق لري؛ ما يې مخه نه ده نېولې. حق د خلکو دئ چې د پارلمان څوک د خپلې استازولي وړ بولي.

ناست سپين ږيري او مشران په دې خوښ شول اوله منځه يې د بارکنډۍ د کورباغ عبدالودود اخونزاده غږ کړې: ((ته زمونږ وکيل يې، بل نه غواړو!))

او بيا نو د والي صيب مشوره د ټولو هېره وه.



تبصره: والي صيب چې صادق ؤلسي سړئ او زما پلار ته يې خاص درناوی درلوده او په دې هم پوهېده چې خبره به زمونږ ترمنځ وي؛ ويل يې سردار عبدالولي خان د مرکزي قواو قوماندان (د مارشال شاه وليخان زوی او د پاچا زوم) ورته دغه وړانديز کړئ ؤ.

د سردار عبدالولي خان سره مې پخوا کله ناکله ناسته ولاړه درلوده. نو درک مې کړه چې د روښانفکره ملي پارلمان نه يې وېره درلوده. چاړواکو د ؤلس په منځ کې په دغه شان پسته لار لاسوهنه کوله. خو د راوروسته پارلمانو سره يې پرتله کول ناانصافي ده.

د سردار له سپين کودتايي جمهوريت نېولې تر روس پرستو، جهاد فروشه ټوپکمارو، غرب زده اقتصادی تالي څټو، ټولو د افغانستان پارلمان هم لکه خپل جنگي غنيمت خپل ترمنځ په فاسد سياست ويشلی ؤ. البته چې دې مافيايي ډلو ټپلو د گوتو په شمار د څو تنو وطن دوستو، ملي پوه کسانو مخه نشوای نيولئ کوم چې د اگاه مؤکلينو په اراده يې پارلمان ته لار موندلې وه؛ لکه ډاکټر رمضان (بشر دوست)، ملالۍ (جويا)، ميرمن (کړوخيل) او دوی ته ورته چې په فيصدي کچه کې هم نه راتلل. دا خواران به په پارلمان کې تل د بېسواده ټوپکسالارانو د فشار لاندې خوله تړلې او يا به له غونډې شړل کېدل.

د هغه فاسد سياست پايله دا شوه چې پاکستان د امريکې سره په توافق د دوحې په دسيسه وتوانېد د اگست په ۱۵مه ۲۰۲۱ طالبان دويم ځل په هېواد حاکم کړي. نه يوازې پارلمان؛ بلکه اساسي قانون، ښوونه- روزنه، مسلکي کادرونه، فردي – ټولنيز حقوق او نړيوالې اړيکې، ټول له يوه لبه په ترينگۍ وهل شوي او پر ځای يې د الهي شريعت په مطلقيت کې فردي حاکميت او مذهبي ديکتاتوري ورته په تش دسترخوان غوړول شوېده.

### پوښتنه - بزگر: له دې وضعيت څخه د ژغورنې يا وتلو لار څه ده؟

سميع الله صافی: د ژغورنې لار: د يوه ملت د گټو په ساتنه کې؛ څوک وسله او نظامي ځواک، څوک پياوړئ اقتصاد او ځينې د کوم نړيوال زبرځواک خيراتي سيورئ مهم گڼې. خو د پښتنو په مشهور متل چې وايي: (د خلکو زور، د خدای زور) باندې باور او عمده يې گڼم.

له تېر تاریخه په زده کړه؛ د هېواد پرګنې د وخت د بهیر او انساني غوښتنو سره په همغږۍ کې باید پداسې اګاهانه ملي او تجربې زده کړو سمبال شي چې د ښار او اطراف توپیر په کې نه وي. تر څو خپل ترمنځ د ذهني او کلتوري توپیر په نتیجه کې، لکه دا اوس په ترېګنۍ اخته نه وي.

نوئ کۆل باید داسې وروزل شي، چې خپل که پردئ غږ د خپلو مغزو په کچکولۍ کې وه ارزولئ شي. د انتقادي او نیوکیز تفکر وده، انسان له ډېرو اشتباهاتو ژغوري.

پردي؛ که فرد دئ که ټولنه، که اقتصاد دئ که سیاست، که عقیده ده، که فکر کول؛ ټول د پردو په ګټه دي. یوازې خودشناسه خردمن او اګاهانه افغان فکر دئ چې د خپلې وياړمنې ژغورنې تضمین کولئ شي.



**پوښتنه - بزګر: د دعوت رسنیز مرکز چې له ۳۵ کلونو راپدیخوا د ناروې له هېواده فرهنګی فعالیت کوي ستاسو په نظر زموږ د کارونو په اړه څه دی؟ او موږ (دعوت رسنيز مرکز) په څه ډول خپل رسنیز خدمتونه په ښه او موثر ډول د هېواد دننه او بهر خپلو هېوادوالو ته کولای شي؟**

سمیع الله صافی: د (دعوت) رسنۍ: له ۱۹۸۹ راپدېخوا چې له پېښوره ناروې کې د سیاسي پناهنده په توګه اوسیږم، د (دعوت) لیکنو سره اشنایی لرم. قدردان چلوونکئ (بزګر) صیب له پیله تر دا ننه لکه ونه مستقیم د ملي خپرونې (دعوت) خدمتګار دئ. د دعوت ارزښت په خپلواکۍ، روښانفکرۍ او ملي دریځ ته په درناوۍ کې دئ. هیله ده نور هم وغوړېږي.

**پوښتنه - بزګر: د ناروېژي پښتو قاموس چې په دې وروستیو کې چاپ او خپور شوی دی ستاسو نظر یې په اړه څه دی؟**

سمیع الله صافی: (ناروېجي پښتو قاموس) څوک چې د مطالعې، لیک او کتاب سره سروکار لري، په دې پوهیږي چې په کومه موضوع باندې لیکنه لا اسانه نده؛ بیا چې لا تر (۵۰۰۰۰) لغاتو (ناروېجي پښتو قاموس) یې په ۹۴۵ مخونو کې ماته راورسېد. په ځیر مې وکوت، ګوته مې ورته په غاښ شوه!

به ناروې کې مېشتې پښتنې کورنۍ، کومې چې له دې ډکشنرۍ نه خبر وي او د کور په صالون کې یې ونلري؛ باید پوه شي چې په مغزو کې یې د درک ستونځه موجوده ده!

***

# مسلمانان او یهودان

## ژباړن: خوشال درانی

سرچينه: د اقتصادي خبرونو او مطالبو پاڼه

يادونه: دغه ليکنه په ۲۰۱۷ز کال کې شوې. د اصلي ليکوال د پيدا کولو ډېره هڅه مې وکړه، خو پيدا مې نه کړ.

په ټوله نړۍ کې ۱۴ ميليونه يهودان دي. ٦ميليونه په امريکا، ٦ ميليونه په اسيا، ۲ ميليونه په اروپا او سل زره په افريقا کې اوسېږي. خو په ټوله نړۍ کې بيا يو نيم ميليارد مسلمانان دي، چې يو ميليارد يې په اسيا، ۴۰۰ ميليونه يې په افريقا، ۴۴ ميليونه په اروپا او ۵ ميليونه يې په امريکا متحده اياﻻتو کې اوسېږي. د نړۍ په هر پينځو تنو کې يو مسلمان دی. د يو هندو په مقابل کې دوه مسلمانان، د هر بودايي په مقابل کې دوه مسلمانان او د هر يهودي په مقابل کې ۱۰۷ مسلمانان شته؛ خو همدا ۱۴ ميليونه يهودان په مسلمانانو بر لاسي دي.



### فکر وکړئ، ولې؟

د توطيې، دسيسې او له نورو تحليلونو تېر شئ. هېڅا هم دوی ته دا مصنوعي برېا نه ده ورکړې. دا هم مه وايئ چې دا کار د انګلستان او امريکا دی او دوی يې ملاتړ کوي. وپوښتئ چې ولې؟ امريکا او انګلستان چا مجبوره کړي چې د دوی ملاتړ وکړي او دومره ډېر نفوذ يې پکې کړی؟ ولې مسلمانان په يادو دولتونو کې نفوذ نه لري او نه يې په خپل ملاتړ مجبوروﻟی شي؟ په دې هېوادونو کې د مسلمانانو شمېر له يهودانو کم نه دی، خو ولې امريکا ته د مسلمانانو کډوالو نفوذ د يهوديانو د نفوذ په پرتله کم دی؟

**پايله:** د امريکا، انګلستان او نورو ځواکمنو ملاتړ د يهودو د قوت لامل نه دی، بلکې د هغوی د ځواکمنتيا پر وړاندې خنډ دي. يهود به په راتلونکي کې هم ځواکمن وي.

ولې؟

راځئ! وګورو ولې؟

په څو دلايلو:

### په معاصر تاريخ کې:

البرټ انشتين، يهودي، زيګمونډ فرويډ يهودي، کارل مارکس يهودي، پل ساموېلسون يهودي، ميلټون فرډمن يهودي.

### روغتيايي برخه:

د ټونل د ستنې اختراع کوونکی بنيامن روبن يهودي، د ماشومانو د ګوزڼ (پوليو) د واکسينو اختراع کوونکی يوناس سالک، يهودي، د وينې د سرطان ضد د درملو اختراع کوونکی ګرټروډ اليون يهودي، د ژېړ ژېړي د ناروغيو د مخنيوي درملو اختراع کوونکی بروخ بلومبرګ يهودي، د عضلاتو د درملو اختراع کوونکی اليه متچينکوف، يهودي، د داخلي غدو د ترشحاتو د درملو اختراع کوونکی انرو شلي، يهودي، د حاملګۍ د مخنيوي د ګوليو اختراع کوونکی جورج پيناکوس، يهودي، د انسان د سترګو پېژندنې اختراع کوونکی ج. والد، يهودي، د مور په ګېډه کې د ماشوم جنسيت پېژندلو د ماشين اختراع کوونکی (الټراوسونډ) ستانلي کوهن، يهودي، د پښتورګو ناروغۍ د درملنې اختراع کوونکی ويليم کلوفکام يهودي او...

### د نوبل جايزو ګټونکي:

په تېرو ۱۱۰ کلونو کې ۱۴ ميليونه يهودانو ۱۸۰ د نوبل جايزې اخيستې دي؛ خو په يو نيم ميليارد مسلمانانو کې يوازې ۱۰ تنو د نوبل جايزې اخيستې. (مسلمانانو د نوبل جايزې ډېرې د سولې، ادبياتو او نورو برخو کې اخيستې. د ساينس برخه يې بېخي کمه ده. ژباړن)

### هغه اختراعاتو چې تاريخ بدل کړ:

د کوچنيو برېښنايي وسيلو دستګاوې ستانلي نزور، يهودي، د اټومي ريکټور زنځير، نيو سزيلنډ، يهودي، د نوري کيبل پيطر شولتر، يهودي، د لارښوونې څراغونه(ترافيکي سيستم) چارلز الډر، يهودي، د اوسپنې د زنګ ضد، بنو اشتراوس، يهودي، خبرې کوونکي فلمونه(کارټون) ايزادور کيس. يهودي، د ټيليفون

مایکروفون امیل برلینر، یهودي، د خوځنده ویډیو ثبتولو وسیله چارلز جینزبرګ، یهودي.

## د بازار مونډنې په برخه کې:

د مشهور برانډ «پولو» رالف لورن، یهودي، د څښاک مشهور تولید«کوکاکولا» لویس جین او لوی شتراوس، یهودان، سټار بروک، هوارډ شولتز، یهودي، ګوګل، سرګي برین، یهودي، د کمپیوټر مشهور شرکت«ډیل» مېشل ډیل، یهودي، ډنکي، دونا کارن، یهودي، باسکین او رابینز، ایرو رابینز، یهودي، ډانکین ډوناټ(د لېږد یوه امریکایي وسیله) بیل روزنبرګ، یهودي...

## په نړیوال سیاست کې نفوذ:

هنري کیسینجر، یهودي، ریچارډ لوین د «یل» پوهنتون رئیس، یهودي، الن ګرینزپن، د امریکا متحده ایالاتو د زېرمو رئیس، یهودي، ژوزف لیبرمن یهودي، ماډلین البرایټ، یهودي، ګاسپر واینبرګر، یهودي،(د امریکا د دفاع وزیر و.)ماکزیم لیوینو، یهودي(د روسیې د بهرنیو چارو وزیر و.) داوید مارشال، یهودي (د سنګاپور لومړی وزیر و.)، اسحق، یهودي، د استرالیا د سټنډر مشر و، بنیامن ډیزرایلي، یهودي، د انګلستان لومړی وزیر و، یوګي پیرماکف، یهودي، د روسیې لومړی وزیر و، بري ګلډ واټر، یهودي، امریکایي سیاستوال، جورج سمپایو، د پرتګال ولسمشر و، یهودي، هرب ګري، د کاناډا د لومړي وزیر لومړی مرستیال، یهودي، مېشل هوارډ، یهودي، انګلستان کې وزیر و، برونو کریسکي، د اتریش لومړی وزیر و، یهودي، رابرټ روبین، یهودي، امریکا د مالیې وزیر و، یهودي او ...

## نړیوالې ډلهییزې رسنۍ:

سي.این.این، ولف بلیټنز یهودي، باربارا والټرز(ا.ب.ث)، یهودي، واشنګټن پوسټ، اوجین مایر، یهودي، د امریکا ټایم مجله، هنري ګرونوالډ، یهودي، واشنګټن پوسټ، کاترین ګراهام، یهودي، نیویارک ټایمز، ژوزف لیلډ، یهودي، نیویارک ټایمز، ماکس فرانکل، یهودي، فاکس(FOX)، راپرټ مرداخ، یهودي او ...

## د بشري مرستو موسسې:

جورج سوروس، یهودي، والټر ننبرګ، یهودي، په امریکا کې یهود له اوو زرو ډېر سازمانونه او موسسې لري، هر یهودي په یادو موسسو کې غړیتوب لري او فعالیت پکې کوي. څومره مسلمانان داسې موسسې لري او غړیتوب یې اخیستی؟ یهودي زده کوونکي د ښوونځي په لومړی مرحله کې ډله ییز کار کوي او هم درسي رقابت زده کوي او له نورو سره کینه هم.

پایله: نه موږ او نه زموږ واکمن له خپلو خلکو سره ګډ کار نه زده کوي(موخه یې د اسلامي نړۍ اوسني واکمن دي.)، بلکې هره ورځ د نورو د منځه وړولو نوي درسونه زده کوي.

## یهود ولې ځواکمن او مسلمانان ضعیف دي؟

یو لامل یې دا دی چې موږ خپل اصلي دښمنان هېر کړي، خو په خپلو کې په سختو سیالیو سره اړم شوي یو. موږ د خپلو زده کوونکو وړتیا وژنو او څوک نه پرېږدو چې له موږ ډېر وپوهېږي.

د اسلامي نړۍ په ۵۷ هېوادونو کې یوازې ۵۰۰ پوهنتونونه شته، خو یوازې په امریکا کې ۵۷۵۸ پوهنتونونه دي، هندوستان کې د پوهنتونونو شمېر بیا ۸۴۰۷ ته رسېږي. د اسلامي نړۍ ۵۰۰ پوهنتونونو کې یې یو هم د نړۍ د غوره پوهنتونونو په نوملړ کې نشته.

## زده کړې:

په عیسوي نړۍ کې د زده کړې سلنه ۹۰٪ ده، خو په اسلامي نړۍ کې بیا د زده کړې کچه ۴۰ سلنه ده. په ۱۵ عیسوي هېوادونو کې د زده کړې سلنه سل ده؛ خو په اسلامي هېوادونو کې یو داسې هم نشته چې د زده کړې سلنه یې ۱۰۰ وي. په عیسوي هېوادونو کې ۹۸ سلنه خلکو یې د لېسې دوره بشپړه کړې؛ خو په اسلامي نړۍ کې بیا دغه شمېره ۵۰ سلنو ته رسېږي. په سلو کې ۴۰ عیسویانو د پوهنتون دوره بشپړه کړې، خو په اسلامي هېوادونو کې بیا دغه شمېره ۲سلنه ده. په اسلامي هېوادونو کې په یو میلیون خلکو کې یوازې ۲۳۰ عالمان دي، خو په امریکا کې بیا دغه شمېره ۵۰۰۰ ته رسېږي. په امریکا کې د یو میلیون خلکو لپاره ۱۰۰۰ تخنیکي خلک پیدا کېږي، خو په عربي نړۍ کې بیا یو میلیون خلکو ته یوازې ۵۰ تنه د تخنیک برخې خلک شته. اسلامي نړۍ د خپلو عایداتو یوازې ۰.۰۲ سلنه د څېړنې او پرمختګ لپاره لګوي، خو د عیسویانو په هېوادونو کې بیا دغه شمېره ۵ سلنه ده.

## پایله:

د اسلامي نړۍ اوسنی حالت د زده کړې، روزنې او د وړتیاوو پیدا کولو هېڅ استعداد نه لري. په اسلامي هېوادونو کې د زده

کړې لپاره اسانتیا نشته. د پاکستان په هر زرو نفرو کې یوازې ۲۳ تنو ته ورځپاڼه رسېږي؛ خو په سنګاپور بیا دا شمېره ۴٦۰ ده. په انګلستان کې هر کال په جلا جلا برخو کې ۲۰۰۰ کتابونه د یو مېلیون کسانو لپاره چاپېږي. په مصر کې بیا دا شمېره یوازې ۱۷ ده.

**پایله:**

اسلامي نړۍ د څېړنې په برخه کې ماتې خوړلې. د څېړنې په برخه کې د اسلامي هېوادونو ځوانان هېڅ اسانتیا نه لري. د پاکستان د صادراتو کچه ۰.۹ ده، د سعودي بیا ۰.۲ ده. د کویټ، مراکش او الجزایر کې بیا دغه شمېره ۰.۳ ده، خو یوازې د سنګاپور د صنعتي صادراتو کچه ٦۸ سلنه ده.

**پایله:**

اوسنۍ اسلامي نړۍ له علم څخه د ګټې اخیستنې وړتیا نه لري. موږ څه پایله تر لاسه کوو؟ خپه کېږئ مه. دغه شمېرې او شواهد چیغې وهي چې موږ څومره وروسته پاتې یو؛ خو موږ خپل غوږونه کاڼه کړي دي.

**مشوره:**

خپله، خپلو بچیانو او نورو ته باید دا زده کړئ، چې ګډ کار وکړئ. مه پرېږدئ چې بچیان مو له زده کړو لاس پر سر شي. له دوی سره یو ځای پر مخ ولاړ شئ او د زده کړو پر وړاندې یې مه خنډ کېږئ.

که دوی بریالي نه شول، د دوی په بریالیتوب کې مرسته وکړئ، که دوی اوس بریالي نه شول، دوی به هېڅکله بریالي نه شي. زموږ بریا زموږ په پوهه، خلاقیت، زده کړو او په ګډ کار کې ده او بس.



# د امریکا او اسلام اباد زرګري جګړه

سرلوځ مرادزی، سویډن

د کوزو افغانانو مشر ارواښاد خان عبدالولي خان یوې غونډې ته په وینا کې پخوا ویلي ول« **پاکستاني جنرالانو او امریکایانو خپلو منځو کې ساز باز کړی او تر هغو چې له پاکستانه امریکا نه وي وتلي، د دې ملک ستونزې نه شي هوارېدای »** ولی خان قصه کوي او وایي په کوهي کې سپی لوېدلی وو، د کلي خلک ملا ته ورغلل چې څو ډولچې اوبه وباسي چې اوبه پاکې شي؟ ملا ورته وویل چې ٦٠ ډولچې اوبه وباسی نو کوهی به پاک شي. ولیخان زیاتوي خو که چیرې سپی په کوهي کې پروت وي؛ ٦٠ ډولچې نه، که ٦٠٠ ډولچې اوبه هم له کوهي وباسي، اوبه نه پاکیږي. ترڅو امریکا له پاکستانه نه وي وتلي، د دې ملک چارې نه ښه کیږي!

د روان عیسوي کال د اکتوبر په ٦ مه د پاکستان لوی درستیز جنرال قمر باجوه په رسمي، خو په مرموز سفر امریکا ته تللی وو. نوموړي هلته د دفاع وزیر لوید آستن، د ملي امنیت سلاکار جیک سلیوان، د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکن، د ملي استخباراتو رییس اروېل هینس او د CIA مشر ویلیم برنز سره لېدلي.

د ځینو رسنیو په وینا په دې کتنو کې ترهګرۍ سره مبارزه، د سیمې او په ځانګړې توګه د افغانستان د امنیت او د امریکا او پاکستان ترمنځ د دفاعي همکارۍ او یو شمېر نورو چارو په اړه خبرې شوې. په هند کې د پاکستان پخواني سفیرعبدالباسط ویلي، **ممکنه ده امریکا د افغانستان او سیمې بدلونونو ته په پاملرنه یوځل بیا پاکستان ته مخه کړي او غواړي د ګډې همکارۍ نوي تګلارې غوره کړي.** په اسلام اباد کې د امریکا سفیر دونالډ بلوم بیا د امریکا او پاکستان تر منځ نویو همکاریو ته ډېره خوشبیني څرګنده کړې ده.



د قمر باجوه د سفر د پای سره هممهال د یادونې ده چې د امریکا ولسمشر جوبایډن وایي، پاکستان ښای د نړۍ یو له« تر ټولو خطرناکو هېوادونو» وي او زیاتوي چې «ګومان کوم په نړۍ کې ښای یو له ترټولو خطرناکو هېوادونو وي چې اتومي وسلې یې هیڅ انسجام نه لري»

کېدای شي د پاکستان په اړه د جوبایډن داسې څرګندونې پر هغه هېواد د زیات فشار پتوګه وګڼل شي چې هغه هېواد (پاکستان) افغانستان او سیمه کې د نویو بدلونونو په اړه د امریکا بدلېدونکې تګلار سره ځان تیار کړي؛ خو په دې تړاو د پېښو تازه پر مختیاوې په ډاګه کوي چې دا هسې د پاکستان او سیمې د ولسونو د تېرایستلو لپاره د امریکا او اسلام اباد د زړې زرګرۍ جګړې، یو نوی پړاو دی!

دا چې بایډن د اتومي پروګرام د ناوړ انسجام په اړه اسلام اباد ته ګوته نیسي او په دې تړاو په پاکستاني رسنیو کې لومړي وزیر شهباز شریف او بهرنیو چارو وزیر بلاول بهټو پاریدلي ځلیږي؛ دواړه لوري دا ننداره د دې لپاره وړاندې کوي چې پخپلو راتونکو ګډو تګلارو پرده واچوي او ترمنځ شوي توافقات د اختلاف تر بوسو لاندې تېر کړي.

بېځایه نه ده چې د بایدن د تش په نوم ګوتڅنډنو او رسنیز هیاهو اخوا، لومړي د دواړو هېوادو د جنرالانو او ورپسې د دواړ هېوادو ترمنځ په اړیکو کې نوی پر مختګ تر سترګو کېږي.

امریکا چې د افغانستان او سیمې لپاره د نوې ستراتېژۍ خبره کوي، وایي چې تر دې وروسته به« افغانستان کې د ترهګرۍ خلاف مبارزه د امریکا د یوه متحد په مشرۍ او د امریکا په ملاتړ پر مخ وړل کیږي. امریکا د دغه متحد نوم نه دی اخیستی، خو ګومان کیږي دغه هېواد یې پاکستان دی. تاند»

خو دغه هېواد له پاکستان پرته، بل هېواد نه شي کېدای او خامخا پاکستان دی، ځکه امریکا او پاکستان خپلو کې ستراتېژیک تړون لري او د ناټو ترون تر چوکاټ بهر د ناټو په امتیاز د امریکا ملګری هېواد دی. دا چې په افغانستان کې امریکا وخت ناوخت د الوتکو ګزمې او بمباري کوي، الوتکې یې د پاکستان له خاورې پر افغانستان تیری کوي او په وروستیو کې د ایمن الظواهري د مرګ ډرامه هم د اسلام اباد په مرسته په لار اچول شوې.

## امریکایي چارواکي هم نه پټېږي او په ډاګه وایي، د افغانستان د ځار لپاره مو بې پیلوټه الوتکو ته پاکستان لاره راکوي.

ویل کیږي د ایف ۱٦ جنګي الوتکو کوم بندیز چې امریکا پخوا پر اسلام اباد لګولی وو، نور دغه بندیز اعتبارنه لري او پاکستان ته به بیا د دغه الوتکو جوړې په واک کې ورکوي. تازه په تازه د امریکا په ملاتړ، پاکستان د FATF د خړ لیست څخه هم وایستل شو. د مالي اقدام کاري ډلې یا FATF خړ لیست کې د پاکستان د ساتلو پریکړه لغوه کړې ده.

امریکا د اسلام اباد د لا خوشحالۍ لپاره د هند سره په تازه دوستۍ هم سترګې پټې کړې او په اسلام اباد کې خپل سفیر ډانلډ بلوم یې، هغه کشمیر ته په درې ورځنی سفر ولیږه چې د هند او پاکستان پرې ۷۵ کاله اختلاف دی. «د امریکا سفیر ډونالډ بلوم د پاکستان د ولقې لاندې کشمیر ته د تګ او هلته یې د تاریخي ځایونو د لیدو وروسته پخپل ټویټر ولیکل چې آزاد جمو و کشمیر(AJK) ته د خپل اول سفر په راتګ باندې فخر کوم» د پاکستان ولقې لاندې کشمیر کې د امریکا سفیر «د یو شمېر جګپوړو ځایي چارواکو،همدا راز اکېډمیکو شخصیتونو، تاجرانو، او د ثقافتي او مدني چارو نمایندګانو سره کتلې دي، امریکا غږ»

## د امریکا او پاکستان تر منځ د زرګرۍ دې جګړه کې به بیا زیات تاوان د ډیورند د تپلې کرښې دواړه غاړه پرتو پښتنو افغانانو ته رسیږي او سیمه به هم د ارامۍ خوب ونه کړي!

د ۲۰۲۲ کال د اکتوبر ۲۱ مه

# دولت، دموکراسی و اسلامگرایی در افغانستان



دوکتور نوراحمد خالدی

نسل ما، بشمول کسانیکه ده سال بعد از من تولد شده اند، امروز نسل کهن سال سنین شصت سال به بالای جامعهٔ افغانستان را تشکیل میدهد که اکثریت آنها در داخل افغانستان و یک کتلهٔ عظیم آن در جمع دیاسپورای افغان در ممالک مختلف جهان و بخصوص کشورهای پیشرفتهٔ اقتصادی غربی زندگی میکنند. این نسل شاهد زندهٔ تاریخ معاصر کشور اند بخصوص از عصر دههٔ دموکراسی 1964-1973م دوران سلطنت اعلیحضرت محمد ظاهر شاه به اینطرف شرایط زندگی مردم، روشهای حکومتداری و حوادث و چرخشهای تاریخی را بخاطر داشته قادر به ارزیابی عینی این شرایط و حوادث میباشند.

در طول یکصد سال گذشته عناصر متعصب مذهبی که در مخالفت با **ترقیخواهی** یا **مدرنیزم** قرار گرفتند شامل **بنیادگرایان**، **اسلامگرایان**، و اخیراً گروههای **وهابی و تکفیری** میباشند. کسانیکه با نهضت امانی مخالفت کردند در دههٔ دموکراسی 1964-1973 میلادی با آزادی های فردی و اجتماعی سر مخالفت گشودند. در این دوران تیزاب پاشیدنها بروی دختران مکاتب رواج یافت و عامل شهادت عبدالرحمن در لغمان، عبدالقادر در هرات و سیدال سخندان در پوهنتون کابل گردیدند.

اسلامگرایان متعاقباً بر مبنای فتوای به خطر افتیدن دین اسلام در مقابل جمهوری داوود خان بغاوت نموده در سال 1975 به اعزام گروپهای مسلح خرابکار از پاکستان اقدام کردند که ترور علی احمد خرم وزیرپلان در کابل و شورش پنجشیر را میتوان نام برد

بر همین تسلسل کسانیکه با نهضت امانی مخالفت کردند در دهه های 1980 و 1990 میلادی حیات دوباره یافته به عنوان تنظیمهای جهادی بنیاد گرا و اسلامگرا **در صفوف قیامهای مردمی رخنه کرده رهبری مقاومت مردم را در برابر حکومتهای خود کامه کودتای هفتم ثور گرفته هزاران مکتب را ویران کردند و آتش زدند وهزاران معلم و متعلم بیگناه را به شهادت رسانیدند.**

همانطوریکه تا صد سال قبل استعمار کهن در تقابل با بنیادگرائی مذهبی از روش دوگانهٔ مقابله و حمایت کار میگرفتند، امروز نیز استعمار نوین غربی با روش امپریالستی خود مطابق منافع روز و منافع دراز مدت استراتژیک خود به مقابله و یا حمایت از افراط گرائی میپردازند و در رشد و اشاعهٔ تروریزم افراط گرای مذهبی نقش مهمی داشته و با سرنوشت ملتها، منجمله سرنوشت ملت ما، به یک بازی بزرگ استعماری نوین مشغول اند.

متاسفانه در نتیجهٔ عدم موجودیت استقرار سیاسی در افغانستان در نیم قرن اخیر، دولتها نتوانستند به مردم خود رفاه اقتصادی و اجتماعی و امنیت را فراهم نماید که این ناکامی مستقیماً مسول سقوط پیهم نظامهای سلطنتی، جمهوری مطلقه، جمهوری دموکراتیک، جمهوری اسلامی مجاهدین، امارت اسلامی طالبان دور اول، جمهوری اسلامی مدل امریکایی بوده است.

## تجربهٔ دموکراسی در افغانستان
## ابتدا باید ببینیم دموکراسی چیست؟

اساساً این اصطلاح از دو کلمه یونانی demo به معنای مردم و cracy به معنای قدرت، حکومت گرفته شده است. در کنار هم، آنها کلمه ای را که امروز می شناسیم، تشکیل می دهند که به معنای قدرت مردم یا حکومت توسط مردم است. دولت های مختلف آن را با معنای متفاوتی می دانند. اما منصفانه است که بگوییم برای بسیاری از غربی ها یک چیز و فقط یک چیز یعنی حق رای دادن مستقیم به انتخاب رهبرشان معنی دارد. بنابراین ناگفته نماند که بسیاری از غربی ها به طور خودکار این برداشت را رد می کنند که چین برای دموکراسی ارزش قائل است بدون اینکه به موضوع عمیق تر توجه نمایند. این نوع برداشت یک اشتباه بزرگ است. در اکثر کشورهای غربی، انتخابات سراسری هر چند سال یکبار برگزار می شود که تعیین می کند چه کسی دولت بعدی را تشکیل خواهد داد. اگر یک حزب سیاسی مورد علاقهٔ خودرا پیدا کردید می توانید رای خود را به آنها بدهید و امیدوار باشید که وقتی نوبت به شکل‌گیری سیاست و وضع قوانین جدید می‌رسد آنها نماینده ارزش های شما باشند. به این دموکراسی نمایندگی می گویند، زیرا در واقع رای خود را به یک حزب سیاسی می‌دهید که به آن اعتماد دارید، در هنگام تصمیم گیری در مورد قوانین جدید در پارلمان ممکن است نماینده

نظریات شما باشد. اما امکان دارد در مورد برخی مسائل آنطور که شما دوست دارید رای ندهد. البته شایان ذکر است که بسیاری از دموکراسی های غربی در واقع به شهروندان اجازه نمی دهند که مستقیماً به رهبر خود رای دهند. در آسترالیا و نیوزیلند بطور مثال رای دادن فقط برای نامزدان حزب سیاسی منتخب امکان پذیر است. این که چه کسی نقش رهبری در حزب را بر عهده خواهد گرفت و در نهایت رهبر کشور در صورت پیروزی آن حزب خواهد شد پشت درهای بسته تصمیم گیری می شود. اما جدا از هر چند سال یکبار رای دادن در انتخابات عمومی، برای یک فرد به معنای واقعی کلمه غیرممکن است که در مورد هر موضوعی که در دولت مطرح می شود رای دهد. از این رو اصطلاح دموکراسی نمایندگی بکار برده میشود.

## مشروطیت اول در افغانستان

افغانستان الی بعد از جنگ جهانی دوم با سیستم نظام سلطنتی مطلقه اداره میگردید که امیران و بعداً پادشاهان دارای قدرت مطلقه بودند و در برابر تصامیم خود به ملت مسولیت نداشتند. اما بعد از آنکه در ۱۳۲۵ خ/۱۹۴۶، محمدهاشم خان جایش را به برادرش شاه محمود خان به‌عنوان صدراعظم داد در دوران تصدی او دموکراسی نیم‌بندی به میان آمد. در ۱۳۲۶خ/۱۹۴۷ انتخاباتی برای شاروالیها برگزار شد. دو سال بعد، انتخابات مشابهی برای شورای ملی تدویر یافت. مجلس زیر نفوذ اکثریت دموکرات‌های لیبرال قرار داشت که برای سلطنت مشروطه ایستادگی کردند. احتمالاً در ۱۳۲۹ خ/۱۹۵۰، قانون رسانه‌های آزاد تصویب شد و دوره‌ای از جوشش سیاسی به وجود آمد که تعدادی از هفته‌نامه‌های خصوصی کوشیدند رؤیاهای روشنفکران لیبرال را به تصویر بکشند. با این‌حال، این نشریه‌ها، به میزان چشم‌گیری به‌عنوان انجمن‌های تازه شکل‌گرفته، احزاب سیاسی کم‌وبیش سازمان‌یافته بودند تا ابزارهای تبلیغات در میان جمعیت بیشتر بی‌سواد. اعضای اصلاح‌طلب شورا از طریق رسانه‌ها به مبلغان آزاد واقعیتهای جامعه تبدیل شدند که شاه و صدراعظم احساس کردند که با این وضعیت به ادامهٔ پیشبرد حکومت، آزادتر نیستند. (دوپری، ۱۹۸۰، صص ۴۹۸-۴۹۴).

دومین قانون مطبوعات به سال 1950 درشرایطی در افغانستان نافذ گردید که کشور بار دیگر آبستن تحولات سیاسی- اجتماعی شده بود. انفاذ این قانون نه تنها زمینهء فعالی محدود نشریه های غیر دولتی را به وجودآورد؛ بلکه درجهت دیگر روشنفکران و رده های آموزش دیدهء کشورعملاً آماده شده بودند تاهسته های سازمانهای سیاسی خود را پایه گذاری کنند.

این برداشت طالبان نه ریشه در احکام شریعت اسلامی دارد و نه با ارزشهای فرهنگی عنعنوی افغانی سازگاراست بلکه ناشی از اثرات مخرب تعلیمات مدارس بدوی پاکستانی و بخصوص نقش مدارس حقانیهٔ پاکستانی به مثابه مرجع باورهای ایدیولوژیک طالبان میباشد.
در زیر حاکمیت دوازده ماهٔ طالبان، در حالیکه مردم از خلع مفسدین، جنگسالاران و تیکه داران قومی از قدرت استقبال میکنند، اما اقدامات لازم از جانب طالبان برای ایجاد یک حکومت فراگیر متشکل از افراد متعلق به اقوام و گروههای مذهبی و زبانی مختلف بعمل نه آمده است. جدائی و نفاق میان اقوام کشور که در طول چهل سال گذشته توسط سیاستهای قومگرایانه تبلیغ شده بود زخمهای عمیقی در کشور بجا گذاشته است اما طالبان برای ملت سازی و تحکیم وحدت ملی هیچ اقدامی نکرده اند.
شیوه های حکومتداری طالبان نیز با نیازمندیهای عصر ما و شیوه های سائر کشورهای اسلامی مطابقت ندارد. دولتها در عصر امروز شامل سه قوهٔ مستقل اجرائیه، مقننه و قضائیه میباشند. موجودیت این سه قوه بطور مستقل سبب ایجاد زمینه های سهمگیری مردم در دولت شده و عدالت اجتماعی را برقرار نموده از دیکتاتوری جلوگیری میکند. طالبان به موجودیت سه قوهٔ متشکله مستقل

دولتی عقیده ندارند بلکه بشکل دیکتاتوری حکومت میکنند و خواهند کرد.

طالبان حق حکومتداری و سیاست را منحصر به گروه خود دانسته هیچگونه گروه سیاسی و حزب مخالف را برسمیت نشناخته و اجازهٔ فعالیت نداده اند و در آینده هم اجازهٔ فعالیت نخواهند داد و به انتخابات، پارلمان و حق مردم در تعیین رهبران دولت عقیده ندارند.

تجربهٔ یکساله حکومتداری طالبان تایید میکند که روش حکومتداری آنها بر اساس تعبیر تحت اللفظی احکام شریعت، کاملاً مخالف ارزشهای مدنی و اجتماعی زندگی شهری در قرن بیست و یکم میباشد. در سالهای اخیر حتی عربستان سعودی تطبیق تحت اللفظی احکام شریعت را کنار گذاشته به ارزشهای مدنی و اجتماعی زندگی شهری در قرن بیست و یکم و قوانین مدنی رو آورده است.

طالبان منبع مشروعیت خودرا بیعت علمای دینی میدانند در حالیکه مطابق عنعنات افغانی منبع مشروعیت دولتها تصامیم شورای ملی و فیصله های لویه جرگه میباشد.

طالبان نه از قوانین گذشته پیروی کرده و نه قوانین جدیدی ساخته‌اند. در حالی که حکومت طالبان شریعت را مبنای قانونی اعمال خود تعریف کرده اند توضیح و تفسیر مورد نظر طالبان از شریعت مشخص نیست.

برداشت از احکام قرآن مجید و سنت محمدی به مثابه منابع اصلی شریعت اسلامی توسط مجتهدین و اِمامان دارای صلاحیت اجتهاد در موارد مشخص متفاوت است. تا حال در این زمینه اجماع واحد مدون موجود نیست که بدون موجودیت یک چنین اجماع برای تدوین قوانین اسلامی در حاکمیت طالب، مرجع مشروع متداول وجود ندارد و نه گروه طالبان به آن متعهد است. ساختار های موجود حاکمیت طالب نه مشروع و نه تعریف شده أند. در نتیجه در حال حاضر طالبان قانون اساسی دولت جمهوری اسلامی را قبول ندارند در حالیکه سایر قوانین نافذه در کشور از همین قانون اساسی سرچشمه گرفته و در گرو این قانون قرار داشته و بی‌سرنوشت مانده‌اند.

با تعیینات روز افزون ملاها به عنوان قاضیها در محاکم، سیستم مسلکی مستقل قضایی کشور که با مشکلات زیادی در بیست سال گذشته، با حاکمیت قوانین مدنی مصوبهٔ پارلمان تنظیم شده بود، در خطر سقوط به یک نظام حقوقی غیر مسلکی و نابرابر قرون وسطایی قرار دارد.

قابل یادآوری است که در طول بیست سال گذشته طالبان هیچ سندی، اعلامیه و مانیفستی از خط مشی سیاسی، اقتصادی، فرهنگی و اجتماعی خود منتشر نکرده بودند. اکنون بعد از دوازده ماه حاکمیت مجدد دولت امارت اسلامی باز هم طالبان هیچ سندی، اعلامیه و مانیفستی از خط مشی سیاسی، اقتصادی، فرهنگی و اجتماعی خود منتشر نکرده اند.

مولوی هیبت الله، امیرالمومنین طالبان، در بیانیهٔ خود کدام خط مشی سیاسی-اقتصادی و اجتماعی را اعلام نکرد و از تدوین هیچگونه قانون اساسی در آینده نیز وعده نداد. او گفت که که قوانین الهی (طبق تفسیر طالبان) بالای قوانین مدنی ارجحیت دارند. طالبان به حاکمیت قوانین مدنی تدوین شده توسط ملت هُیچ تعهدی ندارند.

طالبان مشروعیت حکومتداری خودرا از بیعت علمای دین کسب میکنند و هیچ تعهدی برای کسب مشروعیت از ملت افغانستان از طریق یک لویه جرگهٔ عنعنوی ملت و یا انتخابات و همه پرسی مطابق تعامل کشورهای غربی ندارند.

با گذشت بیش از یکسال از ایجاد مجدد امارت اسلامی، حکومت طالبان هنوز مشروعیت ملی و بین المللی کسب نکرده است. دوازده ماه میشود جنگ در کشور ختم شده است اما طالبان با مردم افغانستان به کدام توافق صلح نرسیده اند. مردم افغانستان در زیر سایهٔ تفنگ طالبان زیرعنوان دولت "امارت اسلامی افغانستان" در صلح زندگی نمیکنند زیرا شرط اساسی استقرار صلح پایدار رسیدن به یک توافق ملی بالای شکل، ترکیب و ارزشهای دولت آیندهٔ افغانستان در چوکات یک قانون اساسی است که باید توسط یک لویه جرگهٔ قانون اساسی توسط ملت افغانستان تصویب گردد. طالبان تاکنون در این مورد هیچ اقدامی نکرده اند و هیچ نشانهٔ هم موجود نیست که در مورد کسب مشروعیت ملی برای ادامهٔ دولت خود کدام طرحی داشته باشند.

بعد از دوازده ماه حکومتداری هیچ کشوری، بشمول هیچ کشور اسلامی، دولت طالبان را برسمیت نشناخته اند. همچنان که بیست سال قبل "حقوق زنان" مانع برسمیت شناختن رژیم آنها از جانب جامعهٔ جهانی بود، امروز همچنان "حقوق زنان" مانع اصلی شناخت رسمی رژیم آنها از طرف جامعهٔ جهانی است. علاوه بر رعایت حقوق اساسی مردم و بخصوص حقوق زنان برای تحصیل و کار؛ ایجاد یک دولت همه شمول و جلوگیری از گروههای تروریستی در استفاده از خاک افغانستان برای حمله و نفوذ به سایر کشورها شرایطی اند که جامعهٔ جهانی برای شناخت رسمی در مقابل طالبان قرار داده اند.

کشته شدن ایمان الظواهری در کابل توسط امریکاییان ثابت نمود که افغانستان هنوزهم لانهٔ تروریستان بین المللی است و خطر تروریزم از افغانستان برای منطقه و جهان منتفی نشده است.

با توجه به این حقایق اوضاع جاری کشور که در واقع حاکمیت دوبارهٔ افراطیت مذهبی و بدویت و سرکوب مظاهر تمدن امروزی و ترقی خواهی در کشور است موجب نگرانی عمیق بوده تداوم وضع موجود برای آیندهٔ ملت و کشور افغانستان غیر قابل پذیرش میباشد.

[1] The US has rulling class, Burnie Sanders, The Guardian, Sep 2, 2022.

[2] Dr. Robert Lawrence Kuhn, CGTN 25 Nov 2021

[3] Vijay Prasad, Tricontinental.



# له پوهې سره سليقوي چلند



قدرت الله هيوادپال، کابل

د پوهې يوه ستره ننگونه دا ده چې ناپوهه يې پر ارزښت نه پوهيږي، او هغوی چې پوهيږي هغوی ته ټوله پوهه يوازې خپله ښکاري، ډير ځان په خپل چوکاټ کې پوه گڼي، خو دې ته نه گوري چې دا بايد دا درک کړي چې پر هر څه هيڅوک نه پوهيږي، او پوهه دوامداره پروسه ده.

انسان ډير پيچلی مخلوق دی، مذهب، اخلاق، سلوک، تربيه، پوهه، جنس، کورنۍ، قوم، او داسې نور يوازې د دې د شخصيت يوه برخه ده، که يو څوک ښه مذهبي شخص وي، دا په دې معنا نه ده چې په هر څه کې دې ښه وي، يا دې ښه مسلکي او پوه هم وي، که څوک په دنياوي چارو کې ښه بريالی وي، پيسه داره وي، مشهور وي، ضرور نه ده چې په هر څه کې دې ښه وي، موږ ټول د زده کړې ساحې لرو او هغه بايد وپيژنو.

له تير يو کال راهيسې چارواکو د نجونو پر وړاندې ښوونځي قصداً تړلي دي، ښوونې او روزنې ارزښت ته پر کتلو هيڅ دليل توجيه کوونکی نه دی، خو که له سياسي او د چارواکو د نجونو پر وړاندې د عقدوي سلوک او د دوی که نااهلۍ له بحثه تير هم شو او يوازې د ادارو د چارواکو په توگه ورته فکر وکړو، نو بيا هم د مسؤلينو په توگه دوی د خدمت ارزښت پر درکولو د هغې وړاندې کولو مسؤل دي، نه دا چې هغه وړاندې کيدونکی خدمت وارزوي او د خپلې نااهلۍ لپاره دلايل ولټوي.

او که چيرې د دې خدمت له وړاندې کولو سره ستونزه لري، نو چا په زوره دغې چوکۍ او مسؤليت ته نه دي راوستي، په مخه يې ښه، بل چا ته دې دا چوکۍ مسؤليت پريږدي.

نااهلي د مهارت او اړونده سلوک نشتوالی دی، هر کله چې يو چا ته مسؤليت سپارل کيږي، نو هلته د دندې اړونده چارو کې د رزونې بحث راځي، يعنې دا شخص بايد دې مسؤليت اړونده مهارتونه او سلوکونه زده کړي، يوازې خان ته پر غوړه مالۍ، ځان يا يو بل ته د سترو لقبونو پر ورکولو او د ژمن او متقي پر ټاپو نه کيږي.

خلک زده کړه له تربيې سره تړي يا د ښوونکي او زده کوونکي اړخ ورکوي، يا د يوه ورکړه ده او د بل اخيستل، خو دې ته نه گوري چې مشوره ورکول پخپله روزنه ده، يوه چا ته ښه لار ښودل روزنه ده، له يو چا سره پر يوه موضوع بحث کول روزنه ده.

د گوگل زده کړه د مسلکي زده کړې مترادفه نه ده، له ډيرو خلکو سره چې بحث وکړې څرگنده پرې پوهيږې چې يو څو اصطلاحات يې گوگل کړي او په هره جمله کې يې بادوي، د ټولو بحث له فيسبوک څخه راخيستل شوی وي، يو څوک د مسلکي شخص فيسبوک پوسټ راواخلي شريک يې کړي، بيا له هغه شخص زيات دا ورته خوشحاله وي چې زه هم همدومره پوه يم.

زموږ هيواد له ستونزمنو حالاتو تيريږي، دلته بايد له همفکرۍ، غوړه مالۍ، جامو، ژبې، سيمه ييزې پيژندنې او انډيوالۍ زيات لياقت او ظرفيت ته ارزښت ورکړل شي، مهمه نه ده چې تاسې څومره تکړه ټيټ رتبه چارواکي ولرئ که چيرې مشر پر کار پوه نه وي يا ورته واياست چې خير دی زده به يې کړي، نو تر څو چې يې زده کوي داسې ډيرې پريکړې به يې کړي چې د ټولو خانه به يې ورخرابه کړې وي.



دا چارواکي به ښوونځي پرانيزي يا به يې ولس پرانيزي يا پر خيرات روان نظام د نور خيرات او مرستو جذبولو لپاره به سياسي پريکړې وکړي او هله به يې پرانيزي، خو که دا سبا يې

هم پرانیزي، دا زموږ د اولادونو چې دومره وخت راضایع کړ، د دې ځواب به څوک وايي.

پوه وګړی د هېواد وياړ وي، هغه له ځان سره نور هم رسوي، تاريخ او نن له بېشميره بېلګو ډک دی چیرې چې هېوادونو له پرديو پوهو غوښتي چې راشي او د هېواد په ابادۍ کې ورسره برخه واخلي، همدا پرون عربي اماراتو تکړه کاري ځواک لپاره د ويزو او اقامې اخيستلو نوي آسانه اصول معرفي کړل.



زموږ پوهو هيوادوالو ته د ګاونډيانو بد رد، شکنځل او تحقير منل له اوسنيو چارواکو سره له ګوزاري ښه ښکاري.

د کډوالۍ او سفر ستونزې مني خو پدې هېواد کې ورته ګوزاره ستونزمنه ښکاري، دا هغه هیوادوال دي چې پر کار پوه دي او فکر کوي چې په نوره نړۍ کې ځان ته کار موندلی شي، ماهره کاري ځواک د ميوه داري ونې په توګه وګورئ، چې د هغې کرل، سترول، پالل او ساتل څومره وخت او ستونزمن کار دی، خو د تبر له يو ګوزار سره څو کلنه ونه له منځه تللی شي.

د حاکمو طبقو ستره ستونزه دا وي، چې دوی مفکورې او مهارت تر منځ پر فرق ځان نه پوهوي. مبارزې پر زنده باد او مرده باد ښې ښکاري، خو بس همدومره يې ګټه ده چې خلک راشي د زنده باد او مرده باد چيغې ووهي، د زړه کوفت وباسي او نوره خبره خلاصه شي، که چیرې دا مبارزین له ځان سره ښه متخصصین او ماهره مشران ونه لري، چې د خلکو دا کوفت يو لوري ته رهنمايي کړي نو کله چې خبره خرابه شي بيا به ټول يو بل ته ګوري او نه به پوهيږي چې څه وکړي، خو لکه چې هغه متل کا د «د غوايانو په جنګ کې تاوان د کانو بوټو وي» غرق به نور کړي، نو به بيا هم خپل جهل او سرزورۍ ته دلايل لټوي.

هېوادونه، ټولنې، کورنۍ، اشخاص پر مهارتونو آباديږي، زنده باد او مرده باد نه غواړي، ډير نظامونه چې دا مهارتونه ولري، خپله د مرده باد ښکار شي.

زه يې دلته اسلامي او کلتوري دلايل نه يادوم، ځکه هغه بې ځايه دي، او ډيرو پوهو او عالمو خلکو يې دغه دلايل ننګولي دي، يوازې دومره ده چې د عامه خدمتونو مسؤلينو په توګه به دوی سبا ځواب وايي، دا چوکۍ او واک چا ته نه پاتيږي، هغې لور او خور، او د هغوی ميندو او پلرونو ته دوی څه ځواب لري، چې خپل رب ته يې لاس اوچت کړی او سترګې يې له اوښکو ډکې دي.

**بس دی، له ځانه فرعونان مه جوړوئ، چې خلک بيلچه په لاس شي.**


## د دعوت رسنیز مرکز ملاتړ وکړئ

له موږ سره د مرستي همدا وخت دی. هره مرسته، که لړه وي یا ډیره، زموږ رسنیز کارونه او هڅې پیاوړې کوي، زموږ راتلونکی ساتي او زموږ د لا ښه خدمت زمینه برابروي. د دعوت رسنیز مرکز سره د لږ تر لږه $/10 ډالر یا په ډیري مرستي کولو ملاتړ وکړئ. دا ستاسو یوازې یوه دقیقه وخت نیسي. او هم کولی شئ هره میاشت له موږ سره منظمه مرسته وکړئ. مننه

د دعوت بانکی پته: DNB Bank AC # 0530 2294668

له ناروی بهر د نړیوالو تادیاتو حساب:NO15 0530 2294 668

د ویپس شمېره: Vipps: #557320

## Support Dawat Media Center

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month.

Thank you
DNB Bank AC # 0530 2294668
Account for international payments: NO15 0530 2294 668
Vipps: #557320

# د طالبانو د امارت د حتمي سقوط عوامل

محمد سلیم

د تېرو څه باندې څلورو لسیزو راهیسې، په افغان ولس بې رحمه جګړه روانه ده، دې ولس لا ډېر پخوا د جګړو او ناکراریو تحمل له لاسه ورکړی ؤ خو بیا هم جګړه روانه ده. د تېر کال (۲۰۲۱) تحول ته یو څه خلک په دې خوشاله وو چې نور به د جګړې لمن ټوله شي، کېدای شي چې روانه جګړه چې د اسلام په نامه روانه ده او تر شا یې پردي استخباراتي دي د طالبانو د اسلامي تحریک پر وراندې ممکن د اسلام په نامه بله ډله را پورته نه شي. او ښایي چې د ګاونډیو استخباراتو نور له جګړې لاس په سر شي او خپلې ګټې د افغانستان په سوله کې ولټوي. همدارنګه دا اټکل هم ؤ، چې طالبانو نړۍ ولیده، ممکن داسې نور د افغان ولس په پټیو ملهم کېږدي او داسې کارونه وکړي، چې په خپلو کړو سره د افغان ولس زړه خپل کړي خو تېر یو کال ته په کتو داسې داسې نښې او نښانې ډېرې دي، چې دا جګړه ممکن ختمه نه شي او ژر ده چې طالبان هم په یو جنګ واوړي او بالآخره له منځه لاړ شي. ممکن د طالبانو د له منځه تلل ډېر داخلي او پټ عوامل ولري، خو ددیني ارشاداتو، تاریخي شواهدو او طبیعي قوانینو په رڼا کې لاندې عوامل له ورایه څرګندوي چې طالبانو حتما ژر تلونکي دي:

**د مشر اطاعت:** طالبان د ملاعمر په څېر د ملا هیبت الله اطاعت نه کوي. د بېلګې په توګه، ملاصاحب امر وکړ چې ځنې کمې، ډېر ودونه مه کوئ او لغړزني له صفه وباسئ. خو ټول وینو چې طالبان لا ځنور دي، د طالب چاروکو ودونه په درز روان دي او صفونه خو لا څه کوي بلکې د قوماندانونو او وزیرانو ګاردان هم لغړزني او اطفال دي. حال دا چې دیني نصوص (قرآن کریم) څو ځایه صریحا فرمایي، چې د امیر په بې اطاعتۍ سره ناکامي حتمي رامنځ ته کېږي.

**ژمنه:** طالبانو په تېرو شلو کلونو کې په مراتو او کراتو دا [ژمنه او وعده] کوله، چې موږ په حکومت کې ټول خلک شریکوو، د ښځو حقوق ورکوو، د تعلیم حقوق ورکوو او کار به اهل کار ته سپارو. خو چې د ریښتیا میدان راغی. میم زورما ټول د ملا شول. په دې سره طالبانو له ولس او له مسلمانانو سره وعده خلافي وکړه او وعده خلافي د منافق کار دی. نبوي ارشا دی چې "آیة المنافق ثلاث، اِذا وعدَ اخلف" او منافق د الله له نصرت څخه هرو مرو محروم دی.

**امانت اهلو کسانو ته سپارل:** طالبانو د الله امر او قرآني ارشاد (اِن الله یأمرکم أن تؤدی الأماناتِ اِلی أهلِها). په تحقیق سره الله تاسې ته امر کوي چې امانتونه خپل اهل ته وسپارئ. مګر طالبانو مسؤولیتونه اهل کسانو ته نه بلکې خپلو ملګرو ته وسپارل. آیا دا کوم منطق مني چې د روغتون مشر دې ملا وي، د برق مشر دې ملا وي. د نبي کریم ص حدیث دی چې کله مسؤولیتونه نا اهلو ته وسپارل شول، نو د قیامت انتظار کوئ. نو د طالبانو د حکومت قیامت به خامخا او ژر قایمېږي.

**مسلکیتوب:** طبیعي قانون وایي چې که یو موټر داسې چا ته په لاس ورکړې چې موټروان نه وي. هغه به یې یا ښخې نه چالانوي اویا به یې کندې ته غورځوي، هم به ځان او هم به نور متضرر کوي. طالبانو همداسې وکړل. د حکومت چارې یې غیر مسلکي خلکو ته وسپارلې. دوی به په دې سره هم ځان او هم افغان ولس د غم په تغر کښېنوي.

**طالبان او نړۍ:** نړۍ اوس یو کلی او یو تغر دی او دا هېوادونه د کورونو حیثیت دي. څوک چې په کلي کې اوسېږي نو کلیوالي به کوي، له کلیوالو سره به غاړه وړي، مګر که کلي ته یوه داسې نوې کېږه راشي او په کلي کې واړوي، چې د کلي خبره نه مني،



نه هم د کليوالۍ اصول مراعاتوي، نو آيا کليوال به داسې کډه په کلي کې پرېږدي؟ هېڅکله نه! طالبان هم همداسې دي. يا به کليوالي کوې يا به له کلي شړل کېږې.

**له طالبانو د ولس تمه:** تاسې به ليدلي وي چې په کورنيو کې ځينې نوی زلمکيان او نوجوانان بې مسؤوليته او سرشاره وي او کورنۍ يې هم تحمل کوي. وايي خير دی. ښه به شي... لږ يا ډېر جيب خرڅ هم ورکوي. خو چې کله واده ورته وکړي بيا اجازه نه ورکوي، چې بې مسؤوليته وګرځي. بيا بايد د کور مسؤوليتونه ادا کړي، ګټه وټه راوړي. که داسې و نه کړي، نصيحت ورته کوي، ګواښ ورته کوي او که نه شي نو له کوره يې پسې اخلي. طالبان هم کټ مټ همداسې خلک دي. له حکومت نيولو مخکې خلکو بې مسؤوليته خلک بلل، خلکو ساتل، ګيله يې نه ترې کوله. مګر اوس ولس له دوی څخه کارګوارې، ډوډۍ ترې غواړي، هوښياری ترې غواړي، د هېواد ښه مديريت ترې غواړي. خو متاسفانه چې طالبانو لا خپل مسؤوليت نه دی درک کړی. د خلکو ساندې، چيغې او ويرونه نه اوري. دا لا پسې وايي چې (چيشئ غواړئ!!). لکه څنګه چې بې مسؤوليته شخص له کوره شړل کېږي همداسې به طالبان د افغان ولس له کوره شړل کيږي. لوږه له پيشو زمری جوړوي. په تنګه آمدي به جنګ آمدي. ولس به له دې حالت څخه پتنګ کېږي او په جنګ کېږي به.

**د خلکو پر وړاندې د طالبانو ذهنيت:** طالبان ځان فاتح ګڼي، داسې فاتح لکه سلطان محمود غزنوي چې ډيلی فتح کړی وي. طالبانو ته له طالب، ږيرور او لونګۍ واله پرته نور ټول خلک پردي (بېګانه) ښکاري، نه په حکومت کې ځای ورکوي، نه يې مشوره مني او نه هم د خپل ولس په خېر چلند ورسره کوي. که هره ملي موضوع وي، په پته تېرېږي، [يوازې طالبان، د طالبانو کورنۍ او د طالبانو خپلوان خبر وي]، نور ولس په تپه تياره کې ساتل شوی. ايران ته اوبه ورپرېږده، پاکستان ته زغال په کلدارو ورکړه....ظواهري په هوايي حمله کې مړ شو... د افغانستان په حريم بې پيلوټه ګرځي... هر څه د پردې تر شا روان او ولس ته سپيناوی نه ورکول کېږي. ولس په دې نه پوهېږي چې دا ولس کومې خوا ته روان دی، څه به کېږي آخر دا څلويښت ميلونه نفوس حق نه لري چې په ملي مسايلو کې وپوښتل شي. خبر شي، نظر ورکړي او نظر يې ومنل شي.!!!

**طالبان او مخالفين:** طالبان له خپلو مخالفينو (په ځانګړې ډول له اهل حديثو سره) سره داسې ستوغ، سپور او بې رحمه چلند کوي لکه امريکايانو چې له دوی يا هم ددوی په تور له بېګناه خلکو سره کاوه. د امريکايانو بمباريو، وژنو، چاپو طالبان کم نه بلکې زيات کړل، په بې مسؤوليته وژنو يې ولس خفه کړ، همداسې به د طالبانو دا بې رحمه چلند، بې محکمې وژنې او حلالول د هغوی مخالفين لا ډېر کړي، کرکه او نفرت به لا ډېر شي. وينه په وينه نه مينځل کېږي، په زور کلي نه کيږي. خو طالبان همدا کار کوي. چې پايله به يې کټ مټ د تېر حکومت په څېر وي. الله فرمايي: (و اِن کنتَ فظاً غلظ القلبِ لانفضُوا مِن حَوْلِکَ) که ته سخت ژبی، سخت زړی وی نو دوی به له تا لرې شي. چې د ولس همدا حال دی. تاسې يوه سروې وکړئ چې خلک له طالبان له خلکو څومره خفه او مايوسه دي.

**طالبان پرون او نن (خلک څه وايي):** هغه ورځ چې طالبانو پنجشير سقوط کړ، زه د واده د مراسمو لپاره کلي ته تللی وم. د کلي خلکو ويل: طالبانو خو حکومت ونيو نو الله دې مرسته ورسره وکړي او الله يې دې هوښيار کړي چې سم حکومت وکړي! څو ورځې مخکې ياني د طالبانو له راتلو لس مياشتې وروسته بيا همغه کلي ته د بل واده د مراسمو لپاره لاړم. ټولو خلکو طالبانو ته ښېراوې کولې. ګيلې يې کولې او مايوسي يې څرګندوله. دا حالت همداسې نه پاتې کېږي ژر ده چې همدا خلک د تېر حکومت په څېر د طالبانو مخالفينو ته ځای هم ورکړي. مرسته ورسره وکړي او بالآخره له طالبانو ځان خلاص کړي.

**خلک څومره هيله من دي:** په ۲۰۰۱ کال کې چې کله تېر حکومت راغی له نړۍ او افغانانو سره د نوي ژوند هيلې را وټوکېدې، مليونونه کډوال را ستانه شول، پانګونې پيل شوې، له نړۍ سره پراخ راشه درشه پيل شول، تر دريو څلورو کلونو پورې نه ټک ؤ او نه فير. خو له دومره جوش او هيلو سره د مخالفتونو او جګړو له کبله د افغانستان نظام سقوط شو. اوس چې طالبانو نوی حکومت جوړ کړی، له لويه سره د خلکو هيلې مړې دي، نه پانګونه شته، نه هم ګډونوال راتلو ته زړه ښه کوي، هر مسلکي او لوستی افغان د تښتې لار لټوي، ټول خلک په تېښته دي. لا يو کال نه دی تېر شوی چې د حکومت مخالفينو د جګړې عملي جبهې پرانېستې او جګړه روانه ده. اوس چې نه ولس خوشاله دی او نه نړۍ، نو دا حکومت به څنګه دوام کوي؟ الله ج خو لا ډېر پخوا خفه ؤ.

**رسنۍ سانسورول:** بله هغه ستونزه ده چې د طالبانو لپاره ستر ګواښ پېښولی شي. په تېر حکومت کې رسنۍ آزادې او خلکو [لومړی لاس] معلومات ترلاسه کول. که به کوم معلومات سم نه وو، ډېرو نورو به يې سپيناوی وکړ. اوس طالبانو په راډيو ګانو،

تلویزونونه او چاپي رسنیو کلک سانسور لګولی، ټولنیزې رسنۍ ګواښل کېږي، دې کار ډېرو منفي چینلونو ته لار هواره کړې. اوس خلک له غیر مستقیمو لارو معلومات ترلاسه کوي چې ډېر په کې له ځانه جوړ شوي، له خپتې جوړ شوي او ناسم معلومات هم وي. د بېلګې په توګه انفجار وشي، طالبان یې مړي ۲تنه وښیي، حقیقي ۱۰ تنه وي خو خلکو ته د غیر مستقیمو لارو د مړو شمیر ۲۰ تنو ورسېږی(راپور ورکوونکی قسم پسې وخوري چې ما خپله وشمېرل). په دې سره پر طالبانو د خلکو اعتماد ته شدیده ضربه وارېدونکې ده.

**دروغ ویل:** دروغجن د الله دښمن دی او وعده خلافي د منافق صفت دی. له کومې ورځې چې طالبان د واک په ګدۍ ناست دي، متاسفانه سخت دروغ وایي. په دې دروغو سره هم الله سخت خفه کېږي او هم ولس. د یو حدیث شریف له مخې دروغ هغه وخت لا ډېره ګناه ده چې د مشر او زورور لخوا وویل شي. ناوې به الوتکه کې خوست ته وړل کېږي د لوګر او خوست خلک یې په سترګو ویني، خو طالب ویاند له کابله وایي: خدای او قرآن. داسې پېښه نه ده شوې. په حضوري چمن کې په کرکټ چاودنه کېږي ۱۹ تنه مړه کېږي، خلک جنازې پورته کوي. طالب ویاند وایي: نه نه، یوازې دوه تنه مړه شوي. د پنجشیر له جګړې د هلمند نوزاد، موسی کلا یا بلې ولسوالۍ ته په لسګونو وژل شوي طالبان وړل کېږي، خلک یې جنازه کوي، خو طالب ویاند قسم خوري چې هېڅ جګړه نه ده شوې. ایمن ظواهري وژل کېږي، طالب وایي شی لا نشته. بل طرف ته طالب مشران وایي: ټاپي پروژه په دوو میاشتو کې شروع کېږي، خو کال وځي درک یې نشته، د کندهار برق په راتلونکي اونۍ کې ۲۴ ساعته کېږي-میاشتې وځي درک یې نشته. د نجونو زده کړې په حمل کې شروع کېږي- کال وځي دوی طرح نه شي ورته جوړولی...

**پاکستان:** طالبانو دغه نزاکت نه درک کوي چې افغان ولس له پاکستان څخه سخت نفرت لري. افغانان په دې باور، عقیده او یقین دي چې د پاکستان آی ایس آی په طالبانو نفوذ لري خو طالبان بیا هم پاکستانیانو ته سر ځړولی وي، چې دا د افغان ولس په غرور سخت ګوزار دی. افغانان ډېر د شرم احساس کوي چې مشران یې پاکستانیانو ته سر کښته نیولی وي. یا پاکستانی سفیر او یا یې چارواکي د افغانستان په استازیتوب ملاقاتونه کوي او یا ویناوې کوي. د ولس له لاسه ورکول د حکومت د لاسه ورکولو په مانا دي.

**غرور او تکبر:** د انسان تباهي ده. متاسفانه طالب چارواکی، چې کله په ضد زرې موټر کې سپور شي او یا چې کله د قوماندانۍ، وزارت، ریاست... په چوکۍ کېښني سخت د غرور احساس کوي حال دا چې الله ج فرمایي: (اِن اللهَ لایُحبُ منْ کانَ مُخْتالاً فَخوراً)، بېشکه چې الله کبرجن او مغرور نه خوښوي. له طالب چارواکی سره په اداره کې یوه خبره نه دوې کېږي. په سړک مو که د طالب د موټر مراعات و نه کړ ښکنځل درته کوي. چې کله په یو ځای کې (شفاخانه، هوایي میدان، د کومې اداري دروازه کې) نوبت او کتار ولاړ وي، طالب والله که پکې و دروي. ټول خلک ورته انسانان نه ښکاري تر نوبت او کتار تېر شي او خپل کار وکړي. چې دا د خلکو لپاره سخته ځورونکې ده. شل کاله دې د قانون لپاره جګړه وکړه او په اخر کې یې په خپله پایماله وې او قانون ته احترام نه لري...

**له ولس سره توپیري چلند:** که مو لونګۍ او وېره وه او قواره مو طالب ماډله وه نور نو که غل، سارق، فاسق او فاجر هم وي د طالب په اداره کې له پیره داره تر وزیره ستا احترام شته او که دا نور خلک که هرڅو باعزته، درانه او لوړ شخصیتونه لرونکي وو بیا هم تر تا ښه نه دي. طالبانو ته د لیاقت پر ځای شناخت او قومیت مهم دی.

**له استخباراتي لوبو ناخبرتیا:** طالبان پاکستان ته دومره په احترام قایل دي چې ځوک به مور ته هم دومره درناوی و نه کړي. حال دا چې پاکستان یو ځل پخوا طالبان خرڅ کړل. بیا یې همدا طالبان د افغانستان د پرمختګ د مخنیوي او نظام او اردو د ړنګولو لپاره وکارول. اوس یې په پټه په خپلو طالبانو پسې را اخیستې، د داعش او یا نورو تخریباتو لپاره په همدومره پیمانه کار کوي لکه د تېر حکومت د راپرځولو لپاره یې چې د طالبانو په لاس کاوه. دا څنګه داعش دی، چې دهندونستان د سفارت د پرانېستو له اعلان سره سم په کابل کې په هندوانو انتحاري حمله کوي؟!. دا څنګه داعش دی، چې د کرکټ په میدان کې انتحاري کوي!! دا څنګه داعش دی چې د پنچشیریانو په جومات حمله کوي؟ دا کار ددې لپاره کېږي چې د طالب پر وړاندې قومي کرکه زیاته کړي. یا نه غواړي چې افغانستان هند ته نږدې شي. په بدل کې متاسفانه طالبان د خپل ولس او خپل ملت د [خوښی، رضایت او ملاتړ] په قیمت پاکستانیانو ته سر کښته اچولی وي. طالبان چې هر څومره پاکستان ته ځان پاک او صادق وښیي، پاکستان به افغانستان منظم کېدو ته پرېنږدي. همدا پاکستان دی، چې د پاکستان د افغانستان خارجي سیاست

کنټرولوي، د نجونو د زده کړې مخه يې نيولې، په مخابراتي سکتور کې دخيل دی، په استخباراتي دستګاه کې دخيل دي. لنډه دا چې د امارت د کنټرول لپاره يې اسټبلشمېنټ را منځ ته کړی او هرڅه دوی کنټرولوي.

**د ولس اعتماد:** طالبان عقيده لري چې ولس يې تر شا ولاړ دی. خو دا پوښتنه نه کوي چې دي ولس ته دوی څه ورکړي چې تر شا يې و دربېږي! امريکا لاړه پاکستان راغی. د ښار او کلي اکثره بې بندوباره او بې مسؤوليته خلک ددوی ليکو ته ورغلل. کاری فرصتونه نشته، د آبادی او رغونې کارونه د قوشتېپې له کانال پرته نور هر څه په ټپه ولاړ دي. خلوېښت مليونه نفوس چې پخوا يې له نړۍ سره راشه درشه لرل ، تلل او راتلل، اوس د افغانستان په جغرافيه کې بند پاتې دي. نه يې څوک په رسميت پېژني، نه څوک ويزه ورکوي او نه هم آزادانه چېرې تګ راتګ کولی شي. حتی پاکستان هم ويزې پرې بندې کړې دي... دا ټول د ولس اعتماد په تبر سره وهي. د ولس اعتماد د يو حکومت د ملا تير او د بدن ساه ده، چې ولسي ملاتړ نه وي، چې ټوله نړۍ درسره وي، سقوط مو حتمي دی.

**امر بالمعروف او نهی عن المنکر :** د طالبانو د معروف او منکر چارواکي ډېر غير مسلکي چلند کوي. قصدا داسې چلند کوي چې هم نړۍ او هم افغاني ذهنيت او خاطر زخمي کړي، او طالبان د نړۍ او د افغانانو په سترګو کې منفور کړي. افغان ولس له محدوديتونو په تنګ کړي. أدعُ اِلی سبيلِ ربکَ بالحکمة والموعظة الحسنةِ. دا آيت کريمه د دعوت ترټولو خونددوره او جامعه پاليسي په ګوته کوي خو طالبان سل په سل ددې تګلارې په ضد روان دي. دا وزارت چې هر فرمان صادروي نو د ښځو په اړه ضرور يو ترخه څه وراچوي او هغو ته ښه رسنيزه هوا هم ورکوي ترڅو طالبان د نړۍ او د خلکو په سترګو کې منفور کړي. طالبان چې د خلکو له زړو ولوېږي له حکومت څخه به هرو مرو لوېږي.

**د طالبانو داخلي اختلافات:** طالبانو کې يو د حقاني شبکه او بل هم کندهاريانو يا د برادر ډله ده. دوی له خلکو خبره پټوي خو سخت اختلافات لري. په تېره د ايمن ظواهري په مړينه کې حقانيانو (چې اکثره نظاميان دی) د کندهاريانو (چې اکثره يې سياسيون دي- د قطر ډله هم ده) ټولې سياسي هڅې په اوبو لاهو کړې. د تاشکند په کانفرانس کې طالبانو يو څه اعتماد ترلاسه کړی ؤ خو پاکستان د حقانيانو په شعوري يا لا شعوري کار سره هرڅه صفر ته کښته کړل. د دوی د اختلاف يو مثال: په کندهار کې د اسد په ۲۸مه لويه غونډه وه. يو حقاني طالب هم ورته را نغی. حال دا چې اختلاف ديوې ډلې د له منځه تلو اصلي عامل دی. الله فرمايي: (ولاتنازعوا فتفشلوا) يعني اختلاف مه کوئ او که نه ناکام به شئ. نو چې طالبان اختلافات لري ناکامي يې حتمي ده.

**د نړۍ دوه بلاکه او طالبان:** اوس نړۍ دوه بلاکه شوې، يو د امريکا بلاک دی او بل د روسيې او چين. طالبان هېڅکله دومره مهارت نه لري، چې له دواړو بلاکونو سره لوبه وکړي. او دواړه بلاکه خوشاله وساتي. ښکاري چې په تېر يو کال کې طالبانو دا توازن ونه شو ساتلی. نو ژر ده چې ددوی وسله وال مخالفين بهرنی مالي او تسليحاتي ملاتړ ترلاسه کړي او ددوی پر وړاندې جنګېږي او بالآخره يې را وپرځوي. **لنډه دا چې زما په غالب ګومان طالبان ډېر په چټکۍ سره د خپل سقوط په لور روان دي که دا سرعت کابو نه کړي نو ژر ده چې افغان ولس په يو بل ناورين واوړي.**

## شکسپير وايي :

- زه تل خوشاله يم، پوهېږئ ولې؟
- ځکه چې له هيچا څخه د هيڅ تمه نلرم، ژوند لنډ دی، له ژوند سره مينه پکار ده، خوشاله اوسه او موسيږه ... خاص د ځان لپاره ژوند وکړه او مخکې له دې چې خبرې کوې، غوږ ونيسه.
- مخکې له دې چې ليکل وکړې، فکر وکړه.
- مخکې له دې چې خرچه کوې عايد ولره.

احساس ولره، ژوند وکړه او خوند ترې واخله.

- مخکې له دې چې دعا کوې، ببښنه کوه.
- مخکې له دې چې په چا ګوزار کوې، په ځان کې يې احساس کړه.
- مخکې له دې چې نفرت وکړې، مينه وکړه.
- ژوند همدا دی...



# پـوهـاوي




## استاد عمر پاځون

د پوهاوي تر عنوان لاندي ډاکتر محمد فريد بزګر صيب ډيره شايسته، په زړه پوري او ګټوره ليکنه کړي وه.

د ډاکتر صيب د (پوهاوي) ليکنه دوه دري کرښي وه. خو کتابونه خبري پري کيداى شي.

ډاکتر صيب ليکلى و چي اوس موسم د تازه ميوو دى زردالو، شفتالو، هندوانه، خربوزه....

څه وخت چي دا تازه ميوي نوشجان کوئ مندکي (زړي) يي ساتى د خپل کور په حويلي، په پټو کي هر ځاى چي وي ښخوى يي. دا په راتلونکي نيالګي او د ميوو باغونه دي.

بزګر صيب وړاندي ليکلى دي چي دا تجربه په ماليزيا او اندونيزيا کي روانه ده چي ډيره ښه پايله يي ورکړي ده.

زه به پري دا زياته کړم دي کار کي هم خرما هم ثواب دى. رسول الله (ص) په بيلابيلو ځايونو کي ځو ځلي فرمايلي دي. چي وني لګول، کرل، اينښودل او ساتنه يي صدقه يي چاريه ده. دي ونو څخه چي الوتونکي (مرغان)، حيوانات، انسانان چي په کل کي ټول مخلوقات څه خوري په صدقه جاريه کي حسابيږي حتى چي د دي نيالګيو ايښودونکى او ساتونکى ته پس له مرګه هم ثواب رسيږي.

ما مخکي وويل چي ډاکتر بزګر صيب د پوهاوي په ليکنه کي کتابونه خبري دي.

ما چي د ډاکتر محمد فريد بزګر صيب (پوهاوي) ليکنه لوستله، فکر مي ډير شاته لاړ. خپل کلى او خپل هېواد مي مخ ته ودرېد.

د ظاهر شاه وختونه وو.

زه د خپل هېواد د يو داسي کلي اوسېدونکى يم چي موږ په توتانو ماړه نه وو د انځر د يوي وني څخه به دوه دري کورنيو انځران خوړل. دومره تنبله قوم يو چي د بيلابيلو ميوو نيالګي ايښودل هم راته ګران وو. الله (ج) په قران شريف کي فرمايي: (څنګه يي ملتونه همداسي يي حکومتونه) حکومتونه مو ناراسته او ملت مو هم ناراسته.

افغانستان يو کرنيز هېواد دى٪۸۵ خلک مو په کرهڼه کي مشغول دى مګر زموږ په تعليمي نصاب کي په ليسو کي يو کرهنيز مضمون نه تدريس کيده.

يو انډيوال مي قصه کوي کلى ته په رخصتۍ لاړم. ورور به سبزي ترکاري سهار وختي له بازاره راوړله. ورور مي بزګر هم وو. ورور ته مي وويل چي ورروه باغچه جوړه کړه بانجيان، روميان، پياز، نانا، ګندنه کره. خپله به يي هم خوري نورو ته به دي هم خير رسيږي. ورور مي راته وويل: اوس رانه باغوان جوړوي. بلا ورځ څه خبره راغله. ورور ته مي وويل: يوه غوا ساتي. دوه غواګاني واخله پنير جوړوه، غوړي باسه خپله يي هم خوره، خرڅوه يي هم.

په تريو وچولى يي راته وويل چي ما چوپان کوي. راته وايي چي ماته دا وايه چي زه ډالري ليږم ته يي خوره څکه او ملکي کوه.

انډيوال راته زياته کړه چي موږ داسي قوم يو وروړ ته ښه لار ښايو نه يي مني.

يو ورور يي عربو ته لاړ شي. دلته يي ورووڼه د لونګيو شملي جګي کړي هر چا ته به وايي ورورو مي په عربو کي دى. په عربو کي به يي ورورو د سمنټو بوري په اوږو څلورم پوړ ته خېژوي.

پخپل کلتور کي ځومره منفي متل لرو: (يو يي ګټي او سل يي ښتي). کاشکي ټول ورووڼه کار وکړي.

د لوستونکو حوصله غواړم خبره لږه اوږده شوه. مخکي مي وويل چي موږ په توتانو ماړه نه وو.

موږ په کلي کي دوه قسمه توتان لرو يوه ته قلمي او بل ته خڅک وايو قلمي توتان په شوق سره خورو خو قلمي توتان پوره نه لرو او زموږ ناراسته ولس دا خڅک توتان به نه قلمول.

خڅک توتان د قلمي توتانو څخه خواږه دي خو په کلي کي خلک د خڅک توتانو خوړل شرم بولي. بيا يو قسم تور توتان دى د تورو توتانو خوراک شرم د پاسه شرم بولي.

موږ شرم نه پیژنو چې شرم څه ته وایي
په پور پیسې اخلو خو کار نه کوو.
لیکنه مې اوږدیږي څه وکړم زړه مې ډک
نه بلکه شین دی.
تاریخ کې مې لوسته چې انګریزانو سره په
لومړی او دوهمه جګړه کې زموږ ټټارانو
د جزائیل په نامه ټوپکونه جوړول چې د
انګلیسي ټوپک څخه به زموږ ټوپک ښه
رسا او لیرې ویشتلی شوه.
انګریزان زموږ د ټټارانو په لاس جوړ شوی
ټوپکو څخه ډیر په تنګ راغلل (یو انګریز
ویلی چې د جزائیل ټوپک اواز رابانديې
لکه د توپ دز لګیږي).
انګلیسیان په دې فکر کې شول چې ادا
ټوپک څنګه ورک کړي. نو یو پروپاګند
یې پیل کړ چې جزائیل ټوپک چې څوک
جوړوي ادا ډیر سپک خلک دي چې ټټاري
د ډیر شرم کار او کسب دی. ادا
پروپاګند دومره پراخ شو او دومره لوی
کار یې وکړ چې زموږ ټټارانو د خپل ټوپک
جوړولو څخه بېزاره شول. همدا د شرم
پروپاګند دومره پراخه شو چې بیا عام
هنر باندې خلک شرمېدل لکه کولالي،
جولاګري، زرګري، اهنګري.... چې تر
ننه ادا کلتور عام دی.
زموږ لیکوالانو ته په کار دي چې د دې
منفي کلتور په ضد لیکنې وکړي تر څو
دې منفي کلتور ته د پای ټکی کیښودلی
شي چې هنر نه باید شرم بلکه خلک پرې
وویاړي لکه په لویدیځ کې د یو سړي
څخه د نوم پوښتنه وکړی نوم به یې
زرګر وي، نجار، ټټار، اهنګر.... وي چې
ورڅخه بیا وپوښتنې چې زرګر یې؟ وایي
نه پلار مې زرګر وو.. همداسې د نورو
کسبونو نومونه به د ځان ویاړ بولي.
حمزه بابا وایي:
چې د سیال لاپې وهي وایه هنر دې څه
دی؟
د روسانو او امریکایانو یرغل سره چې
افغانان مهاجر شول په هجرت کې تعلیم
یافته افغانان په شاقه کارونو بوخت وو
ولې چا چې یو لږ و ډیر هنر یاد وو ولو که
نالی توب هم وو یا په همدې کسبونو چې
پورته یاد شول څه پوهېدل. ډیر ښایسته
کارونه یې پیدا کړل چې ډیر ارامه خپل
ژوند یې په هجرت کې پیل کړ.
درنو لوستونکو خبره به لنډه کړم!
هغه ولسونه او ملتونه رسېدلی دی چې
کار ته یې کار ویلی دی پخپله لاس په
کار شوي دی. خپل هېواد یې پخپلو
لاسو، پخپلو کمو امکاناتو اباد کړی دی.
لوی الله تعالی دې ادا توفیق موږ ټولو ته
راکړي چې خپل هېواد خپله اباد او خپل
ملت ښاد کړو . امین

## د دعوت رسنیز مرکز ملاتړ وکړئ

له موږ سره د مرستې همدا وخت دی. هره مرسته، که لږه وي یا ډیره، زموږ رسنیز کارونه او هڅې پیاوړی کوي، زموږ راتلونکی ساتي او زموږ د لا ښه خدمت زمینه برابروي. د دعوت رسنیز مرکز سره د لږ تر لږه 10/$ ډالر یا په ډیرې مرستې کولو ملاتړ وکړئ. ادا ستاسو یوازې یوه دقیقه وخت نیسي. او هم کولی شئ هره میاشت له موږ سره منظمه مرسته وکړئ. مننه

د دعوت بانکي پته: DNB Bank AC # 0530 2294668

له ناروې بهر د نړیوالو تادیاتو حساب: NO15 0530 2294 668

د ویپس شمېره: Vipps: #557320

## Support Dawat Media Center

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you

DNB Bank AC # 0530 2294668
Account for international payments: NO15 0530 2294 668
Vipps: #557320

# د خرافات ختموني له وسيلي يي ببرته د پنځوني هڅي

زبير افغان

د قران کريم او عربي تاريخ له مطالعې معلومېږي چې عربي ټولنه تر اسلام وړاندې په خرافاتو کې غرقه وه، اصلن دا خبره ډېره پر ځای ده چې «هر ځای علم نه وي، هلته به يې خرافات او اوهام پرستي ځای نيسي»، عربي ټولنه د ساينس په برخه کې بيخي د عهد طفوليت له دورې تېرېده او له دينه تفسير يې مکمل پر خرافاتي ذهنيت ولاړ و، له علمه او عقلانيته خالي ټولنې په يوه وخت کې جالب متناقض باورونه سره لرې، د هغوی يو لور ته دا باور و چې که خدای هر څه کول، هغه کېږي(الانعام: ۱۴۸، النحل: ۳۵) او بل لور ته يې پر فال هم باور در لود، کله چې به يې سفر کاوه، نو يوځل به يې په غشو خپل فال کتی، يا که به يې له مرغانو يا حيوانو د يوه جنس حيوان يا مرغه په مخه ورغی، بس پر ښه فال يا بد فال به يې نيوی، بيا يې يا هغه کار کاوه يا يې پر بدشگون نيوی، ځان يې ځنې ساته.



هره ټولنه چې پر خپلو اوهامو پرستيو د بيا نظر کولو لپاره تياره نه وي، د علم په تله کې خپل باورونه نه تلي، هغه به په يوه وخت کې دغسې په خرافاتي متناقضو باورونو کې ډوبه وي.

قران کريم د هر شي د تقدير او په وړاندې يې د انسان د بې اختياره کېدو ادعا مشرکينو ته منسوبه کړه، د انسان دا وينا چې زما ګټلې دنيا زما د وړتيا نتيجه وه او کله چې مسکين شي، بيا وايي خدای زه په مسکينولو ذليل او سپک کړم، قران کريم يې داسې ځواب کړی دی:

{كَلَّا بَلْ لَا تُكْرِمُونَ الْيَتِيمَ (17) وَلَا تَحَاضُّونَ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ (18) وَتَأْكُلُونَ التُّرَاثَ أَكْلًا لَمًّا (19) وَتُحِبُّونَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا} [الفجر: 17 – 20].

دغسې هيڅکله نه ده، تاسو د بې سرپرستانو درناوی نه کوئ، نه بې وزلانو ته د خوراک لپاره خلک هڅوئ، او په ميراث درته پاته هر څه مو د ځان حق وبلل او د مال (له ډېرولو يوځای کولو سره) مو لېونی مينه ده(هيڅ ډول اصول په نظر کې نه ساتئ).

وګورئ قران کريم د هغه تاوان د هغه اعمالو ته منسوب کړ، دا د تقدير مسلې نه دي چې تاته در کړې دنيا دې هم ستا د اهليت له امله خدای در کړې وي او که در څخه واخيستل شي، بيا هم خدای در څخه اخيستې ده او ستا پکې توهين شوی دی، دا شرکي ذهنيت دی، قران کريم ورته وايي ستاسو د غير منصفانه ټولنيزو اعمالو نتيجه وه چې په دې برخليک يې اخته کړې. هر عمل د خدای له خوا مقدر نه وي، بلکې د اعمالو نتيجه مقدره وي، نو ستاسو عمل پر دې منتج شو چې له دغسې پنبېمانه کوونکي وضعيت سره مخ شوې.

تر دې وروسته قران کريم په ګنو ځايونو کې له اسلاف پرستی منعه کړې ده، په مقابل کې يې انسان له خپله فکر او عقله کار اخيستلو ته هڅولی دی، مګر انسان تر دې هر څه وروسته بيا هماغه پخواني خرافاتي ذهنيت ته وګرځېدی او د تعقل لارې ته يې د الوداع په ويلو، پخوانۍ ناسمه تګلاره د ځان لپاره غوره کړه، قران کريم وايي:

{أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ} [البقرة: 170].

که څه هم د هغوی اسلاف نه په يوه شي پوه شوي وي او نه پر سمه لار وي.

{وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنْزَلَ اللَّهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا أَوَلَوْ كَانَ الشَّيْطَانُ يَدْعُوهُمْ إِلَى عَذَابِ السَّعِيرِ } [لقمان: 21].

او کله چې دوی ته وویل شي: د الهي نازل کړي قانون پیروي وکړئ، دوی وایي: بلکې موږ د هغه څه پیروي کوو چې خپل اسلاف مو پرې موندلي دي، نو که څه هم شیطان یې سوځونکي عذاب ته ور غواړي(بیا هم د دوی تګلاره همدغه ده، بدلولو ته یې تیار نه دي)

د قران کریم پر دې الفاظو فکر وکړئ، د رسول د زماني خلک په اسلاف پرستۍ کې تر کومه ځایه غرق ول؟ اوسنی حالت هم له هغو څخه ډېر بدل نه دی، یوازې دا توپیر دی چې هغوی ته د الهي قوانینو د تابعدارۍ خبره د رسول په خوله کېده، اوس رسول نه شته یو امتي ورته هماغه د رسول خبره تکراروي، د دوی ځواب بیا هم دغه دی چې تر موږ پخواني ښه پوهېدل، ځکه یې پر موږ تابعداري لازمه ده او همدا راته کفایت کوي.

تر پوهاوي وروسته که د رسول په زمانه کې دا تګلاره ګنا ده، نو رسول له زمانې پرته هم تر پوهاوي وروسته دا تګلاره خپلول او نه ځنې اوښتل ستره ګنا ده، د خدای د کتاب قانون د رسول په زمانه کې هم قاطع و او له هغې زمانې پرته هم پر خپل قاطعیت پاته دی.

د عربو جاهلي خرافات یو په یو قران کریم رد کړل، احبار او رهبانو ته د دین واک ور کول، حلال و حرام د هغوی په خوله کول، مرض او روغتیا د هغوی په اختیار کې ور کول، خدای ته څوک نژدې کول یا دهغه په دربار کې یې شفاعت غوښتل یا هم ردول، دوی ته سپارل، د زیارتونو، بزرګانو او نورو خرافاتي عقایدو له مخې حیوانات ورته نذرانه کول، ذبح کول او بې ګټې خوشې کول، پر قبرونو منجوران کېنول، کاهن، فالبین، ساحر، عراف او داسې نور اوهام پرستان د الله کتاب ورټل، دا کړنې یې شیطاني معرفي کړې، خو تر دې وروسته خلک بېرته هماغه خرافاتو ته وګرځېدل، نه یوازې تر پخوا په ډېر شدت ور تاو شول، بلکې دا ځل یې د دې ټولو خرافاتو لپاره د قران کریم یا رسول الله ص ته د منسوبو احادیثو په مټ دیني توجیهات هم ورته وموندل او په دې توګه یې د خدای مخلوق یوځل بیا د کعبې پر ځای ترکستان ته روان کړل.

د قران کریم له الفاظو او اصطلاحاتو یې داسې ناسمې معناوې را وایستې چې نه په عربي ژبه کې پخوا پېژندلې شوې وې او نه د قران کریم په تفسیر کې چا کړې وې، د شریعت او طریقت په نوم دوې لارې ورته ایستل، د شریعت پیروان د هغه په تابعدارۍ مکلف بلل او د طریقت پیروان له دې مبرا کول، یا دا طریقتوالو دا ادعا چې دوی هم علم له هغه ځایه اخلي لکه کومه چې رسول اخیستی و، د یوه طریقتوال دغه لاندې کرښې ولولئ:

ابن عربي په فصوص الحکم کې لیکي:

"له کوم ځای څخه چې نبي علم تر لاسه کاوه، هغه ځای د کامل انسان، صاحب الزمان، غوث او قطب سرچینه هم ده... شریعت پوهان هغه دي چې له قران او حدیث څخه احکام ورکوي، که هلته صریح نه وي، قیاس پر کوي، اجتهاد کوي، خو د اجتهاد اصل هم منقول قران او حدیث وي، ددې برخلاف موږ داسې خلک لرو چې همدغه احکام د کشف او الهام په ذریعه ډاریک له الله څخه تر لاسه کوي. لهذا په دې شرعي حکم کې خلیفة الله دي. نو پر یوه طور د کشف و الهام او د وحې و رسول ماده یو شی دي. صاحب کشف له الله څخه د حکم د طریقې د زده کولو له امله د رسول سره موافق دی، له الله تعالی څخه د علم په اخیستلو کې عیني د رسول په شان دي."

موږ ځکه له دې حالت سره مخ یو، چې پر هغه شریعت مو بسنه ونه کړه چې الله تعالی نازل کړی دی، انسان ته یې په دې د عمل کولو امر کړی دی، له دې پرته یې په دیني چارو کې د نورو شیانو له پیروي منعه کړې دی حتا که له ځانه جوړه طریقه هم وي، یا له بل غیر الهي سرچینې تر لاسه شوې طریقه وي، قران کریم وایي: {اتَّبِعُوا مَا أُنْزِلَ إِلَيْكُمْ مِنْ رَبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوا مِنْ دُونِهِ أَوْلِيَاءَ قَلِيلًا مَا تَذَكَّرُونَ} [الأعراف: ۳] ستاسو د رب له لوري د نازل شوي قانون پیروي وکړئ، له دې پرته د بل هیچا د قانون پیروي (په دیني چارو کې) مه کوئ، تاسو ډېر کم په دې خبره پوهېږئ.

د کرامتونو په نوم دین کې نوې اضافې همدا نتیجه لري، اوس نو څوک د رسول په شان له خدای د ډاریک احکامو دعوه کوي، څوک د بل نبوت دعوه کوي، څوک په کرامت زنا او فحاشیو ته

لاره جوړوي، څوک د خدای په نوم ډېرو حرامو ته د حلت مقدس(اصلن غیر مقدس او شیطاني) جواز لیکونه جوړوي، نور یې بیا حلالو د حرمت فتواوې ور کوي او انسانیت ته د خدای پیدا کړي زینتونه د حرمت په ټاپه د خلکو له استعماله باسي، دا چې خلکو د خدای پر ور کړي نعمت بسنه ونه کړه، اوس به یې ناسمې پایلې په خپله زغمي او دا لړۍ به تر هغو روانه وي چې خلک په دې راز پوه شوي نه وي.

هغه څوک چې د قران کریم رد کړي خرافات یې بېرته د روایت او لدني علم په مټ ژوندي کړل، هغه دي اوس د نبوت له درواغجنو مدعیانو سره د حق و باطل معرکه وکړي، څوک چې د مهدي منتظر لارې څاري، څوک چې په دې پلمه لاس تر زنې ناست وي چې یو غیبي مدد یې د خلاصون لپاره را روان دی، هغه به د ذلت په دغسې کنده کې د تل لپاره غوټې وهي او د ایستلو هیڅ لار به نه مومي.

قران کریم د عزت او ذلت لارې په خورا روښانه کرښو بیان کړې دي، دومره واضحې دي چې د انساني ژبې په قاموس کې تر دې نور وضاحت یې امکان نه لري، خو له دې وضاحت سره بې همته، مفت خوره، خرافاتي او د هر څه تر شا د یوه پټ لطیف راز لیدونکي ذهنیت خاوند، دغه روښانه لار پرېښوده، یوه بله لار یې ځان ته جوړه کړه، د خدایي لارې نوم یې پر کېښود، له ځانه یې بې بنسټه تعبیرونه ورته وتراشل او د خرافاتي روایاتو په نوم یې د خدای په رسول پسې روایات غوټه کړل، په دې سره یې د خدای په روښانه دین کې داسې لار وایسته چې د خدایي دین اصل او څېره یې ورسره مسخه کړه، په دې سره نه یوازې دوی د دین اصل له انسانانو ورک کړ، خلک یې د خدای په پیدا کولو کې سرګردانه کړل، بلکې خپل ځانونه یې هم د هغو بني اسرائیلو په شان ورسره مسخه کړل چې قران کریم د خنزیر او بېزوګیانو په نوم یاد کړي دي(البقره: ٦٥، المائده: ٦٠)، څوک چې د خدایي دین روښانه او پراخه لار پرېږدي، په مقابل کې یې له ځانه جوړه لار واخلي، نو حتمن یې ذهنیت مسخ شوی او د بشریت ورتیاوې یې په خپل ځان کې کوټلې دي، ځکه قران کریم یې پخواني سرلاري یې په خنازیرو، بېزوګیانو او عبد الطاغوت یاد کړي دي.

د پیرانو، ملنګانو، منجورانو، زیارتونو، کاهنانو، ساحرانو او دې ته ورته نور ټولو خرافاتیانو اصلیت قران کریم د خپلو هدایاتو په څلا او پرق کې ټولنې ته ښودلی و، خو کله چې هم خلکو د قران کریم هدایاتو ته شا کړه، د خدای خبرې یې د هغه د کتاب پر ځای د خلکو له خولې اخیستل شروع کړل، نو د خرافاتو په یوه ګرداب کې ډوب شول، ذهنیت یې د سمې خبرې پر ځای کږې او وهمي خبرې ته جوړ شو، د خدای پر ځای د یوه انسان لور ته تګ یې خوښ کړ، د الهي عظمت پر ځای به خلک هر ځای ولاړ وي، انساني عظمتونه به بیانوي او د دې لپاره به د خپلو سلفو له خبرې او کتاب پرته بل هیڅ دلیل نه لري، دوی به په خپلو دې ښکرورو درواغو نه شرمېږي، خو که څوک د الهي کتاب هدایات ټولنې ته وړاندې کړي، هغه به په همدې جرم دومره بدنام کړي چې حتا خلک به یې له نوم اخیستلو ډډه کوي.

جالبه ده د دې خرافاتو په تاثر کې یوه اسلامي ټولنه دومره له سمې لارې لرې ولاړه چې د الهي کتاب پر ځای اوس ټولو خلکو د انسانانو کتابونه په لاسو کې نیولي وي، هغه ورته مقدس ښکاري، ان دومره مقدس چې سم یې د خدای د کتاب مقام ته رسولي دي، قران د منحرفو په اړه ویلي دي:

﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَتَّخِذُ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَنْدَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللَّهِ﴾[البقرة:165].

او ځینې داسې خلک هم شته چې له الله ماسیوا یې هغه ته سیالان جوړ کړي وي، نو عیني د خدای په شان مینه ورسره کوي.

مینه یې چیش ده؟ او سیالان څه معنا لري؟ مینه یې همدا ده چې خبره یې له هر ډول حجت پرته مني او حتا د حجت ځای ور کوي، دا خو پرېږده چې د هغه د خبرې لپاره حجت و برهان ولټوي، بلکې د هغه خبره برهان بولي، سیالي یې داده چې څنګه د خدای په کلام د یوه شي حرمت او حلت ورته مهم دی او دواړه په ثابتوي، په همدغه کچه د یوه سیال په خبره حرمت او حلت ثابتوي او په عیني سطحه عمل هم په کوي، سیال دې ته نه وایي، نو څه سیال ډول وهي او که خپله نارې وهي چې زه د خدای سیال یم؟!

الحمدلله د علم له پرمختګ سره هیڅ ډول خرافات د هغه په وړاندې د درېدا توان نه لري، دنګې خیالي ماڼۍ یې هره ورځ را نړېږي، د خدای کتاب د یوه عادل فاتح په موډ کې تک تنها هسکه غاړه پر میدان ولاړ دی او د علم له کاروان سره خوله په خوله یې هدایات د انسانیت د لارې مشال دي، هغه ورځ لرې نه ده چې خلک ټول هغه خرافات رد کړي چې د علم په لار کې یې خنډونه ایجاد کړي حتا که د مقدسو کتابونو نومونه پر پراته وي. له دې امله خرافاتیان په ټول زور هڅه کوي چې د علم د راتلو لارې بندې کړي، په یوه او بل نوم یې مرکزونه بدنام کړي، خلک ترې متنفر کړي، د بې دینۍ او الحاد په نوم یې ځنې را وګرځي او دې ته ورته نورې ډېرې حربې کاروي چې د علم د کاروان دلته له راتلو منعه کړي، ځوک چې له دې کاروان سره ملتیا غواړي هغه تر ګنو نومو لاندې بدنام کړي او له خپلې سیمه و وطنه یې ایستلو ته مجبور کړي، ځو دلته د علم رڼا خپره نه کړي او هغه د علمي کاروان مل کس وشړي، دلته یې علمي جلوې خپرې نه شي او دوی ته ټولنه هم داسې بې نوره او بې علمه په لاس ور شي، ځو یې بشري توان په غلطو لارو کې مصرف کړي، د علم په مخ کې خنډونه په جوړ کړي، خرافات یې په ذهنیت کې ور پیچکاري کړي، د خدای په نوم داسې مسلک پر وتپې چې نه یې دنیا په ودانه شي او نه اخرت، هم یې له ځان سره په جنګ کړي هم یې له نړۍ سره، نه ځان په وپېژني او نه نور، نه دین ورته معرفي کړي نه یې د دنیا عشقونو ته ایله کړي، نه دلته ښه ورځ ځنې ووینې او نه هلته د ښې ورځې توښه ور ایله کړي، نه خدای ځنې راضي شي ځکه تر اخیره یې سم ونه پېژني او نه انسانان ترې راضي شي ځکه هیڅ وخت یې د هغوی له کاروان سره د ملتیا تکل ونه کړ او هر وخت د بشریت په لار کې خنډ ول.

که په دومره تېزې د علم پلوشې خپرېدلې، ډېره لرې نه ده چې د دوی تیارې به ټولې شي، ځکه د رڼا را تګ په هغه دم د تیارې د مرګ پیغام راوړي، لامل یې دادی چې تیاره وجود نه لري، بلکې د رڼا له عدم وجود څخه را پیدا شوې وه او د رڼا بېرته راتګ سمدستي د تیارې ځای نیسي، زما په نظر د علم په وړاندې دغه غورځې پرځې د تیارې د له منځه تلو وروستۍ شپېې ښیې او دا هم لرې نه ده چې د علم په ګېڼه سمبال بشري کاروان به د خدای له کتاب څخه د خرافاتو او وهمیاتو ګردونه ایسته کړي او د علم و الهي کتاب سره مختلطې جلوې و ځلا کې به انساني کاروان مخ په وړاندې د خپل رب لور ته ګړندی سفر وکړي. وما ذلک علی الله بعزیز!!! ۵/۹/۲۰۲۲

## د دعوت رسنیز مرکز ملاتړ وکړئ

له موږ سره د مرستې همدا وخت دی. هره مرسته، که لږه وي یا ډېره، زموږ رسنیز کارونه او هڅې پیاوړې کوي، زموږ راتلونکی ساتي او زموږ د لا ښه خدمت زمینه برابروي. د دعوت رسنیز مرکز سره د لږ تر لږه 10/$ ډالر یا په ډېرې مرستې کولو ملاتړ وکړئ. دا ستاسو یوازې یوه دقیقه وخت نیسي. او هم کولی شئ هره میاشت له موږ سره منظمه مرسته وکړئ. مننه

د دعوت بانکي پته: DNB Bank AC # 0530 2294668

له ناروې بهر د نړیوالو تادیاتو حساب: NO15 0530 2294 668

د ویپس شمېره: Vipps: #557320

## Support Dawat Media Center

**If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month.** Thank you

DNB Bank AC # 0530 2294668
Account for international payments: NO15 0530 2294 668
Vipps: #557320

# نیوکه Criticism

ژباړه: شفیق الله عمران

دا چې ستا په اند تا یو ډېر لوی کار وکړ، او اوس مشر دی درته د هغو ټکو لیست جوړ کړي چې ته یې باید په پام کې ونیسې ته چې کارونه دې ښه شي، نو زړه مه ماتوه، رغنده نیوکه د کار او دندې یوه مهمه او کلیدي برخه ده. د دې مقالې پر مټ به وکولای شئ چې د نیکۍ، ښې او رغنیزې نیوکې قبلول زده او خپله دنده په ډېره ښه توګه ترسره کړئ.

1- دا ومنه چې ته کامل او پوره نه یې: که ته هر کار او دنده پدې نیت پیلوې چې هیڅ تېروتنه به درڅخه نه کیږي نو ته ځان غولوې، ته به تېروتنه کوې. اړینه داده چې د تېروتنې څخه باید زده کړه وکړې.

2- کار مو بیا ځلې وګورئ: دا چې درکړل شوی کار مو خلاص کړو، مخکې لدې چې خپل مشر ته یې واستوئ یو ځل بیا یې دقیق وګورئ او ځان ډاډه کړئ چې ټول مو بیا ځلې دقیق کتلي دي، دا له تاسې سره مرسته کوې چې هیڅ یوه وړوکې ستونزه هم نده پاتې چې مشر مو بیا په تکلیف کړې او د پوښتنې سره مو مخامخ کړې.

3- کارۍ نیوکه شخصي ژوند لور ته مه بیایه: که یو همکار/همکاره دربانديې نیوکه کوې نو پدې فکر کې مه اوسه چې ته وربانديې بد لګیږي او یا دا چې ته ددې دندې لپاره وړ کس نه یې. ستا همکار/ همکاره صرف همدومره کوښښ کوې چې تا ډاډه کړې چې ته لدې هم ښه کار کولای شې او باید دقیق شې چې ښه کار ترسره کړې.

4- په غور سره یې واوره: که دې نیوکې ته غوږ کینښود نو د غلطۍ کولو بیا ځلې هوډ دې وکړو. ځان سره یادداشت واخله او بیا بیا ځلې ځان ته په یاد کړه چې څنګه باید دا ستونزه حل کړې. دا پراو تر ټولو ستونزمن پړاو دی ځکه چې دا پدې معنې چې څوک د یو چا په چارو کې مداخله وکړې او د هغه د کارونو ستونزې په ګوته کړې او بیا یې ورته واوروې نو دا په حقیقت کې د ځینو له لورې د بل چا په چارو کې ګوتې وهل ګڼل کیږي.

5- له ځان څخه وپوښته چې لدې نیوکې څخه څه زده کولی شې: که د نیوکې په اوریدو سره درته دا فکر پیدا کیږي چې څنګه یادې نیوکې ته دفاعیه تیاره کړم او یا هم په غصه شم نو سمدستي دا پوښتنه له ځان سره بیا بیا تکرار کړه چې، لدې نیوکې څخه څه زده کولی شم؟ د غصې پر ځای پر دې فکر وکړه چې له نیوکې څخه باید څه زده کړم ځکه هره نیوکه یو رغنیز اړخ لرلای شي.

6- د نیوکې له یوې برخې سره موافق: ځینې خلک چې له نیوکې سره مخ شي نو سمدستې یې فکر د نیوکې هماغه منفي ټکې ته شي او د نیوکې پاتې برخه له نظره وغورځوي چې دا کار ګټور ندی او ستونزه نشي حل کولای، او همداشان نشي کولای چې څه ترې زده کړي. نو کوښښ وکړئ چې د نیوکې منفي ټکې هم په مثبت واړوئ او دا چې د نیوکې اورئ او قبلوئ یې نو د کارۍ چاپېریال رامنځته کولو لپاره مو لاره خلاصه کړه او ورپسې قدم او کوښښ به مو دا وي چې څنګه وکولای شئ چې په شریکه توګه ستونزې ته د حل لار پیدا کړئ، دا کارونه به مو هغه احساس چې پر تاسې د نیوکې په شکل برید کیږي را کم کړې او مثبت فکر کوونکې به شئ.

7- دا چې څه مو واوریدل تحلیل او وارزوئ: تاسې وخت ته اړتیا لرئ تر څو هغه معلومات و ارزوئ او ځان پوه کړئ چې آیا دا نیوکه پر ځای او سمه ده که نه او پر دې تصمیم ونیسئ چې د ستونزې / تېروتنې د حل لپاره باید څه وکړئ تر څو بیرته یې سمه کړئ. که دا هغه شکایت وي چې په څو څو واري دی اوریدلی دی نو ته باید پدې فکر وکړې چې دداسې وضعیت څخه باید څه زده کړم تر څو د بیا لپاره داسې ونشي.

8- په زړه کې نفرت او کینه مه ساته: خفه کیدل او په زړه کې کینه ساتل مو راتلونکې چارې او دندې زیانمنوي، نو د یوې نیوکې په خاطر له چاسره کینه او نفرت په زړه کې مه ساته، بلکه پر ځای یې ټولې تېروتنې له ذهنه وباسه او بیرون یې وغورځوه، د راتلونکو چارو او دندو لپاره دې له دقت څخه کار واخله تر څو وکولای شې تر ټولو ښه کار وکړې.

9- په یاد وساته، هر هغه څه سره چې مخ کیږې یو حکمت پکې نغښتې دی: که همکاران دې له تا سره ډېر نېژدې او ښې اړیکې نلرې او یا هم مشر دې تاته د میاشتې تر ټولو کمزورې او

لټ کارکوونکي نوم درکړی دی نو منفي ذهنيت دی له سره ليرې کړه او پدې فکر اوسه چې يو ښه هدف او لاسته راوړنه درته په تمه ده، ښه کار په زيار او دقت سره کار وکړه چې خلک درسره مينه وکړي او تر ټولو دی قدر زيات وی. هيڅکله هم بی زحمته راحت نشته او هيڅکله زيار بی ثمری نه پاتی کيږی او حتماً يې ميوه در رسيږی.

10- ذهنيت سازی وکړی: که د خپل همکار په نيوکه خفه شوی ياست نو آزادانه ورته وواياست چې څنګه او ولی يې نيوکې تاسی خفه کړي ياست، او تر څنګ يې ورته وواياست چې څنګه درسره مرسته وکړي تر څو کمزوری ټکي مو په قوی ټکو بدل شي او نور هم پياوړی شی نو دا چاره به مو خوا بدی له منځه يوسی او يو بل ته د نيژديوالي تر څنګ به مو د پياوړی کيدو سبب شی.

11- دا حقيقت ومنی ، هغه څه چې نور يې ليدلای شی کيدای شی تاسی يې ونشی ليدلای: که چيری ته د نيوکې او تيروتنی سره موافق هم نه اوسی خو نور کيدای شی داسی و انګيری چې ګواکی تاسی پری خبر نه یاست، هغه څه چې تاسی يې د نيوکې په توګه نه منئ خو نور يې ستاسی په نسبت ښه ليدلای شی نو دا هغه وخت دی چې دا ويل کيږی "خپل عيب د ولو منځ دی" نو د خپلو ولو منځ نشی ليدلای، په داسی وخت کې ومنه چې د نورو پر وينا فکر وکړي او هغه تيروتنه چې تاته نه ښکاری او نور يې درته وايي پيدا کړی. او پدی سره دا نوم هم له ځان څخه ليرې کړه چې ګويا ته يو منفی ليدلوری لرې.

12- دا چې د هر ډول نيوکې سره مخ کيږی نو خوښ اوسی او په مينه خپل کار تر سره کړی او مه پريږدی چې يوه نيوکه مو په خپلو چارو او دندو کې له ناکامی سره مخ کړي.

زيار وباسئ، مينه وکړئ او مينه ورکړئ.

************************************************************************************************

# بوډا او د درد شکايتونه!

محمدالله آرين

يو بوډا به هره شپه شکايت کاوو چې نن مي کار ډير وو له ستړيا مې ټول بدن درد کوي، يو ځوان چې تل د بوډا دا شکايتونه اوريدل نوموړي ته وويل چې ته څه کوي چې دومره ستړی يی او په يوه ساه لګيا يی چې له ستړيا خوب نه راځی؟

بوډا وويل: دوه ښکاري بازان لرم بايد روزنه ورکړم چې رام يا عادت شی.

دوه داني سويان لرم دوی ته مې هم بايد پام وي چې د بانديې ونه وزي .

دوه داني بابښی لرم بايد دوی ته هم روزنه ورکړم.

مار هم لرم چې بند کړی مې دی.

زمری هم لرم چې تل بايد په اوسپنبزه پنجره کی بند وي.



ناروغ لرم د هغه خدمت هم بايد وکړم.

ځوان ورته وويل بابا لکه چی په ما ملنډې وهی؟ څنګه يو انسان کولای شی دومره حيوانات او الوتونکی مرغان په تنها صورت وساتی؟

بوډا وويل: ټوکی نکوم حقيقت تريخ او دردونکی ده:

دوه بازان مې دواړه سترګی دي چی په سخته يی ساتنه کوم!

دوه سويان مې غبرګی پښی دي هڅه کوم پام پرې وکړم چی د ګناه لورې ته لاړې نشی!

دوه بابښی مې دواړه لاسونه دي دوی ته بايد د کار کولو روزنه ورکړم څو زما او د کورنۍ نفقه پرې وګټم!

مار زما ژبه ده تل بايد بنده وي څو بده خبره ترې ونه شی!

زمری مې زړه دی تل ورسره په جنګ يم چی داسی نه بد کارونه ترې وشی!

او....ناروغ مې ځان ده چی زما پوهی او ځيرکتيا ته اړتيا لري.

نو بچيه دا زما د هرې ورځې کار ده چې دومره مې ستړی کوي او دې بوختيا رانه سکون او آرام اخيستی.

# یادی از بروس ریچاردسن، افغانستان دوست، ژورنالست، محقق و نویسندهٔ خبره



ملالی موسی نظام

۲۰۲۲/۰۹/۲۰

یاد داشت استقلال خپلواکی:

(بازهم نظر به وعده ایکه به دوست محترم، داود ملکیار همکار مطبوعاتی در مورد پیشکش حقایق مستدل و مستندی که درین بیشتر از چهار دهه در مورد یکی از جنگ سالاران نهایت مطرح نیمهٔ قرن بیستم میلادی افغانستان، «احمد شاه مسعود» منتشر گردیده است، به سراغ تحقیق و مطالعاتی میرویم که اکثراً در مطبوعات منتشر گردیده اند. مخصوصاً آن مطالبی که یا با نشر آن هیچ تردید و رد منطقی و مستندی ارائه نگردیده است، ویا اینکه با دشنام و افترأت بی زمینه، بیشتر بر استحکامات مطالب منتشره افزوده گردیده و امکانات تحقیقات و مطالعات وسیعتری را سبب گردیده است.

با تبصرهٔ مختصری از دوست فرهنگی ما محترم داود ملکیار که در دریچه های وبسایت های آریانا افغانستان و افغان جرمن منتشر گردیده است، برای تحقیق و نشر حقایق و مطالب بیشتری در شناخت، فعالیت های سیاسی و وابستگی های«احمد شاه مسعود» با منابع استخباراتی ممالک مختلفه و علل آن، زمینه هایی مساعد میگردد و البته خدمتی هم برای آگاهی هرچه بیشتر نسل های ما در مورد قسمتی از اوراق تاریخ معاصر افغانستان صورت خواهد گرفت، اینهم مطلبی منتشرهٔ مطبوعات از سال 2016 میلادی. ختم).

با تأثر و تأسف زیاد، بروز ۸ اپریل ذریعهٔ ایمیل مضمون محترم داکتر رحمت ربی زیرکیار اطلاع یافتم که نویسندهٔ خبره، ژورنالست صادق، دوست واقعی افغان ها و افغانستان، نویسنده، مترجم و محقق جدی و راستکار سه و نیم دههٔ جنگ های خانمان سوز و بربادی کشور ما، «بروس جی. ریچاردسن» گویا بتاریخ ٦ اپریل داعی اجل را لبیک گفته است. در بین هموطنان واقع بین و صاحب مطالعه و علاقمند به مقدرات و تاریخ واقعی افغانستان، تعداد زیادی از هموطنان ما در پهلوی بیشمار مردمی که

به انگلیسی دسترسی دارند، این نویسنده و خبرنگار راستکار و شایق به افغان و افغانستان را برای تلاش های صادقانه ای که برای افشاء و تثبیت رویداد های واقعی سرزمین ما مجدانه و متواتر انجام داده است، با احترام و باورمندی می شناسند.

بروس که بعد از کودتای خانمان بر انداز ثور منحیث یکی از ژورنالستانی بود که برای دریافت واقعیت های آن جریان منحوس که اتحاد شوروی و عمال خیانت پیشهٔ دست نشاندهٔ آن در افغانستان، همه را یک کودتای سادهٔ جابجا شدن قدرت در ساحهٔ داخلی، تبلیغ می نمودند، مدت ها قبل از اشغال افغانستان به پشاور مسافرت نمود. نامبرده برای




تهیهٔ راپور های مستند در مورد چگونگی اوضاع در منطقه، بیشتر با لباس افغانی با تقبل خطراتی که البته همواره برایش موجود بود، با گروپ های مجاهدین واقعی سالها بداخل سرزمین جنگزدهٔ ما در رفت و آمد می بود.

علاقمندی بروس به مقدرات افغانستان و مردم آن تا حدی بود که همه حیات باقی ماندهٔ وی را تحت تأثیر قرار دارد.

«بروس ریچاردسن» از نگاه افشاء تاریخ آنعصر و ادامهٔ آن، حق بزرگی بر مردم افغانستان دارد، هم او بود که در بین تنظیم های جهادی آن گروپ ها و رهبرانی را که ظاهراً در جهاد مقدس افغانستان بر علیه ابر قدرت و قوای عظیم شوروی وقت، سهم گرفته ولی در خفا، با دشمن همگام و همراه بودند، بیباکانه رسوا و استناد می نمود. در پهلوی آثار مختلفه، اثر آموزنده، جاودانی و با ارزش وی که بنام «افغانستان: در جستجوی حقیقت – Afghanistan: A search for truth» است، جریانات و افشای حقایق در مورد حوادث و دست اندرکاران جنگ های افغانستان را دقیق و بصورت مستدل، افشاء و جستجو مینماید .

این قلم بعد از مطالعه و دسترسی به آن اثر مهم و مستند، در پهلوی ارتباطات قلمی از طریق ایمیل ها که نهایت آموزنده و مهم بوده اند، گاهی تیلفونی از احوال و فعالیت های قلمی هم دیگر آگاه می شدیم.

همانطوریکه در چهار دههٔ اخیر بربادی مملکت و ملت سرزمین ما، در پهلوی پلان های مخرب ابر قدرت ها و دشمنان قسم خوردهٔ سرزمین ما، آشکارا مشاهده نمودیم که به همین صورت کجروانی که نوامیس ملی و عشق به خاک و وطن را فدای پیوستن به دشمن و خیانت و جنایت در حق مردم مظلوم آن نموده اند، در حقیقت مظالم و اوضاع خونین و رقت بار سرزمین مقدسی به نام افغانستان را سبب و باعث گردیده اند.

باید تصریح نمود که آنانی که با داشتن فهم و درایت و شاهد بودن در قضایای چهار دههٔ اخیر، آفتاب را با دو انگشت پوشانیده و بر حقایق مبرهن تاریخ کشور خاک می پاشند، لاجرم با همان گروه و گروپ خیانتگارانی هم دست اند که ملت افغانستان را تا امروز به خاک سیاه نشانیده و سرزمین مقدس شانرا ویران نموده اند.

بهر حال بعد ازینکه کتاب بروس بنام «افغانستان: در جستجوی حقیقت» منتشر شد و ارتباطات «احمد شاه مسعود» با اتحاد شوروی یکبار دیگر مورد استناد و تحقیق قرار گرفت، تبلیغات سوء و مسخره و البته غیر قابل باور در مورد کتاب مذکور و شخص «بروس ریچاردسن»، بیشتر سبب افشاء حقایق مبرهن گردید.

بیاد داریم که در مصاحبهٔ دقیقاً پلان شده ای که آقای «فرید یونس» در تلویزیون «نور» چند سال قبل با داکتر «روان فرهادی» داشت، از وی پرسید که در مورد آوازه هایی که در مورد ارتباط و همکاری «احمد شاه مسعود» با اتحاد شوروی وقت، موجود است وی چه نظری دارد؟ داکتر«روان فرهادی» جواب داد که هرگز چنین چیزی موجود نبوده است، وگر نه حتماً تا بحال نشرات و کتاب هایی در این مورد به نشر میرسید. آقای «فرید یونس» پرسید هیچ کتاب، مدرک و راپور و اثری برای تصدیق رابطهٔ مسعود با اتحاد شوروی در دست نیست؟ بلی از

باور بدور است، ولی این هم وطن مجرب، دانشمند، دیپلومات و مأمور عالیرتبهٔ حکومات گوناگون، جواب داد که: نخیر، موجود نیست!!

دیده میشود که دانشمند سابقه داری که به گفتهٔ خودش در همان مصاحبه، افتخار شاگردی شخصیتی مثل «برهان الدین ربانی» را داشته است، چگونه خط بطلان بر حقایقی که اظهر من الشمس بوده، مصلحتاً خط بطلان می کشد و در پهلوی آن «بروس ریچردسن» امریکایی ای که نه تنها حقایق اشغال افغانستان را توسط شوروی و همکاری شخصیت های از افغانیت برگشته در جریان آن روزگاران خون و آتش را افشاء می نماید، بلکه آنچه را تاریخ در مورد اشغال افغانستان ذریعهٔ ایالات متحدهٔ امریکا«مملکت خودش» در خود مضمر داشته است، بیان و برملا میسازد.

بیاد دارم که روزی «بروس ریچاردسن» درحالیکه بلند میخندید، در تیلفون اظهار داشت که: "فرید یونس«معلوم بود که با تبلیغات چپ و راست وی آشنا بوده»، در شو خود اظهار داشته است که:" بلی شخص بنام «بروس ریچاردسن» زمانی حیات داشته و نویسنده هم بوده است، ولی در سال ۱۹۳۹ م. مرده است؛! بعد شروع به خندیدن نمود و گفت: که "به اساس ادعای «فرید یونس»، در حقیقت من وفات نموده و حتی جریان جنگ عمومی دوم را هم ندیده ام".

کتب و آثار ارزشمند زیادی از «بروس ریچاردسن» در مورد تاریخ دهه های اخیر کشور ما بصورت مستند و مستدل موجود هستند که باید به اختیار مردم شریف افغانستان که خوشبختانه تعداد وافری به لسان انگلیسی دسترسی دارند، قرار گیرد و همانطور محترمان داکتر زیرکیار و داکتر میرکی فرموده اند، باید برای خدمات صادقانه و نشرات آموزندهٔ نویسنده و ژورنالست فقید و علاقهٔ وافر وی به افغانستان و ملت شریف آن، دیپارتمنت ژورنالیزم پوهنتون کابل را به اسم «بروس ریچاردسن» و دسترسی به آثار او مفتخر بنمایند. بعد از از اظهار تأثر عمیق برای از دست دادن یکی از صادق ترین دانشمند افغانستان دوست و ژورنالست خبرهٔ معاصر. اینک یکی از مضامینی که اینجانب در سال ۲۰۰۹ تحریر نموده ام، با تغییراتی در متن تقدیم میگردد:

## احمد شاه مسعود، حسن شرق و بروس ریچاردسن
## نگاهی به گزارشات و تحقیقات در مورد یکی از قوماندان های جهادی

یکی از مشکلاتی که جامعهٔ امروز افغانی چه در داخل مملکت و چه بیرون سرحدات آن روبرو میباشد، تحریف و تغیر وقایع وحوادثی است که درین سه دهه جنگ، بربادی بنیادی مملکت و اوضاع رقت بار مردم ما رونما گردیده است. واقعیت امر اینست که هر حادثه و رویدادی که در یك جامعه رخ میدهد به شمول جریانات اجتماعی مملکت بهر شکلی که واقع گردد، در مجموع تاریخ همان سرزمین را میسازد. بنابر آن، بدون هیچ تردید و شکی چه بخواهیم و چه نخواهیم، تاریخ همیشه عبارت است از بیان حقایقی که در یك محدودهٔ جغرافیایی که دارای یك تشکیل سیاسی است، رخ داده و به وقوع پیوسته است.

یکی از معضلات سر در گمی که برای ملت افغان سوال تاریخ و جریانات واقعی مملکت از دوران اشغال افغانستان، یعنی عصر منحوس حکومات وطن فروشان خلق و پرچم تا به امروز موجود میباشد، همانا شخصیت چند بعدی یکی از قوماندان های جهادی بنام «احمد شاه مسعود» است. اینکه چرا دربین رهبران تنظیمی این شخصیت تاریخی از یك سو پر آوازه ترین و غوغا بر انگیز ترین و مطرح ترین آنان بوده است و از جانب دیگر، با روابطی که با ممالك و تشکیلات استخباراتی مهم آنان، منجمله شوروی وقت و قوای اشغالگر آن بر قرار نمود، تحقیقات، مطالعات، چشم دید ها، خاطرات مامورین خارجی ذیعلاقه و اوراق قرار داد ها و پروتوکول ها، نامبرده را به داشتن یک شخصیت قابل سوال، پیوند داده است.

انکشافات تکنالوژی عصری و حیرت آور، بدون شک روش ها و طرز حیات سیاسی مسعود را از همان عصر «سردار محمد داود» و وابستگی وی به دستگاه جهنمی «آی اس آی» تا ختم حیات پر ماجری وی، نام برده را به مرد هزار

چهره ای مبدل نموده است که هر روز کتابی و رساله ای و مضمونی به السنۀ مختلفه در مورد او و روابطش با دستگاهای استخباراتی گوناگون، به نشر میرسد.

یکی از اشتباهات بزرگی که در قسمت شناخت و کار روایی های «احمد شاه مسعود» ازجانب هواخواهان سر به هوا و اغماض گر وی صورت میگیرد، هماﻧا مبالغه در مورد شخصیت و تحریف کارنامه های جهادی وی است که کاملاً نقیض آنچه را اسناد تاریخی، شاهدان عینی، راپور های آرشیف های معتبر بین المللی وقلم بدستان داخلی و خارجی ارائه مینمایند، عرضه میکنند. در حقیقت همین هوا خواهان غیر مسئول «مسعود» هستند که بی دریغ و بی جهت وی را به غیر آنچه بوده، مطرح میسازند و به دهن ها انداخته و موجب کنجکاوی و مطالعات بیشمار در احوال وی میگردند. ازآن جمله مدیر جریدۀ «امید» بارها باذ کرالقاب اولیا و پیغمبران، مقام های مذهبی محیر العقولی را به قوماندان مذکور نسبت داده و بروی قالیچه ای ویرا در حال پرواز به جانب بهشت تمثیل نموده است. همچنانکه آقای«حامد علمی» در رویا به بهشت مسافرت نموده و قوماندان مذکور را درطبقۀ بالاترین فردوس برروی تختی از زمرد «!» ملاقات می نماید.

مبالغه و اغراقی که درین زمینه ارائه میگردد، باعث تتبع، تحقیق و مطالعات بیشتر در کشف و انتشار اسناد، مدارك و آثار بیشمار محققین و نویسندگان داخلی و خارجی در زمینه میگردد واین بیت پر معنی را به وضاحت در اذهان زنده میسازد:

**دشمن دانا بلـــندت میـــکند**

**برزمینت میزند نادان دوست**

دیده می شود که حتی قضیۀ قتل «احمد شاه مسعود» را که قراین بر چگونگی آن وضاحت دارد، می بینیم که بعد از سپری سال ها، شب گذشته نطاق تلوزیون آریانای کابل دراخبار پشتو ضمن یاد آوری از هفتمین سال کشته شدن نامبرده، یاد آور گردید که وی در اثر انفجار«!» کمرۀ عکاس عرب به قتل رسید. وقتی یك تلویزیون با سویه با اینهمه بیننده و با داشتن عدۀ زیادی خبر نگار و دسترسی به مطبوعات وسیع جهانی از ویدیوی مستند «مسعود خلیلی»، یکی از نزدیک ترین شخصیت ها به وی مصاحبۀ واضح و روشن مذکور با خبر نگار فرانسوی در نحوه و چگونگی مرگ یك شخصیت تاریخی مثل «احمد شاه مسعود» از اغماض کار بگیرد، باید طرفداران وی دائم با کتمان بر چشم حقایق خاك پاشی نمایند!!

ولی و اما چه دلیلی موجود خواهد بود که هوا خواهان وی و طرفداران سر سپردۀ مسعود حتی همان سایت های انترنتی و جرائد و مجلات فراونی که متعلق به شورای نظار و پرچم میباشد، هرگز و هیچگاهی قلم در دست نگرفته اند و با استناد و شواهد از قوماندان و قهرمان خویش به دفاع منطقی و رد گزارشات مستند، به شمول قرار داد ها و راپور های معتبر از منابع داخلی و خارجی برنخواسته اند. آیا چنین سکوتی در حقیقت علامۀ رضاء نیست؟ آیا هیچ قلمی نتوانسته آنچه را مثلاَ «بروس ریچاردسن»، خبر نگار خبره و مجرب و افغانستان شناس ورزیدۀ امریکایی که از ابتداء تجاوز شوروی تا الان مشغول تحقیق وسیع و تتبع و نشر مقالات و کتب فراوان در اوضاع افغانستان میباشد، منتشر نموده با دلیل و برهان رد نماید؟

«بروس ریچاردسن» در صفحۀ ۱۰۳ کتاب جدید خود بنام Afghanistan a Search forTruth) - افغانستان، در جستجوی حقیقت) چنین مینویسد:

(به تعقیب موافقت نامۀ ۱۹۸۲ با شوروی، احمد شاه مسعود یك مکتوب صادر نموده و به تمام زیر دستان خود دستور داد که خبر قوماندان هایی را که از داخل گروه شان به طبق مرام وی نبوده و آرزو داشتند که به دشمن حمله نمایند، غرض مجازات به اطلاع روس ها برسانند. این مکتوب به دست حزب اسلامی افتاده و دراخبار های پشاور به نشر رسید).

گزارشات و خاطرات «ستیو کول» امریکایی را که مدت درازی در منطقه مشغول کار و فعالیت بود بنام «جنگ های ارواح – Ghost Wars» بدسترس همگان میتواند قرار

گیرد که شرح فعالیت و وابستگی های «احمد شاه مسعود» را با عسکر اشغال گر نمبر«۴۰» اتحاد شوروی، نهایت واضح و مستند بیان می دارد. ولی این کتاب هم از جانب هواخواهان مسعود مورد رد و استناد و بررسی منطقی قرار نگرفته، بلکه با یك نوع تحریف ناقص و تجاوزات غیر مجاز که در آن اخلاق وامانت داری ترجمه کاملاَ پامال گردیده، در کابل انتشار یافته که بیشتر خوانند گان تشنهٔ حقایق را به متون اصل کتاب مائل ومتوجه میسازد.

چندی قبل مضمونی تحت عنوان «آغاز و انجام حکومت انتقالی در افغانستان» در یك تعداد از نشرات خارجی افغانی به قلم «داکتر حسن شرق»، عضو برجسته و مهرهٔ فوق العاده مهم در حیات سیاسی مرحوم «محمد داود خان» و یکی از عاملین وابسته به کودتای منحوس ثور در دورهٔ سیاه و خون باران وطن فروشان خلق و پرچم، به نشر رسید. درین مضمون که جزئی از خاطرات نامبرده میباشد، به قسمتی از حوادث تاریخی و تصمیم گیری های پشت پرده اشاره میگردد که سرنوشت سازی و تغییرات زندگی مردم مظلوم افغانستان را با بازی های خطر ناکی تا سرحد تجزیه خاك پاك ما، به وضاحت تشریح مینماید.

«داکتر حسن شرق» در قسمتی از یاد داشت های خویش مینویسد که در دوران «داکتر نجیب»، آخرین گماشتهٔ رژیم اشغالگر اتحاد شوروی سابق که وی آنرا دورهٔ «انتقالی» مینامد، پوست صدارت را متقبل گردید. نامبرده بعد از تشریحاتی در بارهٔ اوضاع و تصمیمات پشت پردهٔ شوروی و مقامات افغانی به اینجا میرسد که روس ها گویا با تجزیهٔ افغانستان میخواهند ولایاتی را از پیکر مادر وطن جدا نموده و با نصب «احمد شاه مسعود» یکی از قوماندانان شمال ازجبههٔ پنجشیر با تحت الحمایگی شوروی، ایالت جدیدی را بمیان آورند.حتی قسمتی از طلا های پشتوانهٔ بانك مرکزی «معروف به خزانهٔ باختر از صر




مدنیت بودائیان و یونانیان در افغانستان – ازین قلم» را برای ایالت جدا شده اختصاص داده و آثار تاریخی ای را که قدامت آن بیشتر از دو هزار سال میباشد و همین الان اعجاز و تحسین صد ها هزار بیننده را در موزیم های ممالک مختلفه منجمله واشنگتن بر انگیخته است، طور تحفه پیش کش اتحاد شوروی نمایند. .داکتر حسن شرق چنین مینویسد:

....."از گفته های خلاف انتظار سفیر شوروی بر می آید که هنوز شوروی ها از حکومت انتقالی جهت باقی ماندن به قدرت توقع دارند تا زعامت «احمد شاه مسعود» را در قسمتی از ولایات شمال هندوکش به رسمیت بشناسند. چنانچه «ورانیکوف» مارشال قوای شوروی در کابل در یك گفتگوی رسمی در صدارت گفت «احمد شاه مسعود» در بارهٔ آشتی ملی و ختم جنگ میخواهد در پنجشیر با شما «منظور داکتر شرق است - توضیح ازین قلم» ملاقات و مذاکره کند.

تنظیم ملاقات با «احمد شاه مسعود» از جانب «ورانیکوف» آنهم در پنجشیر، بیگمان جز تحمیل خواستهٔ «گوربا چف» به واگزاری قسمتی از شمال هندو کش به مسعود، معنی و مفهوم دیگری در بر نداشت. بناً از تن دادن به چنین سفری هرچه بادا باد طفره رفتم.

نتیجهٔ گفتگو با مارشال آن شد تا معاونین رئیس جمهور برخلاف قانون اساسی و بدون اینکه صدارت را بجریان بگذارند، به وزارت خانه ها هدایت صادر کنند و ملیشه های تحت فرمان خاد امنیت نسبی راه های مواصلاتی و حمل و نقل مواد خوراکه را برهم زنند و مارشال «ورانیکوف» هم با استفاده از رهبران ستمی جناح پرچم مذاکره را در پنجشیر با«احمد شاه مسعود» جهت بر آورده کردن خواهشات وی ادامه میدهد.

متاسفانه هنوز دو هفته از استعفای شفایی منظور ناشده نگذشته بود که با استفاده از تعلیق حکومت انتقالی، جنرال «گروموف» قوماندان اردوی نمبر چهل شوروی با

جنرال «شهنواز تنی»، وزیر دفاع با داشتن فرمان «داکتر نجیب الله» جهت تعمیل هدایت «گورباچف» در بر آوردن خواسته های «احمد شاه مسعود» عازم پنجشیر می شوند.

آنچه که بعد ها افشاء گردید نشان میدهد که در پنجشیر



بعد از ملاقات و مذاکره به رسمی شدن «معاهدۀ خنجان» موافقه میشود که ولایت بدخشان، تخار، کندز، سالنگ شمالی و جنوبی در جمع پنجشیر، به حیث ایالت خود مختار تاجیکان تحت ادارۀ «احمد شاه مسعود» گذاشته شود.

متقابلا «احمد شاه مسعود» متضمن امنیت شاهراه سالنگ و حراست از قوای شوروی و سرکوبی مخالفین حکومت کابل در منطقۀ تحت فرمان خویش میشوند.

معاهده را«جنرال گروموف» بحیث قوماندان اردوی شوروی در افغانستان و «احمد شاه مسعود» به صفت قهرمان جبهۀ پنجشیر به حضور داشت «جنرال شهنواز تنی» فرستاده و نمایندۀ خاص رئیس جمهور امضاء و تبادله میکنند.

اما رسمی شدن و پیاده کردن معاهده ایجاب سقوط حکومت انتقالی و احیاء حکومتی را مینمود تا به اجرای این طرح آمادگی و سابقه داشته باشد. بناً «کشتمند» را بحیث رئیس کمیتۀ اجرائیۀ شورای وزیران مقرر می کنند و جنابشان قبل ازینکه از شورای ملی رای اعتماد بگیرد، خود مختاری ولایات شمال هندوکش را دوباره تصویب میکنند که خوشبختانه وکلای ولسی جرگه به تعبیر و تفصیر اینکه «کشتمند» رئیس کمیتۀ اجراییۀ شورای وزیران مقرر شده اند، نه صدر اعظم، از حضورشان در ولسی جرگه جهت اخذ رأی اعتماد معذرت میخواهند.

بناً قانونی شدن ولایت تاجیکان و ولایات شمال هندوکش و حکومت «کشتمند» پا در هوا می ماند و ازقضاء حکومت انتقالی، از یك در داخل و بدون اینکه در انتقال قدرت موقع یافته باشد، از در دیگر خارج میشود."

حال دیده میشود که هر سال خاطرات و مطالعات جدیدی در مورد حیات سیاسی و اجتماعی قوماندان «احمد شاه مسعود» به نشر میرسد که اکثراً نقاط مشترك آنها رابهم پیوند میدهد. اما باموجودیت تشکیلی بنام «بنیاد مسعود» و پروگرام هایی بنام مسعود شناسی«؟!» و اجتماعات وابستۀ داخلی و بیرونی که علی الرغم قحطی و گرسنگی و بیخانمانی در مملکت مبالغ هنگفتی را سالانه با برپا نمودن جشن های باشکوه برای یاد بود قوماندان متذکره به مصرف میرسانند، هیچ یك ازین تشکیلات و اجتماعات در مقام دفاع منطقی و ارائۀ اسناد و مدارکی که بتواند شمۀ ازین تحقیقات، راپور ها و چشم دید ها را رد و نفی نماید، موجود نمیباشد. پایان





# د وړېښمو کاروان



## چلوونکې او مسئوله: شېبه ګهیځ

د وړېښمو کاروان د دعوت مجلې ادبي برخه ده. په دې برخې کې د شاعرانو او لیکوالانو له پیژاند نیولې تر طنزونو، لنډو کیسو، ادبي ټوټو، ادبي څېړنو او نور بیلابیل ادبي او غیر سیاسي لیکنې د هنري ذوق خړوبولو او معلوماتو ورکولو په موخه خپرېږي. د دې برخې د لا پراختیا او غوړیدا په موخه مو د نیک نظر او د قلم خاوندانو د قلم چلولو په هیله یو.

dawatafghanmedia@gmail.com

## د دعوت د دې ګڼې شاعر

## ذبیح الله احساس



شاعر، لیکوال، ژورنالیست او انجینیر ذبیح الله احساس په 1985ز، د بغلان ولایت په کیله ګي سیمه کې زېږېدلی دی.

د احساس کورنۍ د ده له زېږېدو سره سم د جګړو له امله د خپلې سیمې پرېښودو او د ښتونخوا جلاله سیمې ته په کډه مجبور شول.

احساس، لومړنۍ زده‌کړې د ښتونخوا په جلاله او جلوزو کې کړې دي.

لوړې زدکړې یې لومړی په انجنیري او بیا په ښتو ادبیاتو کې کړې دي. په 2008ز، کې یې له بلخ پوهنتون څخه د معادنو د انجنیري په برخه کې دیپلوم تر لاسه کړ او بیا یې په 2020ز، کې په افغان شیرزي خصوصي پوهنتون کې په ښتو ادبیاتو کې لیسانس وکړ.

احساس د ښوونځي له یوولسم ټولګي په شاعري پیل کړی او د شاعري له لارې یې ښتو ادبیاتو سره د لا اشنا کېدو ور موندلی دی.

له همدې وره د پېښور د جلوزو له نورو لیکوالو او شاعرانو سره بلد شوی، چې بیا د فرهنګي ملګرو د یوې ښې کړۍ برخه ګرځي او په ګډه د پښتو ادب د پراختیا لپاره په مدني فعالیت پیل کوي.

احساس چې په پېښور کې یې د ادبي فعالیتونو لړه ډېره تجربه درلوده، په 2002ز، بلخ ته د لوړو زده کړو په موخه له راتګ سره سم په خپله سیمه کې د پښتو ادب او ژبې د پراختیا سوچ ورځي.

ده ته د بلخ پوهنتون د محصلینو او استادانو لخوا په شمال کې د لومړۍ پښتو خپرونې"پرخه" د چلولو چارې ورسپارل کېږي او له دې سره ورو ورو د ادبي فعالیت لپاره د لارو ګودرو په پیدا کېدو فکر کوي.

په 2005ز، په مزارشریف ښار کې د وزیر محمد ګل خان مومند بابا په نامه د ادبي بهیر په جوړېدو په دغه ولایت کې د پښتو ادب د پراختیا په برخه کې د مدني فعالیت لومړنۍ دریځه پرانیزي. دا کړۍ ورو ورو فعالیږي، د سیمې نور ځوانان ورسره ملګرتیا کوي او د مشرانو ملاتړ تر لاسه کوي.

همدارز د پسرلی په نامه پښتو سیاسي او ادبي مجله پیلوي او ورو ورو یې فعالیتونه رنګ اخلي. احساس د پرخې او پسرلي مجلو تر څنګ د هېواد له بیلابیلو رسنیو سره له بلخه د خبریال په توګه هم ډېر کلونه دندې ترسره کړې دي.

د بلخ مېرمن بهیر په نامه د نجونو د اونیزو ناستو لړۍ پیلوي.

دغه ټولې هڅې د بلخ ادبي خوځښت په نامه فرهنګي مرکز کې راټولوي، چې د پښتو ژبې د ودې او پراختیا لپاره فرهنګي او رسنیز بېلا بېل فعالیتونه کوي.

د همدې هڅو په لړ کې په 2012 ز د خوشال بابا په نوم، په مزار شریف کې د پښتو عامه کتابتون په جوړېدو بریالی کېږي.

د جمهوریت له سقوط سره سم د بلخ ادبي خوځښت هڅې کم رنګه شوې؛ خو لا هم احساس توانېدلی، چې د دغه مرکز د نورو ځوانانو او مشرانو په مرسته دا خوځښت د مومند بابا ادبي بهیر اونیزې ناستې له څو میاشتنې ځنډ وروسته بیا پیل کړي.

د افغان کلتوري ټولنو جرګې لخوا ورته د هېواد په کچه د فرهنګي هڅو له امله په 2008ز، د غوره فرهنګیالي په نامه د خوشال بابا د سروزرو مډال ورکړل شوی دی.

د شمشاد تلویزون لخوا د فرهنګي خدمتونو په پار په ایوارډ نازول شوی او همدارز په کابل کې یې په شمال کې د پښتو ادبي خدمتونو په درناوي غونډه جوړه شوې ده.

د ادبي هڅو تر څنګ احساس قلم هم چلولی. لنډې کیسې لیکي، کتابونه ژباړي او شعرونه وایي، چې تر دې دمه یې یوولس بېلا بېل کتابونه چاپ شوي دي.

## چاپ شوي اثار

١- یوه نجلۍ (لنډې کیسې)
٢- دوه ښارونه
٣- هغه (شعري ټولګه)
٤- حمزه پېژندنه
٥- زما له غرونو پناه یاره
٦- زما پوښتنې-ادبي مرکې
٧- زما پوښتنې-سیاسي مرکې
٨- افغانستان د بهرني او کورني کړکېچ تر منځ
٩- زه او هغه (شعري غونډ)
١٠- شمال او د شمال پښتانه
١١- ډیورنډ؟

## دلته مو د احساس صاحب سره د هغوی د همده لاسته راوړنو او هڅو په هلکه مرکه کړې چې تاسو یې لوستلو ته رابولو.



**شپبه: ژورنالیست، انجینیر، شاعر او لیکوال ذبیح الله احساس څنګه د شاعرۍ نړۍ ته مخه کړه؟**

احساس صاحب: تقریباً شل کاله کېږي چې شاعرۍ ته مې مخه کړې، د هغه وخت حالت او احساسات نه شم ویلی، چې ولې مې شاعرۍ ته مخه کړه، څه علت و چې زه شاعر شوم؛ خو بس داسې فکر کوم چې زه به شاعر کېدم. دا چې شاعر یم خوشحال یم او د خوشحالۍ لامل مې دا ده، چې ژوند کې یو ځوک لرم خپل راز ورته وایم. ژوند پرته له احساساتو، یا هم پرته له دې چې څوک د زړه خبرې وکړي ستونزمن دی او ما ته شاعران په همده نېکمرغه ښکاري، چې دوی یو څوک لري هغه ته خپل د زړه رازونه وایي؛ په همده هیله او سکون مخ ته ځي او یو ډول حرکت کوي؛ خو دا منم تر ننه نه پوهېږم چې زه ولې شاعر شوم.

**شپبه: تاسو خپله شاعري د څه زېږنده بولئ او په شعرونو کې څه ویل غواړئ؟**

احساس صاحب: زما د شاعرۍ د پیدا کېدو لامل به څه وي، زما په اند بیرته زه خپله یم؛ زما زړه، احساسات او زما هیلې دي. زه هم له نورو انسانانو بیل نه یم. له شاعر مخکې زه یو انسان یم؛ کله کله داسې وایم چې انسان یم نو ځکه شعر لیکم.

شعر کې ټولې هغه خبرې دي چې فکر کوم بل چا ته یې نه شم ویلی. یا هم خلکو ته هغه څه په عادي ژبه نه شم ویلی کوم چې شعر کې وایم. په شعرونو کې یو خو عام تاثر وي، ټولنیز تاثر وي، ځینې تجربې او ځینې نور مسایل وي؛ زه ددې دعوه نه کوم چې زما شعر به د شعریت هغه لوړه پوړۍ کې وي؛ خو دا دعوه کوی شم چې د یو انسان زړه یې پاللی؛ یو څوک یې د ژوند په لاره ځان سره روان کړی او لږ تر لږه چې کومه ګټه یې ما ته رسولې همدا ده. د شعر لیکلو لامل مې هم همدا دی. هر ډول حالت کې شاعري له ما سره ملګرتیا کړې؛ یعنې داسې ووایم شاعري مې مجسم شوې، ما ته راغلې، زه یې غړولی یم، ما ته ډاډ راکړی؛ داسې وخت هم شوی چې ما ته یې نا مریې سکون راکړی، لاره یې راته ښودلې او د ژوند په لوړو ژورو کې پاتې نه یم راغلی. دا هغه څه دي چې زما دوه د شعرونو ټولګو کې راغلي.

**شېبه: د شعري ټولګې يادونه مو وکړه؛ د(هغه) شعري ټولګې په هلکه مو ووايئ، د شعر کوم فورمونه پکې راغلي او هم د شعرونو سکالو يې تر ډېره څه ده؟**

احساس صاحب: (هغه) زما لومړۍ شعري ټولګه ده، چې زما د لومړيو تقريباً پنځه يا شپږو کلونو د شعرونو غورچاڼ او هغه شعرونه دي کوم چې زما خوښېده. ډېرى پکې غزلې، ازاد نظمونه، يو نيم رباعي او څلوريزې راغلي دي. موضوعات يې شخصي تجربې، زما د زړه خبرې، ممکن ټوله شاعري پر ما وڅرخي او ټولنيز مسايل پکې ډېر کم وي.

دويمه شعري ټولګه مې چې تقريباً له هغه وروسته(زه او هغه) په ۱۳۹۷-۱۳۹۸هـ.ش کلونو تر منځ چاپ دی. ډېرى زما د وروستي کلونو د مبارزې، کوښښونو، عملي چارو او د ژوند ټولنيز مسايل پکې شته. د انساني اندرون غوښتنې، شخصي تجربې، له هغه پرته ټولنيز مسايل چې ما درک کړي، زما خوشحالي، خپګان او درد ټول هغه موضوعات دي، چې زما په دويمه شعري ټولګې کې موندل کېږي. تل مې دا کوښښ کړی، چې ګيلې ونه کړم؛ بلکې ژوند د پرمختګ په لوري روان او نور هم وهڅوم.



**شېبه: له يادو چاپي اثارو پرته ايا بل اثر هم لرئ؟**

احساس صاحب: تقريباً يوولس اثار مې چاپ شوي، چې په هغه کې دوې شعري ټولګې، دوې مرکې(سياسي مرکه بل ادبي مرکه)، ژباړې او ناولونه دي. يو بل ناول مې تر اوسه ناچاپ دی او په همدومره موده کې مې چې نور څومره شاعري کړې يو ناچاپ ټولګه ده. ان شاءالله که ژوند او خير و چاپ او لوستونکو ته به ورسېږي.

**شېبه: تر کومه چې خبر يوو، تاسو د هېواد په شمال کې د پښتو ژبې لپاره ډېر څه کړي؛ ايا خپلې ټاکلې موخې ته رسيدلي ياست او په دې لارې کې له څه ډول ستونزو سره مخ شوئ؟**

احساس صاحب: په ټول شمال کې ځوانان د خپلو ولايتونو لپاره هڅې وکړې، زه په بلخ کې او ددغه کاروان يوه برخه وم. که پښتو ته کار کول پښتو ته کتاب چاپول يوه لاسته راوړنه وي؛ هو داسې يو څه شوي دي. د بهير لخوا په پښتو ژبه (پرخه او پسرلی) مجلې يې چاپ کړي. هېواد کې د نظام بدلېدو له کړکېچن حالت څخه وروسته زموږ مرکز(بلخ ادبي خوځښت) اونيزې ناستې کړې او لا به هم دوام کوي مخکې به ځي. په څېرو د بحث پلوی نه يم؛ خو هغه کار چې بايد شوی وای هغه وشو، کومو موخو ته چې بايد رسېدلي وای ورسېدو.

دلته ډېر ځوانان راغلل، تعليم يې وکړ او بنه ځايونه ته ورسېدل. دغه لړۍ به لا هم دوام لري. لوړې ژورې مو پکې وليدې لا به يې ګورو؛ خو مهمه دا ده چې هوډ د روان ساتلو به يې لرو.

**شېبه: د کتابتونو او بهيرونو د جوړولو موخه مو څه وه، ايا هغه موخې ته ورسيدئ که نه؟**

احساس صاحب: د بهيرونو د جوړېدو کوم انقلاب چې زموږ سيمه بلخ کې و د هغه موخه بل څه نه ؛ بلکې ټولنيز ژوند ته د کتاب د خلکو رابلل، يوځای کيناستل او د ټول د انساني ژوند اړتيا دو. موږ پخپله سيمه کې هم دغسې يو حرکت ته اړتيا لېدله. دا تشه داسې وه لکه يو انسان چې کور جوړوي هغه کور کې ځاه نه وي، اوبه ژوند ده او دغه کور کې اوبه ته اړتيا وي دغسې موږ هم خپلې سيمې کې يو مدني حرکت او فرهنګ ته اړ و؛ تر څو وکولی شوو د يو چت لاندې د کتاب او قلم خاوندان راټول کو. داسې يوه لړۍ مو پيل کړه، کامیابه شوه؛ زموږ د غوښتنو، هيلو، ارمانونو او لاسته راوړنو د پوره کېدو تر تمې مو ډېر څه لاسته راوړه. د دغه بهير د يو غړی په توګه دا برياللی کوښښ زما په ژوند کې د ارامي حس دی او دا مې د ژوند تر ټولو هغه ښه کار و.

کتابتونونه هم همداسې يوه مسله وه؛ دلته داسې کېده چې کتابونه به د ګردونو لاندې شو، کتاب ته به لاسرسی ډېر کم و؛ تر ټولو مهم کتاب د ژوند له روان بهير ډېر لرې ګڼل کېده؛ خو دا يوه ضروري مسله ده، چې کتاب بايد د ګردونو له لاندې ايستل شوی، لاسرسی ورته

اسانه، او د هر يو انسان د ژوند مل او ملګرى شوى واى. کتابونه زموږ تاريخ ساتي. انساني ژوند، يوبل ته غاړه وتل، يو بل پېژندل او د افکارو شريکول دا هر څه موږ ته کتاب ښيي. کتابتون هم لکه ښوونځى او پوهنتون مهم ځاى دى. موږ هم همدغه اړتياوو ته په کتو د کتابتون جوړولو اراده وکړه. کومې ورې هيلې چې موږ غوښتل هغې ته ورسېدو. دلته به انسانان بدل شي؛ خو دا بنسټ به نه بدلېږي او د ژوند لپاره به کار کوي.

**شبېه: د خپلو فرهنګي هڅو او لاسته راوړنو په هلکه ووايئ؟**



احساس صاحب: د خپلو فرهنګي هڅو او لاسته راوړنو په هکله ډېر څه نه شم ويلى؛ ځکه لاسته راوړني خو ورته نه شم ويلى هڅې هم په دې مانا چې مثال دا يو داسې کار نه دى، چې ما د کوم معاش په بدل کړى وي زه دې د چا سره مامور وم، رسميات ولرم؛ نو ځکه زه څه ويلى هم نه شم. دده په اړه به خلک څه وايي. دومره پوهېږم چې دا زما ژوند و. داسې يو ځاى چې په لاره تګ، تولنيز دريځ، اخلاق، له نورو سره څنګه غړېدل دا يې راته وښودو او دا لاسته راوړنه نه؛ بلکې زما د ژوند ضرورت و. کله چې زه سا اخلم څنګه ويلى شم، چې تېرو شلو کلونو کې ما دومره ځله سا اخيستې؛ يا هم دومره وخت کې زه دومره پلې ګرځېدلى يم. دا کار ما خپل د زړه لپاره وکړ. زما زړه غوښت داسې يو بهير دې وي، چې ادبيان پکې راټول شي. ما شعر ليکه او دا شعر ما بايد تر نورو رسولى واى، زه شاعر وم ما بايد د نورو هم اورېدلى واى او دا زما ليوالتيا وه.

دلته بهيرونه وشول، ځوانان ورزول شو. د شمال په کچه په تاريخي لحاظ د لومړي ځل لپاره پښتو مجلې ته د چاپ زمينه برابره شوه. د هېواد پالنې حس رامنځته شو؛ تمه دا ده دوې لسيزې تېرې شوي بله او پسې بله لسيزه دې هم تېره شي؛ نوي ځوانان راشي بنسټونه روانه او لرې ونه شلېږي. له شعر شاعرى، کتاب او ادبياتو سره چې د ځوانانو کوم پېژاند شوى نسل په نسل، کور په کور او کورنۍ په کورنۍ ولېږدول شي.

زموږ ستره لاسته راوړنه به دا وي، چې موږ وکولى شو قلم د ټوپک ځايناستى کړو. د طبيعت، انسان او هېواد ځورونې پر ځاى مينه، عاطفه، احساسات په زړونو کې ځاى کړو او په ټوله کې داسې نسل ټولنې ته وښنو چې هوساينه مو په برخه شي.

**شبېه: په عمومي ډول له هېواد څخه د يو شمېر فرهنګي څېرو د وتلو اغېز به په د ادبي او فرهنګي فعاليتونو څه وي؟**

احساس صاحب: د انديښنې ځاى دى دلته هغه ځوانان ووتل، چې د تېر شل کلونو لاسته راوړنه وه. د علم، ژوند او هنر په برخې کې يې ډېر څه زده کړي وو؛ خو متاسفانه اوس وخت او ژوند يې وتل او مسافر کېدو ته اړ کړ. دغه منفي اغېز دې خداى زور نه کړي؛ هيله ده ژر تر ژر يې مخه ونيول شي او مدني حرکتونه دې لا ګړندى شي.

**شبېه:په هېواد کې له سياسي بدلون وروسته زيات شمېر افغانان له هېواد ووتل، ايا تاسو کاري ملګري هم دې ډلې کې راځي او حالات مو فرهنګي چارې څومره اغېزمن کړې؟**

احساس صاحب: ښکاره خبره ده د څېرو او مغزونو وتل خامخا اغېزه لري. کله چې يو ډاکټر له خپل هېواد وځي ناروغان يې د هغه تشه احساسوي، اديبان هم همداسې دي تشه يې په ټولنې کې احساسېږي. بلکل ډېر ځوانان له هېواد وتلي او تللي دي. ځينې پکې زموږ د مرکز تکړه، پاک، په وطن او خلکو يې مېين ځوانان و. هغوى دلته ډېر څه زده کړ، چې بايد بيرته ترې ګټه اخيستل شوى واى. دعا به کوو چې خداى دې دا وضعيت سم، د وطن او د باورونو بيا جوړېدو او د کډرونه بيرته راتګ شاهدان واوسوو.

**شبېه: د هېواد سياسي حالت لا ټکنى دى وړاندوينه هم ستونزمنه ده؛ نو تاسو او ملګري مو راتلونکي ته څه کول غواړئ او څه پلان لرئ؟**

احساس صاحب: د هېواد سیاسي حالت ابهام او ګونګ دی؛ خو خدای دې وکړي چې دا حالات ښه شي. پلان دلته د ژوند دی، ژوند کوو، اونیزې ناستې، ادبیات او ژبه به غني او دغه د مظلوم وګړي ژبې ته به خدمت کوو.

**شبېه: خپلې تېرې شل کلنې تجربې ته په کتو ځوان نسل یا شاعرانو ته مو پیغام څه دی او ایا راتلونکې کې ادبي پرمختګونو ته خوشبیني شته که نه؟**

احساس صاحب: د یو شاعر په توګه به شاعرانو ته دا پیغام ولرم، چې ځان ټولنې ته نږدې کړئ.شاعري د عاطفې نوم، خوږوالی او مینه ده، چې باید وپالل شي. مطالعه وشي، عالمان واوسي؛ ځکه شعر یوازې خیال نه دی شعر له فکرونو راځي، له معلوماتو راځي. راشئ یو بل ولولو، له فکرونو خبر او بهیرونو کې ګډون وکړو. که چېرته موږ شاعران نه یو او دغسې یو تړاو نه لرو؛ نو اړتیا نشته چې موږ دې شعر ولیکو. یوازې شعر ته کیناستل او دغه پیغامونه ژوند نه دی. که په دغه وهم کې ژوند تېر شي؛ نو له مثبت اغېز به یې منفي اغېز لا زیات وي.

ادبي پرمختګ او په ټوله کې ژوند ته نا خوشبینه کېدل دا مانا چې موږ د ژوند هغه حد ته رسېدلي یو، چې نور هیلې نشته او له ژوند ناهیلي شوي یوو؛ خو داسې نه ده په کومه جغرافیه کې چې حتا یو انسان هم ژوندی وی هلته هر ډول پرمختګ ته خوشبیني شته.



**شبېه: سیاست که ادبیات؛ ژوند په کومه برخه کې خوندور دی؟**

احساس صاحب: د یو شاعر په توګه مې چې څنګه ژوند کړی، ژوند په چوکاټ کې ښه وي. بله خبره دا هر چېرته چې انسان خوشحاله وي هلته ژوند ښه دی. زموږ ژوند کې ستونزه دا ده، چې د انسانانو غوښتنې نه شو پیژندلې؛ که د کورنی غړي دي یا د یوې ټولنې خلک موږ داسې فکر کړی هغه څوک چې موږ پرې غږ کولی شو باید زموږ په خوښه ژوند وکړي؛ خو داسې نه ده انسان باید پخپله خوښه ژوند وکړي، دا مهمه نه ده چې ادب دی که سیاست؛ طب دی که انجینیري، مهمه دا ده چې انسان راحت وي؛ کله چې انسان راحت شو پرمختګ ته لاره هوارېږي.

**شبېه: تاسو له نظره د شعر او شاعرۍ له لارې څه ډول افکار خپرېدی شي، چې راتلونکي نسلونو ته پیغام لرونکی وي؟**

احساس صاحب: انسان یو ټولنیز موجود دی، چې له نورو انسانانو پرته ژوند نه شي کولی، اندروني خپل عواطف، د نورو انسانانو عواطف هغه څه دي چې ورسره مخامخ کېدای شي. پیغام له نورو لارو هم رسولی شو؛ ټولنې پیغام، لارې او قانون ته اړتیا لري. شعر یو له ټولو هغه ښه، خوږه او مینه ناکه لاره ده. د شعر پیغام د مینې پیغام دی. دلته چې د مینې خبره کېږي؛ نو هر هغه انساني غلط افکار، چې ورسره وحشت، درد، او ګواښ مل دی له منځه ځي. شعر د ټولنې د سمون لپاره ښه پیغام ورکونکی لاره ده. شعر زموږ تېر ژوند د تاریخ په توګه ساتي او تر ټولو ښه ساتي؛ سروکې او د ملالې ټپه یې ښې بیلګې دي؛ نو شعر د پیغام رسونې روښانه لاره ده او هر هغه شعر چې مینه او ورورولي یې خپره، او نورې ټولې غلطې لارې یې محوې کړې نوی نسل ته یې پیغام لرونکی بللی شو.

**شبېه: د اخري پوښتنې په توګه د دعوت رسنیز مرکز په اړه څه نظر لرئ، دغه مرکز باید نور څه وکړي تر څو افغان ولس او هېواد د خدمت جوګه شي؟**

**احساس صاحب: دعوت رسنیز مرکز سره اشنا یم، مجلې لولم او د نېکمرغي ځای دا ده، چې دا مجله تر ما رارسېږي. ویبسایټ ګورم کله نا کله مې شعرونه او مقالې هم خپرېږي. زه دا وایم چې دغه مرکز کې هیڅ بدلون ته اړتیا نشته؛ بلکې د دغه مرکز غړي او لاره تر ډېره خوندوره ده او دا باید همداسې وساتل شي، دا زما مشوره نه؛ بلکې هیله او غوښتنه.**

**له شاعر او ليکوال ذبيح الله احساس صاحب ښخه نړۍ مننه چې خپل ارزښتمن وخت يې موږ ته راکړ. له خبرو تجربو يې برخمن شولو. احساس صاحب ته د ژوند، بهيرونو او کتابتونو په چارو کې برياوې ژوند يې لکه د شعر لفظونو له رنګينو ډکه شه.**



## د کلام بېلګې:

### غزل

سمندر خو سمندر وي چې خاموش وي
زه به څه خپلې چوپتيا ته دليل وايم
عشق مې خوله باندې لاس ايښی وايي چپ شه
اوس نو ښه نه ده چې تا ته دليل وايم
مړ څراغ په لاس د شپې غېږ کې ولاړ يم
او لګيا يمه هر چا ته دليل وايم
چې به تا باندې مېين شومه خوله ور شوم
ګورې نه ټوله دنيا ته دليل وايم
دواړه لاسه مې ډېوې ته دي نيولي
چې مړه نه کړي دنيا ته دليل وايم

### غزل

موده وروسته ايينې ته ودرېدم
اخر خپلې تماشې ته ودرېدم
هغه ونه باد له بېخه وويستله
چې يې سيورې ته دمې ودرېدم
پښه نيولی دغه ځای کې ځکه شومه
دغه ځای کې به هغې ته ودرېدم
ما له ورځو سره منډې وکړې ډېرې
خو اخر دغه دی شپې ته ودرېدم
ما مجنون په کاڼو وويشت صحرايي شو
خو مې خپله ګل بشرې ته ودرېدم

## غزل

قامونه ويښوي او كتابونه ګرځوي
تيارې دي يو څو كسه څراغونه ګرځوي
د زړونو د ساتنې ټپكه ټوله ورسره ده
سپرلي غونډې سرې دی ګلابونه ګرځوي
يو څوک ورته د مصر زلخيا وريادوي
يو چا پسې يوسف غونډې ګامونه ګرځوي
په ښار كې له دې خپلو ډک لاسونو سره مسته
يو څوک درپسې شاته تش لاسونه ګرځوي
بس جوړ كړې او رنګ يې كړې بدلون ته پكې تم
تصوير پسې دې قام نوي رنګونه ګرځوي

## غزل

**په محبت باندې باور لرم**
**دې ضرورت باندې باور لرم**
**ما هيروی نه شې ته دروغ وايې**
**ستا په عادت باندې باور لرم**
**ملا دوزخ به راته نه يادوې**
**ملا جنت باندې باور لرم**
**دغه لوی غر هم په سر لاره لرې**
**او بل مې نيت باندې باور لرم**
**چېرته چې عشق وي هلته ژوند هم وي**
**دې رفاقت باندې باور لرم**
**ستا د برې ضمانت ځكه كوم**
**پخپل شكست باندې باور لرم**



# هیله هدایي (د رنګونو یوه ملاله)

هیله هدایي د پکتیا ولایت ده، لومړنۍ زده کړې یې په پاکستان کې کړې او له هغه وروسته یې ښوونځی په کابل کې پای ته رسولی. د کانکور د آزموینې له ورکړې وروسته د ۳۱۲ نومرو په اخیستلو سره کابل پوهنتون ته د خپلې خوښې وړ پوهنځي(حقوق او سیاسي علوم) ته بریالۍ شوه او پوهنتون یې د کدر د فیصدي په درلودلو پای ته ورساوه. له ښوونځي څخه نیولې بیا تر پوهنتونه پورې د هیلې ځانګړې مینه له لیکوالي او نقاشي سره وه او له هم







هغه وخته یې خپل پاتې وختونو کې ځان په لیکوالي او نقاشي کې بوخته ساتله. دا چې ښوونځی یې د کابل په یوه وروسته پاتي سیمه کې و؛ نو د هغه وخت د حکومت له لوري د پاملرنې وړ نه ګرځېده، هغه لاسته راوړنې چې هغې د ښوونځي په وخت کې درلودې یا له منځه ولاړې او یا هم تر اوسه د الماری په یوه کونج کې له سترګو پټې پاتې دي. د ښوونځي په دوره کې د افغانستان په جغرافیایي وضعیت پورې تړلې معلومات ډېر کم تر سترګو کېدل او همداسې د زده کوونکو عمومي معلومات د خپل هېواد په هکله ډېر کم و؛ نو یادې اړتیا ته په کتو سره یې د یوه کتاب په لیکلو پیل وکړ؛ ترڅو وکولای شي تر ډېره بریده په افغانستان پورې تړلي موضوعات په هغه کې ځای پر ځای کړي. د څو میاشتو هڅو وروسته یې د یوه کتاب په بنه ټول اړین موضوعات په هغه کتاب کې ځای پر ځای کړل؛ خو د ښوونځي د نه پاملرنې له کبله هغه کتاب تر دې دمه د الماری د یوې پلې ځای نیونکی شو او چاپ ته ونه رسېد.



پوهنتون ته له بریالی کېدو او هغلته د څه نا څه فرصتونو په درلودو سره یې یو ځل بیا لیکوالي او نقاشي ته مخه کړه. له خپلې مسلکي زده کړې سره یو ځای یې د ماشومانو لپاره د لنډو کیسو لیکل پیل کړل؛ څکه هغې خپل هېواد ته د خدمت کولو یوازینۍ لاره همدا موندلې وه؛ ترڅو د مثبتو پیغامونو لرونکې کیسې تر هغوی پورې ور ورسوي او د ماشومانو تنکي فکرونه له کوچنيوالي د روښاندی له ارزښتونو سره آشنا کړي.که موږ په ماشومانو د علم او پوهې پانګونه وکړو نو؛ کولای شو د هېواد د سولې او پرمختګ په برخه کې رغنده رول ولوبوو. د همدې هڅو په لړ کې یې یوه لنډه کیسه "د ځلا خوبونه" چې د هلکانو او نجونو تر منځ یې توپیر بیز چلند نفع کوه په کابل پوهنتون کې د معلوماتو د مرکز له لوري غوره کیسه وپېژندل شوه، چې د جایزې سربېره زر ټوکه په چاپ ورسېده او د ټول افغانستان د لرې پرتو سیمو ماشومانو ته وویشل شوه.

له هغه وروسته یې دوه نور کتابونه له انګلیسي او فارسي ژبې څخه پښتو ته را وژباړل د چاپ تر وروستۍ مرحلې پورې ورسېدل؛ خو په هېواد کې د جګړو او د کتابونو د پلور ټکني بازار ته په کتو سره تر اوسه نا چاپ پاتې دي.



د کرونا د قرنطین په بهیر کې یې ډېره پاملرنه نقاشي ته ور وا وښته. په خپله ټولنه کې د ښځو پر وړاندې د ټولنيزو نابرابریو او د جګړو د بدمرغیو د څرګندولو لپاره نقاشي یې یوه غوره وسیله ګڼله. نقاشي د خلکو د پوهاوي یوه ښه وسله ګڼل کېدای شي؛ څکه هغه ستر مفهومونه او پیغامونه چې خلک یې د خبرو او لیکنو په واسطه نه شي درک کولای، د رنګونو او رسمونو له لارې په ښه توګه پېژندلی شي. یوه جنګ ځپلې ټولنه تر ټولو مخکې له رنګونو سره آشنا کېدو ته اړتیا لري. هغې هم د همدې ښکلي رنګونو له لارې غوښتل د سولې، برابرۍ او سوکالي پیغامونه خپره کړي. د نقاشیو غوره مفهومونو ته په کتو سره د استرالیا موناش پوهنتون په خپله میاشتنۍ کې د هیلې د څلورو نقاشیو انځورونه خپاره کړل؛ ترڅو د زده کړیالانو ترمنځ د افغانانو د هنري اثارو ښودونه او پېژندنه وکړي.

هر انسان باید خپلې ځانګړې وړتیاوې وپېژني او په واسطه یې د خپل هېواد او ټولنې د مثبت بدلون او افکارو په لوړولو کې رغنده رول ولوبوي. لکه څنګه چې لیکلوالي او نقاشي د خلکو د منفي فکرونو په بدلون او د خپل هېواد د سولې او پرمختګ په برخه کې د هیلې دوه ارزښتمنې وسیلې دي.

هیله هدایي ته د لا بریالي ژوند هیله، لاس یې خوځند او ژوند یې د نقاشۍ رنګونو په څېر رنګین شه.





# هیلۍ (لنډه کیسه)

## لیمه ودان

د چپتر پاڼه يې واړوله، له سترګو يې تېره کړه، موسکی شو، له ځانه سره يې وويل:

- نن به سل نمري اخلم.

چای يې غوړپ کړ، يخ پخ و. پاڅېد، په دېګ پسې يې ګاز بند کړ. شمال له کړکۍ وچه پاڼه راننه‌ايسته. د ځوان ذهن ته د بېګاني خوب تصوير راغئ، چې پکې له شنې ونې پاڼه رابېله شوه، ژېړه شوه او پر ځمکه پرېوته. د ټليفون په شرنګېدو د خوب له خياله ووت. ورپورته يې کړ، موسکی شو. د هوکې په تنۍ يې ګوته کېکاږله، په عمر پاخه سړي خبرې کولې ، له جوړ پخيرو وروسته يې وويل:

- زويه! يو څه پيسې مې د خيرو کاکا په لاس درولېږلي، اوس په همدې ګوزاره وکړه، زه به نورې هم له کوم چا پور کړم.
- سمه ده، پلاره د فراغت جشن ته خو به راځئ؟
- هو درځو په خير.

له خبرو وروسته يې له پلاره خدای پاماني واخيسته. ساعت ته يې وکتل:

- اوهو! د ازمويني پيلېدو ته وخت کم پاتې.

ځان يې تيار کړ، د کوټې تر دروازې لاړ، بېرته راستون شو، د کتابونو له شا يې کتابچه راواخيسته. له منځه يې انځور راوايست، ښه شېبه ورته ځير و، په شونډو يې نرۍ موسکا خپره شوه، په وېښتانو کې يې ګوتې تېرې کړې. انځور او کتابچه يې بېرته کېښودل، ووت. په سړک روان و، په خيال کې لاړ، د فراغت جشن يې و، پلار، ترونه، ملګري او دوستان يې راغلي وو، دنده يې پيدا کړې وه، نوی کور او موټر يې اخيستي و، واده يې کړی و...

د کوم چا په غږ د خيال له نړۍ راووت:

- ودرېږه!

چې تر څو يې شاته ورکتل، غبرګې مرمۍ يې په زړه کې ښخې شوې.

***

عمر خوړلی سړی د کار په لور روانېده، اوو لونو ته يې مخ کړ:

- نجونو د قرآن‌شريف هغه پاتې څو سپارې نن تلاوت کړئ، شپې ته به ختم وکړو. ورور مو فارغېږي له خيره.

ښځه تر دروازې ورسره روانه وه، دواړو وياړل چې زوی يې لوړې زده‌کړې بشپړوي. سړي ښځې ته وويل:

- زوی مو په خير فارغېږي، زه به ډېر ډاډېدم هسې نه چې بدي يې تره کړې، سر دی پکې وخوري.


## د دعوت رسنيز مرکز ملاتړ وکړئ

له موږ سره د مرستې همدا وخت دی. هره مرسته، که لږه وي يا ډېره، زموږ رسنيز کارونه او هڅې پياوړې کوي، زموږ راتلونکې ساتي او زموږ د لا ښه خدمت زمينه برابروي. د دعوت رسنيز مرکز سره د لږ تر لږه 10/$ ډالر يا په ډېرې مرستې کولو ملاتړ وکړئ. دا ستاسو يوازې يوه دقيقه وخت نيسي. او هم کولی شئ هره مياشت له موږ سره منظمه مرسته وکړئ.

د دعوت بانکي پته: DNB Bank AC # 0530 2294668

له ناروې بهر د نړيوالو تاديالو حساب:NO15 0530 2294 668

د ويپس شمېره: Vipps: #557320

## Support Dawat Media Center

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you
DNB Bank AC # 0530 2294668
Account for international payments: NO15 0530 2294 668
Vipps: #557320

# د دعوت رسنيز مرکز له خوا چاپ شوي کتابونه

